# کلیله او دمنه



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کلیله او دمنه

ژباړه : د سرخېړنوال الحاج مولوي زين الله منلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پېژندنه:

دکتاب نوم:.............................................................................کلیله او دمنه

ژباړن:.........................................................ښېرنوال الحاج مولوي زین الله منلی

کمپوز او ډیزاین: ...........................................................اسدالله خان امرخېل

خپرندویه:............................................................................ کتاب ښار

چاپ کال:..............................................................................1395

چاپ وار:..............................................................................دریم

چاپ شمېر:...........................................................................1000

©Najib Manalai 2010

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمری او غوايي

دابشليم پاچا بيدپای فيلسوف ته وويل:

– ما اورېدلي دي چې خلک وايي چې درواغجن او چلي انسان په خپلو درواغو او چلونو دوستان سره بېلوي او ددوی دوستي ورانولای شي، تر دې چې يو تر بله سره دښمان شي.

بيدپای فيلسوف وويل:

– هو دا خلک رښتيا وايي او هغه کيسې ډېرې او مشهورې دي چې د درواغجنو او چلناکو وګړو ورانی په کې ښودل شوی دی.

دده خبرې ته د پاچا پام شو او ورته يې وويل:

– له دغو کيسو نه خو يوه کيسه را واوروه چې زما له پاره هم پند او درس شي، ځکه زه هم وېرېږم چې ځينې درواغجن او چليان زما او زما د دوستانو دوستي ورانه او ويجاړه نه کړي.

بيدپای ورته وويل :

– د هندوستان په "دستاوند" ښار کې يو سړی و چې تر ډېره پورې ژوندی و تر څو چې زوړ او ضعيف شو. درې زامن يې درلودل چې هېڅ کسب او کار يې زده نه و چې ځان يې پرې چلولی وای. ده چې خپل زامن وليدل چې خپل مال او شته بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه بې ځایه لګوي، نو را ته‌ول یې کړل او ورته یې وویل چې ای زامنو زما عمـر اوس لړ پاتې دی او نږدی ده چې ومرم ما خو زیار ایسته او ستاسو لپـاره بـه مـې شـته پیـدا کول نو اوس له دې وروسته تاسو په خپل ځان تکیه وکړئ، لـه مـا څخـه تمـه پـرې کړئ او په دې پوه شئ چې هر څوک په ژوند کې درې شـیان غـواړي: غـواړي چـې شتمن او د مال څښتن وي، غواړي چې په خلکو کې د قدر او عـزت خاونـد وي او پـه اخرت کې خدای ته منلی او نژدې وي. خو دا ته‌ول بې زیار او زحمته سړي ته پـه لاس نه ورځي نو ښه دا ده چې سړی په روا او ښو لارو زیار و کاږي ، مال او شته پیدا کـړي نه چې په ته‌ګی، غلا او نورو ناروا لارو یې پیدا کړي. او کله چې څوک مال پیـدا کـړي او ویې نه ساتي او په وده کې یې زیار و نه ګالي مال او شته ببرتـه تـرې ځـي ، تـش لاس پاتې کیږي او بې وزله کیږي.

شتمن سړی خلکو او خدای ته تر هغې نه ګرانیږي چې له خپل مالـه بـې وزلـو ته څه ورنه  کړي او دوستانو ته یې ورنه کړي، اشنایانو ته یې ورنه کـړي او د خیـر پـه نورو کارو کې یې و نه لګوي.

هغه څوک چې مال پیدا کړي او په ځان او نورو یې ونیسي نو هم به پـه خپلـه بدمرغه شي او هم به د خلکو او خدای په نظر کې څه قدر او عزت و نه لري . سـرببره پر دې کېدلای شي چې مال ته یې پېښه وشي او له لاسه یې ووځي: مثلاً غله به یـې یوسي، و به سوځي، غرق به شي او یا به په زلزلو په ځمکه ننوځي.

زامنو چې د خپل پلار خبرې واورېدې نو ویې ویل چې ریښتیا وایـي. پـلار تـه یې وویل چې موږ ستا خبرې واورېدې، نور به داسې نه کوو چې کول مـو او پـر خپـل ځان به تکیه او بسیا یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ د سړي مشر زوی د حلالې او روا روزۍ د پیدا کولو لـه پـاره لـه خپلـو مریانو او خدمتګارانو سره په یوه ګاډۍ کې سپور شو چـې دوو غوایـانو راښـکله . د یـو غوايي نوم برګی او د بل نوم چغر و.

دوي په خپل کار پسي روان وو چې په لار کې په یوه پسته ځمکه کې په ختـو او چکړو ور پېښ شول، د برګي پښې په ختو کې لاړې او چې هر څومره زور يې وکـړ پښې يې له ختو نه را ونه وتلې. خاوند او ملګري يې را کښته شول چې برګی لـه ختـو څخه را وباسي خو را ویې نه ایستلای شو.

یوه خدمتدګار ته يې وویل چې ته دلته د برګي سره اوسه او هر کله چې ځمکه لږه وچه شوله او برګی ترې راوواته نو بیا راپسې راځه! دوئ يې پرېښـودل او مریـانو او خدمتګارانو یو پلو او چغر بل پلو ګاډۍ ځان پسې راښکله. څو ورځې وروسته خـدمتګار په تنګ شو، برګی يې په ځای پرېښوده ، خپل بادار پسې ولاړ. چې په لار کې بادار ته ور ورسېده نو بادار يې ترې پوښتنه وکړه چې برګی دې څه کـړ، ده ورتـه وویـل چـې هغه خو مړ شو.

خاوند چې د برګي له مرګه خبر شو نو ډېر خپه شو. خادم يې د تسلۍ لپاره ورته وویل:

– اې باداره! د خدای قضا او قدر و چې برګی مـړ شـو. او هېڅـوک د خـدای د قضا او قدر نه ځان نه شي ژغورلای. که خدای دده د هلاکت اراده نـه وای کـړې نـو ولی به د کال په دې موسم کې راوتلو او بیا به په دې چکړه او ختنه لار راتللو.

بل خادم وویل:

– ای باداره! رښتیا وایی او ماته د هغه سړي کیسه را یـادوي چـې لـه قـدر نـه تښتېده او بیا هم چې څه خدای ورته مقرر کړي وو وروړسېدل.

بادار وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– برګی په ما باندې ډېر ګران و، وړوکی خوسکی مې لوی کړی و، ډېر قوي او کلک غوایي و او ډېر پسې خپه یم خو څه به وکړم؟ اوس د تسلۍ لـه پـاره راتـه هغـه کیسه وکړه چې لږ ساعت مو تېر شي.

خادم وویل:

– وایي یو سړی په یوه لاره روان و چې په دغه لار ډېر ځناور وو. چـې څـه لار یې ووهله نو یو زورور لېوه یې ولیده ، ووېرېده چـې کـه دا لېـوه را سـره مخـامخ شـو خوري مې نو چاپېره یې وکتل او د یو سیند بلې خواته یې یو کلی ولیده. له ځـان سـره یې وویل چې دغه کلي ته به ور پورې وځم او د دې کلي د خلکو په مرسـته بـه د دې لېوه څخه ځان خلاص کړم. خو کله چې سیند ته ورسېده پول یې ورباندې ونه مونـده. حیران شو ، وېره یې نوره هم زیاته شوله. کله چې لېوه ورته را نـژدې شـو، ځـان یـې اوبو ته ور واچاوه د سیند له ژوروالي نه هم خبر نه و، لامبو یې هم زده نـه وه، نـو پـه زوره یې چیغې کړې:

– آه! آه! ومې ژغورئ چې ډوبېږم! ومې ژغـورئ! ومـې ژغـورئ چـې ډوبېـږم! ډوبېږم!

د سیند په غاړه دوه سړي په لاره تېرېدل، چې دده چیغې او فریاد یـې واورېـده را منډې یې کړلې ځانونه یې اوبوته ور واچول، ځان یې ورپسې ورورساوه ، له سیند نـه یې را وویست او تر هغې ورسره وو چې په سد شو دواړو نه یې تشکر وکړ نـو بیـا یـې وکتل د سیند په غاړه یوه کوټنۍ په نظر ورغله. ځان سره یې وویل: چې دغـه کـوټنۍ ته به ورشم او شپه به په کې تېره کړم او سبا به ځم. د لېوه او ډوبېدلو نه خـو ښـه دی خلاص شوم. چې کوټنۍ ته ورسېده په یو سوري کې یې دننه کوټنۍ ته وکتل ګـوري داړه ماران دي ، څوک سوداګر یې شکولی دی او مال یې ترې اخستی دی، اوس یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل منځ کې سره وېشي. ووېرېده چې که کوټنۍ ته ورننوځي نو هغه څه به ورسره وکړي چې له سوداګر سره یې کړي دي ، د ګوتو په څوکو شو او غلی غلی وتښتېده.

کلي ته سترې ستومانه ورسېده او له تللو نه ولوېده. د دمې جوړولو له پاره یې دېوال ته تکیه وکړه او ویې ویل چې ښه ده، غله راباندې ړانده شول. که یې لیدلی وای نو له لېوه او ډوبېدلو نه خو وژغورل شولم خو دوی بې وژلو نه پرېښودلم. بیا په ډوب خوب ویده شو. دېوال ورباندې را ونړېده او دستي مړ شو.

نو بادار وویل:

– رښتیا هم څه چې سړي ته پېښه وي هغه ورته رسېږي او ځان ترې نشي ژغورلای.

بیدپای چې د کیسې دې ځای ته ورسېده نو دابشلیم ورته په خوښۍ وکتل او ویې ویل:

– ای هوښیاره فیلسوفه! ستا هره خبره ګټوره ده، پوه او نا پوه ترې ګټه اخستلای شي. زه ستا په ملګرتیا ډېر خوښ یم او ستا د فضل او عقل نمانځنه کوم. لکه څرنګه چې خادم وویل برګی رښتیا مړ شوی و؟

بیدپای ځواب ورکړ:

کله چې ختېه لړه وچه او کلکه شوله نو برګي ترې خپلې پښې راوکښلې او ولاړ. ځمکه تکه شنه وه، واښه ډېر وو. هر ځای به آزاد ګرځېده او واښه بې یې خوړل . ښه څرب او غوښن شو او په خپل زور او قوت پوه شو.

برګی په رنباړو سر شو او مستي به یې کوله. کله به یې یو ځای ته ښکرونه اړمول او کله بل ځای ته او هر هر ځای کې به یې چې خوښه شوله ګرځېده به.

دی ځای ته نژدې یو ځنګل و چې ډېر ځناور او نور وحشي حیوانات پکې وو. یو زمری و چې د ډېر زور او قوت خاوند و او ددې ځناورو او ځنګل پاچاهي د ده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زمري د غوايي رمباړه واورېدله ډېر ووېرېده ځکه ده نه کله داسې اواز اورېدلی و او نه يې کله غوايي ليدلی و. ګومان يې و کړ چې دا د رمباړو خاوند خو به د ډېر قوت او زړوتيا څښتن وي. نو له همدې ورځې څخه په خپله کوټه کې له وېرې غلی کښېناست او په نورو ځناورو يې مقرره کړه چې د ده مړی ده ته همدلته راوړي.

له هغو ځناورو څخه چې د زمري په دروازه کې د خدمت له پاره ولاړ وو دوه ګيدړان ورونه وو چې د يوه نوم کليله او د بل دمنه و. دواړه د عقل او پوهې خاوندان وو، کليله د ښه خوی خاوند و خو دمنه ډېر مکار او کينه کښ و.

کله چې په کور کې د زمري اوسېدل اوږده شول نو دمنه خپل ورور ته وويل :

– زه دې زمري ته حيران يم چې څرنګه يې ځان په کور کې بند کړی او زموږ لاس ته ناست دی. ده به موږ ته مړی راکوله اوس موږ ته ګوري.

کليله ورته وويل :

– ته يو وړوکی او بې وزله خادم يې. ستا يې د لويانو په کارو کې څه؟ ته خبر نه يې چې څوک چې د لويانو په کارونو کې ګوتې وهي د هغه شادي کانه به وربانـدې وشي چې د نجار په کار کې يې ځان ورګډ کړ؟

دمنه خپل ورور ته وويل :

– ته خو تل داسې کيسې کوې چې د لويې او پرمختګ مخه نيسي. خو ښه دا ده چې زړه دې يخ شي نو ووايه چې د شادي کيسه څرنګه وه.

کليله وويل:

– زه د خپل ځان د خوښی له پاره دا کيسه تا ته نه کوم. د دې له پاره يې درته کوم چې ته ترې پند واخلې. شادي يو نجار وليده چې يوه ګرګه يې اره کوله. د دې له پاره چې د اره کولو کار اسان شي نو په ګرګه کې يې يوه پانه ټک وهله. د شادي د نجار کار خوښ شو. چې نجار کور ته ولاړ دا ورپاڅېده، ټوپ يې کړ، پر ګرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېناست او په اره کولو یې پیل وکړ. دی لا په همدې کار بوخت و چې لکۍ یې د لرګي په چاود کې ننه وتله او د لرګي نه پانه وختله. شادي کلک له لکۍ په چاود کې ونښت، ډېرې چیغې یې و کړې تر څو چې بې سده شو. نجار چې له کوره راغی امسا یې راواخیسته او شادي یې کلک کلک وواهه. دا کیسه مې د دې لـه پـاره درواورولـه چې ته د لویانو په کار کې د ځان له وراچولو نه وېره وکړې. زه او ته د پاچا له نزدیکانو څخه نه یو چې پوښتنه ترې وکړو یا هغه له موږ سره په کوم کار کې مشوره وکړي. زه او ته بېچاره او بېوزله خادمان یو.

دمنه وویل:

– ما له پوهانو اورېدلي چې تر څو چې سړی رېړونه و نه زغمي تـر هغـې خپلـو هیلو ته نه رسېږي او تر څو چې ځان هلاک ته ورنه کړي تر هغو د خپلو مقصدونو پـه لاس ته راوړلو نه بریالی کېږي. ما ته یوه ورځ ژوند چې په قدر او عـزت وي تـر ټـول عمر ژونده ښه ښکاري چې په خوارۍ او بې عزتی تېرېږي. زه هره ربړه پر ځـان مـنم خو دا نه منم چې ټول عمر د پاچا په در وازه کې خوار او زار ولاړیم.

کلیله په داسې حال کې چې د ده د فکر له سمولو نه نهېلی و، ورته وویل:

– ورځه، په مخه دې ښه، بریالی اوسې.

دمنه زمري ته ورغی او سلام یې واچاوه. زمری ناست و ملګرو ته یې وویل:

دا څوک دی؟ او زما په رعیت کې څه کاره دی؟

هغوئ ورته وویل چې ستا خادم دمنه د ګیدړ خان زوی دی او ستاسو په دروازه کې خادم دی.

زمري وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ښه راغلی دمنه! پلار دی خدای وبخښه زما له ډېرو نژدی ملګرو او مخلصانو څخه و، راځه، څه اړه لرې چې درته پوره یې کړم؟ ځکه چې ته خو دې د پلار د دوستۍ له کبله پر ما حق لرې.

دمنه وویل:

– سرلوړی اوسی. زه راغلم چې ځان در وښیم چې ستا په دروازه کې یو خادم یم او تل خدمت ته تیار ولاړ یم. ځکه چې د پاچاهانو په دروازو کې ځینې پېښې کېږي چې وړو ته په کې هم لکه د لویو اړه پېښېږي . هر څه ګټه او فایده لري تر دې چې یو پرېوتی خلی هم د اوربلولو لپاره په کار راځي.

کله چې زمري د دمنه خبرې ونغوړلی د ده عقل او ژبې ته ډېر په تعجب شو ، پوه شو چې دی به په خپله هوښیارۍ او رایه ګټه را واړوي نو ورسره ناستو ملګرو ته یې وویل:

– هوښیار سړی په عقل او فکر پورته کېږي. هر څومره چې په خلکو کې پټېږي لکه د شمعې لمبې یې پورته کېږي. لکه شمع چې سړی ښکته ټیټوي د هغې لمبه پورته کېږي. دا دمنه د نورو خادمانو سره په دروازه کې ولاړ و او د خلکو په نظر کې لکه د نورو خادمانو غوندې جاهل ښکارېده خو اوس یې له خبرو عقل او زیرکي ښکاره شوه نو زموږ له خوا دی د ډېرې نمانځنې وړ دی.

دمنه زمري ته را وړاندې شو او پښې یې ورښکل کړې او ویې ویل:

– نېکمرغه، سرلوړی او نمانځلی اوسې. پاچاهان هغه څوک ځان ته را نږدې کوي چې ګټه او اخلاص یې په کې لیدلی وي. او هغه څوک چې پاچا ته نږدې وي ښایي چې هېڅکله د پاچا په خدمت کې خپل وس او توان ونه سپموي. اوس خو تا خپله خوښې له مانه ښکاره کړه نو پر ما هم لازمه ده چې ستا په خدمت کې ځان ستړی او قربان کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري وويل:

– د پاچا له لويو او سترو خطاګانو او عېبونو څخه دا دي چې پوهـان لـه ځانـه ليرې کا او ناپوهان ځان ته را نژدی کاندي ځکه چې په دې ډول يې پاچاهي له منځه ځي ، ورانېږي او کار ورنه پاتې کېږي. او، دمنه، تا خو خپـل فضـل، اخـلاص او عقـل راوښوده نو زه هيله کوم چې له دې وروسته به راځې او زموږ په کارو کې به مـوږ سـره مشوره کوی.

دمنه ډېر خوشاله شو ، خپل ورور ته وروګرزېده او څه چې د ده او پاچا پـه مـنځ کې تېر شوي وو له ټولو نه يې خبر کړ ، ورته يې وويل:

– اوس پوه شوې چې زه په هغه څه کې چې ځان ته مې غوښتل په حقـه وم؟! او پوه شوې چې موږ ډير سپک او ذليل ژوند تېر کړی دی چې يوه ورځ هم پـه کـې د تېرولو نه وه؟!

نو کليله ورته وويل:

– تا خو ځان تر پاچا وررساوه او د پاچا مخ دې ځان تـه راواړه خـو سـره ددې هم زه پر تا وېرېږم ځکه چې د پاچا نژديکت ډېر خطرونه لري. پوهانو پاچا د جګ غره سره مشابه کړی دی چې ورختل سخت وي او په سر باندې يې مېـوې، ښـکلې ونــې، قيمتي تيږې او ملغلرې وي خو بيا هم په کې د ځيروونکو ځناورو ځای وي، نو ورختـل ګران او اوسېدل په کې لا ګران وي.

زمری له دمنه څخه ډېر خوښ شو او ورځ په ورځ به يې ځان تـه نـژدې کـاوه. يوه ورځ دمنه زمري ته ورغی ، هېڅوک ورسره نه وو نو ورته يې وويل:

– زه دې ګورم چې دا ډېره موده دې ځان په کور کې بند کړی دی تر دې چې ضعيف او خوار شوی يې دا ولی، او په څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا له دې چې زمری دمنه ته ځواب ورکړي غوايي رمباړې کړلې . زمري لـه ويرې سره ورېږدېده او چوپ شو . ويره يې په مخ کې ښکاره شوه، نو د زمـري پـه زړه کې چې څه وو دمنه، په خپله پوهه، پر ټولو پوه شو او ورته يې وويل :

– باداره ته د دغه اواز له خاوند نه ويرېږی؟

زمري وويل :

– هو، دا ډېره مـوده کېـږي چـې دا ډاروونکـی اواز اورم او زړه مـې لـه ويـرې رپېږي. ځکه ما ګومان کاوه چې له ما څخه به بل قوي او زړور ځناور نه وي خـو چـې اوس دا آواز اورم نو خيال کوم چې د اواز خاوند به د غره په شان لوي او قوي وي.

دمنه وويل:

– باداره، دا ګومان دې په حقه نه دی، داسې نـه ده چـې هـر اواز د خاونـد پـه قوت دلالت کوي. يو ګيدړ و د يو ډول آواز يې واورېده چې په ونه کې ځوړند و کله بـه چې ونه باد ښوروله نو لښتې به يې په ډول لګېدلې او آواز به يې پورته کېده.

ګيدړ ګومان وکړ چې دا آواز خو د يو لوی تيار غوښن جسم دی. ورغـی پـه دې هيله چې اوس به پر زړه پورې خوراک واوړي. خو کله يې چې ورټوپ کـړ او پـه ډېـر ربړ يې ډول څيرې کړ ګوري چې هيڅ نشته نو په ډېر درد يې ډول تـه وکتـل او ويـې ويل: ډير ځله بې ګټې او بې نفعې شيان لوړ آواز لري او غټ ښېتي وي. باداره دا کيسـه مې درته ددې له پاره وکړه چې که چېرته د آواز خاوند وګورو نو لکـه څرنګـه چـې تـا ګڼلی دی دومره چندان شی نه دی. او که دې خوښه وي نو زه به ورشم او له حقيقـت نه به يې ځان خبر کړم او ډېر ژر به بېرته راشم.

زمري ورسره ومنله ، د تللو اجازه يې ورکړله چې ځان خبر کړي چې خبره څـه ده او د آواز خاوند څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دمنه ولاړ، نو زمري له ځان سره فکر وکړ او په زړه کې د دمنه په لېږلو پښېمانه شو چې ښه مي ونه کړل چې دمنه مې ولېږه؛ ځکه چې څه باور پرې په کار دی او څوک ويلای شي چې ما سره به ټګي او خيانت نه کوي ځکه چې ډېره موده ظلم مې وربانديې کړی دی چې د نورو خادمانو سره مې په خواره او ذليله وظيفه مقرر کړی و. کېدلای شي چې د دغه ظلم له کبله يې ما سره کينه وي او زما د دښمن سره لاس يو کړي ، يا مې عيبونه او بې زړتوب ورته ووايي او يا ورته له مانه قوي ښکاره شي او ورسره هملته پاتې شي.

زمری حيران ولاړ و او رېږدېده چې د وړاندې يې وليده چې دمنه را روان دی نو خوشاله شو او د زړه سودا يې ووتله.

دمنه راغی ، زمري ورته هر کلی ووايه او ورته ويې ويل:

– څه دې وکړل او څه دې وليدل؟

دمنه وويل :

– د آواز خاوند خو غوايي و.

زمري وويل:

– څومره قوت او زور يې درلود؟

دمنه وويل:

– نه زور لري او نه قوت زه ورنژدې شوم خبرې مې ورسره وکړې او هېڅ ترې نه وېرېدم او نه په کې د وېرې او ډار څه وو.

زمري وويل:

– البته چې هغه خپل زور او قوت تاته ونه ښوده ځکه چې ته يې کم په نظر ورغلی يې که يې قوي په نظر ورغلی وای نو بيا به دې يې زور ليدلی وای. دده مثال

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه باد داسې دي چې په وړو وښو او بوټو باندې ښوی تېرېږي خو چې لویو ونو ته ورشي نو بیا خپل زور ښکاره کړي او لوي منډان په کې مات کړي.

دمنه وویل:

– نه باداره دا واښه خور غوايي دومره نه دي لکه چې ستا په خیال درغلی دی او که غواړې چې درته يې راولم چې اخلاص من او خدمتګار دی شي نو اوس يې فوراً درته راولم.

زمري وویل:

– همدغه غواړم مهرباني وکړه او ژر کوه.

دمنه په ډېر غرور او کبر غوايي ته ورغی او ورته ویې ویل :

– ای غوايي زما بادار خو تاته ډېر په غصه دی ځکه چې ته د ده په ملک کې بې د ده له اجازې اوسې. نو زه يې درپسې رالېږلی یم چې ورشې او ما سره يې وعده کړې ده چې که چېرته تاسره راغی نو زه ورته څه نه وایم.

غوايي په ډېر غرور ګیدړ ته وکتل او ورته يې وویل:

– بادار دې څوک دی چې ته يې دلته رالېږلی يې؟ چېرته اوسي، او له مانه څه غواړي؟

دمنه وویل:

– د ځیروونکو ځناورو پاچا دی ، په دې ځنګل کې اوسي او د ځناورو او زمریانو لوی لښکر لري، رعیت، خدمتګاران او اتباع لري . دلته چې څه کېږي د ده په اجازه کېږي. زه هم د ده یو وړوکی خدمتګار او عسکر یم.

غوايي چې له دمنه نه د زمري نوم واورېده نو سره ورپېده او زېړ شو. دنیا وربانديې تنګه شوه، له ځانه سره يې وویل: ای برګیه! چې د ختو او چکړو نه خلاص شوې نو مرګ دې راغی، اوس څه وکړم؟ وتښتم که چېرته یو انسان راباندې پېښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې ومي نیسي او د ځناورو له شره مې خلاص کړي. انسان به رابانـدې یېـوې او ځپر کوي، دا خو له مرګ نه اسان دي. چېرته یو ځای کې پټ شم که څـه وکـړم؟ آه! آه! دا ټول ماته ګټه نه شي کولای او نه مې له زمري نـه خلاصـولای شـي. غوښـه او وازده به مې د زمري او د ده د ملګرو خوراک شي؟

وروسته له چورته برګي خپل ډار پټ کړ او ګیدړ ته یې وویل:

– ومې منله چې زمری زورور دی او ته یـې استازی یـې چـې ماپسـې یـې را استولی یې. خو له تا نه دا خبره هېره ده چې پوهان وایـي چـې: سـړی دی پـه خپلـه خوښه ځان په هلاکت کې نه اچوي؟ زه واښه خورم او تاسو غوښې خورئ ، څرنګـه زه تاسره ولاړ شم او څوک به زما ضمانت وکړي چې زه به روغ بېرته دلتـه راشـم؟ ځکـه چې زما غوښه خو ستاسو په زړه پورې مړی ده، که زه زمري ته ورغلم نـو مـردم. خـو ښه داده چې همدلته پاتې شم او خپل ځان وساتم او که څـوک رانـژدې کېـږي هغـه سره به جنګ وکړم، ځکه څوک چې ځان نه ساتي خیر پکې نه شته.

دمنه وویل:

– ای غوایي، ته نه غواړې چې په ځناورو کې ملګری او دوست پیدا کـړې؟ مـا خپل ګران ملګری وګڼه ځکه زما ستا په مرګ کې څه ګټه ده؟ او لکه تـه چـې وایـې که زمري دې مړ کړې نو ستا غوښه او هډوکې ما پورې نه رارسېږي، ځکه چـې قـوي ځناور زما غوندې ځناور هیڅ نه پرېږدي. که زه پوه شم چـې زمـری سـتا د وژلـو اراده لري نو زه به دې د خلاصولو چاره هم وکړم. ته مه خپـه کېـږه او زړه دې جمـع کـړه. ځکه چې خپل فکر خراب کړې او ډار وکړې نژدې ده چې په هغه شر کې به ولـوېږې چې ته ترې ځان ژغورې.

برګي د دمنه خبره واورېده او ځواب یې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زه خو درسره نه ځم ورشه بادار دې خبر کړه چې که يې خوښه وي دلته دې راشي. زه خو خپل ځان هرو مرو ساتم ځکه چې خدایؑ ماته ښکرونه د ځان ساتنې له پاره راکړي دي او همدا وخت د ځان ساتنې دی.

کله چې دمنه پوه شو چې تهديد او ډارولو خو څه کار ورنه کړ نو په چل او مکر يې لاس پورې کړ او ويې ويل:

– ته ولې دومره کينه کوې؟ ولې دا خراب فکرونه کوې؟ زما بادار غواړي چې ته يې په رعيت کې وشمېرل شې او ستا قدر عزت وکړي. که ته له ما سره ولاړ شې او د هغه اطاعت وکړې نو بيا به د هغه سره په ډېر قدر او نمانځنه ژوند کوې. خو که سرتمبگي دې وکړه او له تللو نه ډډه وکړې نو زمری خو تاته نه راځي، نور زمريان، پړانگان لېوان او کاږه به درپسې راولېږي او درنه به تاو شي بيا به نه پوهېږې چې ځرنگه خپل ځان وساتې، د تېښتې لار به هم درنه ورکه شي.

وروسته له فکر کولو نه برگي وويل:

– تاسو خو زما غوښې او وازدې پسې ياست او غواړئ چې ما وخورئ نو که زه درسره ولاړ شم څوک به زما ضمانت وکړي چې زمری راته څه ونه وايي او مخکې له مخکې نه به مې لېوان اوکاږه و نه نيسي او زمري ته به ونه رسېږم؟

دمنه په زړه کې خوشاله شو ځان يې برگې ته غټ کړ او ورته يې وويل چې: زه ستا د سر سلامتۍ ضمانت کوم او وعده درکوم چې د زمري سره به په ډېر قدر او عزت اوسېږې.

برگي او دمنه لا دلته سره خبرې کولې او زمري په خپل ځای کې له ډاره رپېده. کله به يې په زړه کې ويل چې څه دمنه خو يو امين او مخلص شخص دی نو مابه نه غولوي او ټگي به راسره نه کوي او کله به يې ويل چې: گيدړان ډېر ټگان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکرجن دي او دمنه هم ګیدړ دی، نو کېدای شي چې د غوايي سره لاس یـو کـړي او زما په راز او ضعف باندې یې خبر کړي او را پسې په جنګ راشي او تخت رانه ونیسي.

زمری لا په دې فکر کې و چې له ورایه یې دمنه ولیده چې راځي چې یـو سـور رنګی غټ حېوان ورسره دی او لوی لوی ښکرونه لري خو په عاجزئ او وېـره ورسـره را روان دی او پښې ځان پسې را کاږي. نو پوه شو چې دا خو غـوايي دی او ګیـدړ یـې زړه له ډاره ډک کړی دی، نو په خپـل ځـای آرام کښېناسـته او لکـه چـې پاچاهـان د ملاقات کوونکو په مخکې سره ځان وېږسوي ده هم ځان ډېر غټ ښوده او پـه غـرور ناست وه.

لومړی دمنه راغی او پاچاته یې ځمکه ښکل کړه او بیا یې برګي تـه د راننوتلـو اجازه واخستله. نو دمنه بېرته ولاړ چې برګي ته د پاچا د حضور آداب وروښيي.

غوايي راغی او خوله یې د پاچا په مخکې په خاورو کې ښـخه کـړه او ښـکرونه به یې په خاورو ننه ایستل او تر هغه په همدې حال و چې تر څو ورته پاچا د سر پورته کولو اجازه ورکړه. نو را پاڅېده او عاجز ودرېده نه یې خبرې کولې او نه خوځېده.

نو پاچا وغوښتل چې ځان سره یې زړور او بلد کـړي ، ورورانـدې شـو او ورتـه ويې ويل چې څرنګه راغلی یې نو برګي ورته خپله کیسه وکړه. د زمـري زړه خوشـاله شو او ورته یې وويل:

– مه خپه کېږه پس له دې ته زما له نزدیکانو څخه شوې ځکه چې ته هوښـیار ادبناک او حیاناک یې او هوښیاران وايي چې: هوښیاران او ادبناک خلـک د نزدیکـت او نمانځنې حق لري ځکه له دوی څخه تل ښه اوربدل کېږي.

غوايي په دې خبره خوښ شو او بیا یې د احترام له پاره ښکرونه ورته په خـاورو ښخ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې ورځې تېرېدلې او برګی به زمري ته ته او راته ، په کارونو کې به یې ورسره مشوره او مصلحت کاوه. چې ورځ به تېرېدله د برګي قدر زیاتېده تر څو چې له ټولو وحوشو څخه زمري ته نژدې شو.

کله چې دمنه د برګي قدر او منزلت له زمري سره ولیده نو قهر او غصه ورغله او خپل ورور کلیله ته ورغی او وویې ویل:

– اې وروره زه څومره بې عقل او بې فکره وم؟ د زمري په نفع او ګټه کې مې کوشش وکړ او هغه ویره چې د ده په زړه له غوایي نه ناسته وه ما وایستله او غوایي مې ورته راوسته اوس یې غوایي په زړه کې ځای نیولی دی ، زه یې پر ځای پرېښودم او هېر یې کړم.

نو کلیله ورته وویل:

– هو تا ځان او نورو ټولو ځناورو ته تاوان ورواړاوه او زه ګومان نه کوم چې څه درنه وران شوي بېرته به یې سم کړې ځکه چې غوایي اوس د زمري په زړه کې ځای نیولی دی او بل چاته یې په کې ځای نه دی پرې ایښی. تر دې چې پاچا د ده په حق کې یوه خبره هم نشي اورېدلای، که څه هم رښتا خبره وي، نو ستا دروغ به څرنګه د ده په حق کې واوري او ستا خبره به رښتا وګڼي او که رښتا ووایم نو زمری مجبور دی چې غوایي ورته له موږ نورو حیواناتو نه ګران وي ځکه له موږ ټولو نه پوه او هوښیار دی او اخلاص یې زمري سره ډېر دی. موږ رښتیا غوایي سره کینه لرو خو دا مو هېره کړې ده چې له کومې ورځې چې غوایي راغلی دی د پاچا ټول کارونه ښه شوي دي او چه د پاچا کارونه ښه شي نو د رعیت کارونه هم ښه کېږي او که پاچا خراب شي او ظلم وکړي نو په ښارونو کې ورانی او فساد پیښېږي او رعیت ضایع کېږي او بربادېږي. نو زمری او غوایي پرېږده او په منځ کې فتنه او فساد مه غورځوه.

دمنه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زه تاته تعجب کوم ای کلیله چې ته دومره د خپل ځان په سپکه او ذلت راضي یې! ته خوښ یې چې یو واښه خور پاچاته له موږ نه نژدې وي؟

– ته به پر غوايي څه وکړې، ای دمنه؟ په داسې حال چې هغه د قوت او پوهې خاوند دی او ستا بې له مکر او حیلې نه نور څه شته؟ پرېږده د خلکو په کارو کې کار مه لره.

– تا رښتیا وویل ای کلیله چې زه بې له مکر او چل نه نور څه نه لرم خو هوښیار سړی کولای شي چې پر قوي خلکو باندې په خپله پوهه غالب شي.

خلک کیسه کوي چې یو کارغه و چې د یوې ونې په منډانو کې یې ځان ته ځاله جوړه کړې وه کله به یې چې بچې وایستل او لږ به غټ شول نو یو تور مار به راغی او د ده بچې به یې تېر کړل. نو د کارغه زړه ورته تنګ شو او غوښتل یې چې یوه چاره یې وکړي نو د مصلحت لپاره خپل دوست ګیدړ ته راغي ورته یې وویل چې ما قصد کړی دی چې دغه مار پسې ورشم او چې ویده وي سترګې یې په ټونګه ووهم چې ړندې شي او نور زما ځاله ونه ګوري ، له لوږې مړ شي! ملګري ګیدړ ورته وویل چې دا فکر خو دې ښکاره غلط او بې ځایه دی ځکه چې ته پخپله خپل ځان هلاکت ته وړاندې کوي ته به پخوا له هغې چې خپل مطلب ته ورسېږې هلاک شې او ستا کار به لکه د هغه ماهي خور شي چې د چنګاښ د وژلو اراده یې کړې وه او ځان یې په خپله وواژه.

نو کارغه وویل چې: تشکر چې پوه دې کړلم د هغه ماهیخور کیسه څرنګه وه.

ګیدړ وویل چې د ماهیخور کور د یوې بحیرې په غاړه و چې ډېر ماهیان پکې و او ځاله به یې ددې بحیرې د غاړې په ونو کې اچوله . چې وړی کېده به خپله غذا او خوراک به یې له ماهیانو څخه برابرول. خو کله چې زوړ او ضعیف شو او د ماهیانو ښکار یې نه شو کولای نو وږی او خپه شو . یوه ورځ ورباندې چنګاښ چې په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهیره کې اوسېده تېرېده نو کله چې یې غمجن ولیده پوښتنه یې ترې وکړه چې ولې غمګین یې؟ ماهیخور ورته وویل چې څرنګه غمګین نه شم. ما به دلته تل ماهیان خوړل او ښه ژوند مې درلوده. او نن مې دوه تنه ښکاریان ولیدل چې په دغه لار تېرېدل او یوه بل ته یې ویل: دا بحیره ډېر ماهیان لري راځه چې څه ماهیان چې په دې بحیره کې دي چې دا خو ښکار کړو. نو هغه بل ځواب ورکړ چې هو رېښتیا دا بحیره خو ډیر ماهیان لري خو هغه لومړی بحیره کې له دېنه ډېر ماهیان وو او اوبه یې ژر وچېدلې راځه چې اول هغه ونیسو او بیا به دا ونیسو نو زه په دې خپه یم چې که دا ښکاریان راشي او ټول ماهیان ونیسي نو ماته خو هېڅ نه پاتې کېږي ځکه چې ددوي جال واړه او غټ ټول ماهیان نیسي او بېرته څه نه پرېږدي.

چنګاښ دا کیسه واورېده او ماهیان یې ورباندې خبر کړل.

ماهیان راغلل چې د ماهیخور سره د ځان په خلاصي کې مشوره وکړي چې څرنګه به له ښکاریانو خلاص شي. ماهیانو ماهیخور ته وویل چې: موږ راغلي یو چې تا سره سلا مشوره وکړو ځکه چې د ښکاریانو زور هم موږ ته راځي او هم تاته او کله چې مصیبت او غم دواړه دښمانو ته یو برابر رسېږي نو لازم دي چې لاس سره یو کړي او د خلاصی لار پیدا کړي. نو ته په هغې کې چې له ښکاریانو څخه دې اورېدلي دي څه وایې ؟

ماهیخور حیران پاتې شو، سره ولړزېده او ویې ویل چې زه ګومان نه کوم چې موږ به ګوندې له دوی او د دوي له جاله څخه ځان وژغورلای شو. ماته یوه بله نږدې بحیره مالومه ده چې ونو اودورمو پټه کړې ده ، ښکاریانو یې لاره نه ده لیدلې نو که تاسو هلته راشئ په امن او سلامتي به هلته ژوند وکړئ.

ماهیانو ورته وویل چې: دا خدمت خو پرته له تا بل څوک نه شي کولای، لطف وکړه او موږ له دې ځایه هلته یوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهیخور دوی ته وویل چې که څه هم دا کار خو ډیر ګران دی خو بیا هم لـه دې کبله چې تاسو سره مینه لرم بایـد دا تکلیـف وزغمـم او تاسـو لـه دې بـلا څخـه خلاص کړم نو هره ورځ به یې یو یا دوه ماهیان وړل او یو نژدې غره ته به ورته هلتـه به کښیناسته او وبه یې خوړل. په دې کې ډېره موده تېره شوه او د ده پـه چـل څـوک پوه نه شول تر دې چې نژدې وه چې د بحیري ماهیان خلاص شوي وای.

نو یوه ورځ چنګاښ راغی او ورته یې وویل چې: ملګري مي ټول ولاړل زه نـور ژوند دلته نه غواړم مهرباني وکړه ما هم خپلو ملګرو ته وروله.

ماهیخور د ده ومنله ، خوشاله شو ویې ویل چې ښه خوندوره خوراکـه یـې پیـدا کړه او چنګاښ یې غره ته والوزاوه . کله چې هغـه ځـای تـه چـې مـاهیخور پـه کـې ماهیان خوړلي وو ورنژدې شول نو چنګاښ د ماهیخور د خوړلو ماهیانو هډوکي سر پـه سر ولیدل او د ده په نیت پوه شو نو سمدلاسه یې له غاړې تاو شو او مړ یې کړ.

بیا ګیدړ کارغه ته وویل چې: دا کیسه مي درته د دې له پاره وکړه چـې چلیـان او مکرجن کله کله په خپله په خپل مکر وژل کېږي او مري خو زه بـه درتـه یـو چـل وښیم که دې له لاسه وشو نو د مار له شره به خلاص شې.

کارغه وویل چې: زه خو همدا د مصلحت لپاره درتـه راغلـی یـم نـو اوس چـل راوښیه چې هغه څه دی؟

– زه وایم چې لاړ شه د خلکو کورو ته وروالوزه او ګوره که څه دې ومونډل نـو را تښتوه یې او د مار په سوري یې وراچوه.

کارغه په خپله پوهه د ګیدړ په مطلب پوه شو او دستي والوته او په یو لـور او بل به تېرېده تر څو چې یوه نجلۍ یې ولیدله چې د سرو غاړکۍ یې له غـاړې خلاصـه کړې ده او په خوا کې یې ایښې ده ، خپل سرمینځې. کارغه په غاړه کۍ ورغوتـه شـو او د سترګو په رپ کې یې وتښتوله. نجلۍ چیغې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– هلئ، غاړه کۍ مې کارغه وتښتوله.

خلکو د دې چيغې واورېدې او کارغه پسې يې منډې کړې. کارغه په هـوا روان و، غاړه کۍ يې په پنجو کې نيولې وه. دی مخکې او خلک ورپسې وو. تـر څـو چـې د مار سوړې ته ورسېده او غاړه کۍ يې د مار په سوړه ورګوزار کړه. په خپلـه ولاړ لېـرې سيل ته کېناست چې څه کېږي.

کله چې خلکو غوښتل چې غاړکۍ راواخلي مار يې وليده، ورباندې راټول شـول، په تيږو او کوتکونو يې مړ کړ.

* * *

کله چې دمنه له دې کيسو نه خلاص شو نو کليله ته يې مـخ ورواړاوه او ويـې ويل:

– اوس پوه شوې چې انسان څرنګه په چلونو په خپلو هيلو بريالی کېدای شي؟

کليله جواب ورکړ:

– حيله او چل هلته فايده لري چې دښمن دې ناپوه او غبـي وي. سـتا حيلـه او چل به څرنګه په غوايي و چلېږي چې له تا نه يې عقل او پوهه زياتـه ده. د دې دليـل چې غوايي هوښيار دی دا دی چې زمري ازمايلی او په دې ازموينه کې بريـالی شـوی دی نو ځکه يې خپل ملګری کړی او نمانځلی دی.

د منه وويل :

– هو، منم چې غوايي، لکه ته چې وايې، هوښيار او ذکي دی خـو سـره لـه دې هم زما په فضل او پوهه قايل دی ځکه چې ما تر زمري رارسولی دی او زما له برکتـه له زمري نه په امن شوی دی نو اوس هم پر ما باور لري [ .څه چـې ورتـه وايـم منـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې. زه باور لرم چې هماغسې به دی له منځه يوسم لکه سويې چې زمـری لـه منځـه يوړ.

کلیله وپوښتل:

– هغه څنګه وو؟

د منه ځواب ورکړ:

– په يوه ورشو کې چې ډول ډول واښه يې درلودل يو زمري پاچاهي کولـه. پـه دې ځای کې ګڼو ژويو ژوند کاوه خو زمري به حق ناحقه نور حيوانات ځـورول او وژل به يې] نو وحشيانو حيواناتو په خپلو غارونو کې ځانونه بنـد کـړل او د دې ځمکـې لـه مېوو او وښونه ئې له له وېرې استفاده نه شوه کولای. او که شيبه نيمه به راوتل او څه نا څه به يې خوړل ، بېرته به غارو ته ورتلل. د زمري د ناڅاپه راپېښېدلو نه به وېرېـدل. ډېره زمانه تېره شوله، او حيوانات په تنګ شول نو ويې غوښتل چـې لـه زمـري سـره سوله وکړي او ده سره په يو کار اتفاق وکړي. نو د حيواناتو جرګه زمري تـه ورغلـه او ورته يې وويل:

– زمريه! ته موږ ډاروې او ځوروې مو او ته هم که له موږه کوم يو نيسـې هغـه په ډېر تکليف وي او په اسانۍ ځان نه درکوي. نو خوښه دې نه ده چې موږ درته هـره ورځ يو حيوان راونيسو چې ته هم له خوارۍ او تکليف نه خلاص شې او موږ به هم په ارام شو او واښه به خورو!

زمري ځواب ورکړ:

– زه خو په دې سوله خوښ يم خو که وعده خلافي مو وکړه نـو بيـا بـه خپـل حال وګورئ.

چې جرګه بېرته ولاړه او وحوش يې خبر کړل نو دوئ به پچه اچولـه او چـې د هر چا پچه به وختله هغه به زمري ته د يو استازي په لاس ور استول کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي ډېره موده همدا کار کاوه تر څو چې د سویې پچه وختله نو سویې وویل :

– زه تاسو ته یو اسان سوال کوم که مو زما سوال ومانه نو له زمري نه به مـو د ټول عمر له پاره خلاص کړم.

حېواناتو وویل:

– ووایه څه غواړې؟

سویې وویل چې: زه غواړم چې تاسو استازي ته ووایې چې په لار کې لـه مانـه یوه ګړۍ ستون شي. حیواناتو وویل چې دا خو اسانه خبره ده ستون دې شي.

سویه زمري ته ورغله. د هغه د مړۍ وخت تېر شوې و. زمری ډېـر پـه غصـه و سترګې یې درنې وې او غاښونه یې چیچل.

سویه ورنژدې شوله سلام یې واچاوه او ویې ویل چې:

– باداره وبخښه! زه د وحوشو استازې یم او زه یې د یـوې څربـې سـویې سـره تاته را واستولم خو په لار کې یو بل زورور زمرې را پېښ شو او سویه یـې رانـه سـتنه کړله او تاته یې ډېرې ښکنځلې هم وکړې او ویې ویل چـې پـه دې ځمکـه کـې بـل څوک نشته چې پاچا وي. پاچا همدا زه یم بل لا څوک دی. نـو زه راغلـم چـې تـا لـه واقعې نه خبر کړم.

زمري چې دا کیسه واورېدله نو ویې منله ، په غضب شو او ویې ویل:

– دا زمرې چېرته دې راځه را ویې ښیه!

سویه ورسره ولاړه ، یو ډېر ژور کوهي ته ورسېدل چې سپینې رڼې اوبه په کـې وې. سویې کوهي ته وکتل او زمري ته یې وویل:

– صاحبه! زمری دلته اوسېږي او هغه سویه هم ورسره ده او لا خوړلې یـې نـه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري د کوهي اوبو ته وکتل، نو خپل صورت يې په کې وليده او د سويې صورت يې هم په خوا کې و نو د سويې خبره يې ومنله او کوهي ته يې ورټوپ کړ چې سويه له زمري نه خلاصه کړي. سمدلاسه په اوبو کې ډوب شو او سويه بېرته وحوشو ته خوشاله راغله او له دغه ښه خبر نه يې خبر کړل.

نو کله چې کليله کيسه واورېدله ويې ويل:

– ما خو درته ډېر نصيحت وکړ خو تا قبول نه کړ. نو نور دې چې څه په غوايي لورېږي هغه کوه خو پام کوه چې زمري ته ضرر ونه رسېږي ځکه چې زموږ پاچا دی او بې له ده رعيت ته بل څوک نه پکارېږي.

څو ورځې دمنه زمري ته حاضر نه شو. بيا يوه ورځ خبر شو چې زمری يوازې دی ، بل څوک ورسره نشته نو ورننواته او ځان يې ورته غمجن وروښود. کله چې زمري وليده ورته يې وويل:

– چې دمنه چېرته وې او ولې خپه ښکارې؟!

دمنه ځواب ورکړ:

– باداره! ځار دې شم، ځينې خبرې دي چې ځوروي مې . تاته يې ويلای هم نه شم. نو همدا وه چې ستاسو حضور ته نه درتلم.

زمري وويل:

– ما خبر کړه دمنه، چې ته ولې خپه يې ځکه چې ته پر ما حق لرې چې ستا له حاله خبر اوسم او کومک درسره وکړم. که ناروغه يې چې طبيب درته را وغواړم ، که چا درباندې ظلم کړې وي چې پوښتنه دې و کړم او غم دې وخورم ، که پور در باندې وي چې هم ترې دې خلاص کړم او که نور څه وي هم اسان به شي.

کله چې دمنه دا خبرې له پاچا نه واورېدلې احترام يې ورته وکړ او ويې ويل که زما خپل غم وای خو پروا نه وه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دمنه خپله خبره پای ته ونه رسوله. او ځان يې خپه ښکاره کاوه نو زمري وويل چې ووايه او که کار ما پورې اړه لري هم خبر دی.

دمنه وويل:

– هوښيارانو ويلي دي چې د لئيمانو او بدانو سره ښه کول بدي زېږوي او څوک چې د دوستانو او مخلصانو خبرې ته غوږ نه نيسي هغه تل پښېماني او حسرت خوري: زه په دې غوايي غولېدلی وم او خوشاله وم چې تاته مې رانژدې کړ او خبر نه وم چې خوشې لئيم او خسيس دی او ښه ورسره پکار نه دي.

زمري په هيبت سره وويل:

– دا ته څه وايې؟ غوايي يانې برګی ښيې چه ښه ورسره پکار نه دي؟ څه خبره ده ووايه ؟ دا خو عجيبه خبره ده.

دمنه وويل:

– ته مه په غضب کېږه کله انسان اړ کېږي چې هغه خبرې ته هم غوږ کښېږدي چې خوښه يې نه وي ځکه چې ګټه يې پکې وي لکه ناروغه چې ترخه دوا او بدبوی دارو د روغتيا له پاره خوري تا په برګي باور کړی دی او دی زيار باسي چې ځان درنه په مکر او حيله خلاص کړي.

– برګی له ما څخه ځان خلاصول غواړي؟ چا سره مصلحت لري.

– هو! برګی درته چلونه جوړوي. ماته يوه ربښتيني سړي، چې هېڅ دروغ نه وايي، ويلي دي چې برګي ستا له رعيت نه يو څو کسان را ټول کړي وو ، ستا عيبونه يې ورته بيانول او ستا په متابعت يې ملامتول. هغو هم په خپله خطا اقرار وکړ او له ده څخه يې د ځانونو د خلاصولو چاره وغوښتله.

زمري وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



– عجیبه ده. برگی خو پرون ماسره و او ځان یې ډېر راته ښوی ښوی او نـژدې نژدې کاوه. دومره یې دا مکر پوخ کړی دی چې پرې پوه هم نه شوم. دی به نـو څـه وکړي په داسې حال کې چې دی زما یوه مړی ده.

– باداره! هوښیار باید د چا په ظاهر ونه غـولېږي او خپـل دښـمن وړوکـی ونـه ګڼي ځکه که برګی په خپله تا ته ضرر نشي رسولای نو کولای شي چـې پـه مکـر او حیله نور ځناور او وحشیان درپسې را وپاروي او ماته هغـه رښـتیني خبـر رسـوونکي دا هم وویل چې: نژدې ده چې خپـل مطلـب تـه ورسـېږي. هوښـیار بایـد د پېښـې لـه پېښېدونه مخکې ځان ورته تیار کړي چې ورباندې د هغه ماهي ټوکـه ونـه شـي چـې ضعیف او متردد وه.

نو زمري وویل: د ماهي کیسه څرنګه وه او څه پرې وشول؟

دمنه ځواب ورکړ چې د ماهي کیسه ډېره ګټوره او د اورېدلو کیسه ده ، هوښـیار د نورو له پېښو نه عبرت او پند اخلي:

په یوه ډنډ کې درې تنه ماهیان وو چې ډېر په ناز او نعمت یې ژوند کـاوه. یـوه ورځ دوه تنه ښکاریان په دې ډنډ تېرېدل نو یوه وویل:

دا څومره نېږدې ډنډ دی او ښه ماهیان په کې دي او موږ لا تراوسه تـرې خبـر هم نه یو او یو ماهي مو لا تر اوسه له دې ډنډ څخه نه دی نیولی.

بل وویل چې: راځه چې جال راوړو او چې څه په کې دي ټول ښکار کړو.

د دغو درېواړو ماهیانو عقل او تدبیر سره برابر نه وو. کله یـې چـې د ښـکاریانو خبرې واورېدلې نو یو چې پوه و ولاړ او د کانال له لارې لوی بحر ته ورننواته . دوهـم: د ښکاریانو خبره دروغ وګڼله او ځان سره یې وویـل چـې نـن خـو ښـکاریان ولاړل او سبا ته به د وخته راشي نو زه به هم په قراره د شپې ولاړ شم درېیم ماهي د ښـکاریانو په خبره هیڅ چرت خراب نه کړ، په آرام یې خپل خوراک او کار کاوه لکه چې هیڅ یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي اوربدلي. لږ وروسته ښکاريان راغلل ، جال يې راوړ. نو دوهم ماهي پوه شو چې کار خراب دی او لکه چې په هلاکت کې ولويد . ځان سره يې وويل چې هوښيار انسان بايد په ارامۍ او پوره ډاډ د ځان ژغورلو لار پيدا کړي او که وارخطا شو نو بيا هيڅ نه شي کولای او په بلا ککړيږي. نو کله چې ځان سره له دې فکر نه خلاص شو ځان يې مړ واچاوه او کله به پړمخ او کله به ستونی ستاغ شو. ښکاريانو وويل چې دا ماهي خو مړ دی ، يو ښکاري دا ماهي واخيسته او د ډنډ او بحر په منځ کې يې واچاوه او شا يې واړوله.

ماهي چې پوه شو چې اوس د ښکاري پام نه دی په ټوپونو شو او لوی بحر ته يې ځان ورورساوه. دريم ماهي په تردد کې شو کله به د ابو سرته ولاړ او کله به يې غوټه ووهله او ګومان يې کاوه چې جال به ورونه رسيږي چې اخر په جال کې ونښته او همدا يې مرګ و.

کله چې دا کيسه زمري واوريدله دمنه ته يې وويل چې: په خبره او مقصد دې پوه شوم خو زه برګي ته ډير په تعجب کې يم چې څرنګه ماسره غدر او ټګي کوي او پر ما د حملې عزم لري سره ددې چې ما ورسره هيڅ بد نه دې کړي. څه يې چې غوښتي هغه يې کړي او منزله مې يې لوړه کړې ده؟!

نو دمنه ځواب ورکړ:

– دا څه د تعجب خبره نه ده ځکه چې برګی ډير حقير او خسيس دی او د خسيس همدا کار وي چې رتبه او قدريې لوړ شي نو ځان ورته ډير غټ ښکاري او که کوم اخلاص ښکاره کوي هغه هم له ډاره وي ، چې پوه شي چې په امن يم نو بيا هغه خپلې خسيسۍ او ټګۍ ته رجوع کوي نو برګي هم په همدې ډول تاسره خپل اخلاص ښکاره کاوه تر څو چې په خپل قدرت او زور پوه شو اوس درته پلمې جوړوي او غواړي چې تخت دې ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري وويل چې: زما خو ډېر بد راغی او که امان مې نه وای ورکړی نو سره بـه مې شکولی وای او خپل او ستاسـو خـوراک بـه مـې ګرځـولی وای نـو اوس بـه یـې راوغواړم او د خپلې ټګی او غدر په حساب به یې پوه کړم او بیا به یې وشـړم چـې هـر پلو ځي، ځي دې!!

دمنه ووېرېده که برګی را وغواړي او ددوي دواړو په مـنځ کـې خبـرې لانـدې باندې شي نو حقیقت به ورته ښکاره شي او دبرګی برائت او بې ګناهي به ښکاره شـي او په خپله به په غم ککړ شي ، بلا به ور باندې ولوېږي نو ویې ویل:

– زه درسره په دې رایه او فکر موافقه نه لرم. ځکه که ته یې راوغواړې نو ځان به درته تیار کړي یا به دې ووژني او که وتښتېده نو بیا به درته پلمې جوړوي او که لـه تا لیري وي ستا به وسه هم پرې نه کېږي. او هوښیار پاچاهان لکه تا خپل دښمنان په جزا رسوي چا چې ګناه اوجرم کړی دوي ته عذاب او جـزا ورکـوي او نـه یـې ښـکاره کوي نو دا غوایي خو په پټه تا ته پلمې جوړې کړي دي، نو ته هم په پټه جزا ورکړه او مه یې ښکاره کوه او ناڅاپه یې ونیسه.

زمري وویل:

– هوښیارانو ویلي دي چې څوک چې چاته عذاب ورکوي او ګنـاه یـې نـه وي ښکاره او دلیل یې هم نه وي نو هغه ظالم او تیري کونکی دی او د ظلم پای په همده تمامېږي. زه څرنګه د برګي سره ټګي وکړم او په دلیلورباندې دا خپله ګنـاه ور وانـه ړوم.؟

دمنه وویل: چې بې دلیله یې په جزا نه رسوې نو پام کوه او ځان سـاته چـې ژر به درته خبره ښکاره شي او د بد نیتۍ علامې او نخښې به په خپله په ده کې پـه خپلـو سترګو وګورې. زمري وویل چې ښه چې د ده د بدنیتۍ نخښـې مـالومې دي نـو پـروا نشته. دا نخښې نو کومې دي.؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمنه وویل: چې نخښې یې دادي چې راځي رنګ به یې الوتی وي اندامونه به یې رېږدي او کیڼ ښی خواته به ګوري ښکرونه به داسې ښوروي لکه چې په چا یې ورمنډي.

زمري وویل چې: دا خو پوره علامې دي نو زه به ورته هرکلی وکړم او ښه به ورسره کوم تر څو چې دا علامې په کې وګورم نو بیا به هغه څه ورسره وکړم چې ورسره وړ وي.

دمنه وکتل چې چل خو کار وکړ او د زمري زړه یې برګي ته وپړساوه نو ویې غوښتل چې برګي ته ورشي او د ده زړه زمري ته تناکې کړي. خو ډارېده چې بې د زمري له اجازې ورشي نو ویې ویل: که اجازه راکوي زه به برګي ته ورشم او ورسره به څه قدر کښېنم شاید چې نوې خبرې ترې واورم ځکه چې هغه خو پر ما باوري دی او ډاډ راباندې لري نو کېدلای شي چې د زړه حال راته ووایي.

زمري اجازه ورکړه او ورته ویې ویل:

– ته خو په خپله ښه پوهېږې. امید کوم چې راځې د برګي ټول خبرونه درسره وي چې جزا ورکړم.

دمنه برګي ته ورغی. برګي یې هرکلی او درناوی وکړ او مېلمستا یې ورته مخکې کښېښودله او ورته ویې ویل:

– ګرانه وروره چېرته وې؟ دا ډېره موده نه وې ډېر درپسې خپه وم، ستا عادت خو دا و چې دومره به رانه نه لیرې کېدلې کومه ګناه خو به دې رانه نه وي لیدلې چې ستا د خپګان موجب او سبب شوی وي؟

دمنه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– نه برګیه له تانه به څوک څرنګه خپه شي ځکه چې ته مهربان او خوږ ملګری یې خوږه ژبه، پاک زړه لرې. له تانه تل دوستان خوښ وي. خو هغه څه پېښ شوي چې ما د هغه هیله او انتظار نه درلوده.

برګي وویل:

– څه درپېښ شوي؟ ما خبر کړه که کوم تکلیف او ربړ درته رسېدلی وی ځان خوبه درنه ځار کړم ووایه څه پېښ شوي دي؟

دمنه وویل:

– کاشکې چې پر ما بلا لوېدلی وای او هغه څه چې پېښ دي نه وای پېښ شوي خو اوس به څه وکړو؟ هوښیارانو ویلي دي: څوک چې د پاچاهانو سره تماس او ملګري لري هغه په امن نه پاتې کېږي او عزت او سلامتیا نه لري.

– دا ته څه وایې ای دمنه؟ داسې مالومېږي چې زموږ له عادل پاچا نه څه شوي دي؟ څه پېښ شوي؟ ژر کوه ما خبر کړه!

دمنه ځان غمجن او په غضب غوندې کړ ویې ژړل او بیا یې سر را پورته کړ او ویې ویل:

– زموږ په شان ضعیفان د غټانو په مخکې هېڅ حقوق نه لري. د پاچاهانو زړونه رنګ رنګ اوړي او را اوړي ته به ترې د ښې تمه کوي هغه به درته بده درواړوي. ماته یو رښتینی دوست وویل چې: ما له پاچانه واورېدل چې ملګرو ته یې وویل: «برګی خو، ښه غوښن او تیار شوی دی، او نور چندان څه په کار نه راځي نه ئې د فکر مزه شته او نه د رایې ځکه څه ښه فکرونه چې ده درلودل هغه ترې موږ زده کړل. نوره ښه دا ده چې په غوښو یې یوه مېلمستیا جوړه کړو، او خپل رعیتیان پرې ماړه کړو.» نو چې دا خبرې مې واورېدلې له دې جهته چې ما او تا سره د دوستۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورورۍ لاس ورکړی دی راغلم چې اوس به نو څه کوو چې له دې تګــۍ او مکــر نــه ځان خلاص کړو.

برګی چې دا خبرې واورېدلی نو وډارېده او بې هیلې شو او ویې ویل:

– ګرانه ملګریه په دې کې موږ هم څه چاره لرو که نه؟ زه خو ډېر بې عقلــه وم چې پر زمري مې باور کاوه او د ده په کښېناســتلو خوښــېدلم. مــا بایــد دا خــوب پخــوا لیدلی وای ځکه چې زه خو د ده او د ده د ملګرو خوراک یم. او که د ده خوښه نــه وي چې ما وخوري نو ملګري خو یې را پسې ځان وژني او زما غوښو پســې مــړه دي. زه لا مخکې په دې پوهېدم چې اخر به مې څه وي ځکه چې ماله هغه کیسو او حکایاتو پند اخستی دی کومې چې ماته په خپله یادې دي. نو پرېږده چې پر مــا هــم د هغــه اوښ کانه وشي.

دمنه په فریاد او خواشینۍ سره ورته وویل چې د اوښ کیسه څرنګه ده ګونــدې ددې کیسې له اورېدلو نه د خلاصي لار پیدا کړلای شو.

برګي وویل: یو زمری و او کارغه، ګیدړ او لېوه یې تابیان و نــو ده بــه دوي تــه طعام ورکاوه او د هغوی به یې خدمت کاوه.

یوه ورځ یو اوښ له قافلې څخه وتښتېده او ځنګله ته ننواته چې ځان پټ کــړي د زمري په کاله ورپېښ شو. زمري یې ښه هرکلی وکړ او د کیسې پوښــتنه یــې تــرې وکړه اوښ وویل چې سوداګر راباندې ډېر مال بارکړی و او نژدې وه چــې ټــول قــوت مې له لاسه ورکړی وای نو چې فرصت مې بیا مونده ترې را وتښتېدم.

زمري ورته ډاډګېرنه ورکړه او ورته یې وویل چې نور بېغمه اوسه او دلته به موږ سره په ځنګل کې اوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ زمری ښکار ته ولاړ او د ده او د یو فیل په منځ کې ډېر سخت جنګ وشو، بېرته زخمي او ستړی ستومانه ځای ته راغی او ډېره موده د خوځېدو نه و او ښکار یې نه شو کولای.

نو کله چې لوږه پر ده او خدمتګارانو یې سخته شوه نو راټول یې کړل او ورته یې وویل: ولاړ شئ په ځنګله کې چېرته طعام را پیداکړئ که نه نو نژدې ده چې زه او تاسو له لوږې مړه شو.

لړ په ځنګل کې ولاړل او یو فکر یې وسنجاوه. بېرته راغلل زمري ته. نو کله چې زمري دوی ولیدل خوشاله شو او ګومان یې وکړ چې ګوندې کوم تیار ښکار یې راوړی دی. خو دوي وویل چې: څوک چې ښکار کوي نو هغه په ځان کې څه زور او قوت ګوري او موږ له لوږې خوزېدلای هم نه شو ښکار به څرنګه وکړو.

زمري وویل: نو څه به کوو؟

کارغه وویل:

– آمر سختۍ کولو ته څه اړه نه لري دغه دی اوښ تیار شته نو ولې به لوږه تېروو.

زمري چې دا خبره واورېده نو په قهر شو او ویې ویل چې:

– ای کارغه دا څه وایې؟ اوښ وخورو. او حال دا چې ما امان ورکړی او دده د سلامتۍ ضمانت مې کړی دی.

کارغه وویل:

–ته مه په قهرېږه: خلک وایي: یو له کوره جار دی او کور له وطنه او وطن له پاچانه. ته ضعیف شوی یې او ژوند دې په خطر کې دی. نو ته حق لرې چې مرګ له ځانه د اوښ په خوړلو دفع کړی. موږ به چل جوړ کړو او حیله به وکړو چې ته د ټګۍ کولو له ګناه نه هم خلاص شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زمري چې دا خبره واورېدله چپ شو او خبرې يې نه کولې نو کارغه پوه شـو چې زمری زما په دې رايې راضي دی.

کارغه، لېوه، ګيدړ او اوښ زمري ته را ټول شول. او دده د روغتيـا پوښـتنه يـې کوله. کارغه وويل:

– زه ګورم چې لوږه درباندې سخته ده او زه ستا له پاره ژوند کوم نو مـا وخـوره او خپله لوږه ليرې کړه.

ګيدړ وويل:

– په تا کې څه دي؟ خو بڼکې او هډوکي يې او څه فايده په تا کې نشته پـه مـا کې له تا څخه غوښه ډېره ده ما دې وخوري!

لېوه وويل:

– ستا غوښه مرداره ده زه له تا نه پاک يم او غوښه او وازده را کې ډېـره ده مـا دې وخوري.

ګيدړ وويل:

– طبيبانو ويلي دي چې د لېوه غوښه سړی وخوري لېونی کوي يې نو ستا پـه خوړلو کې خير نشته.

په دې وخت کې اوښ فکر وکړ چې که زه ورته ځان وړاندې کړم نـو دوی بـه لکه د ځان څخه يې چې دفاع وکړه له ماڅخه به هم دفاع وکـړي او زمـری بـه رانـه خوشاله شي نو ويې ويل: نه ، نه زه له تاسو ټولو نه ښه يم او غوښه مې هر مـرض تـه دوا ده. ما دې وخوري.

نو ټولو نارې کړې. رښتياده رښتيا ده! پرې ورټوپ يې کړ او څيرې يې کړ.

له دې کيسې څخه وروسته برګي وويل:

– اوس په حقيقت پوه شوم چې اوس مې نو له زمري نه خلاصېدل نشته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمنه ځواب ورکړ: نو اوس څه غواړې چې وکړې.

برګي وويل:

– څه چې خدای پېښه کړي وي هغه به وي خو نه غواړم چې داسې پـه اسـانه ځان په لاس ورکړم. جنګ او جدل ته هم تيار يم، نور چې څه کېږي هغه به کېږي.

دمنه وويل:

– زما خو داسې خوښه نه ده او په دې رايې درسره زه موافقه نه کوم. ته بايد له صبر او حوصلې نه کار واخلې. هوښيارانو ويلي دي انسان چې د سختيو سره پـه تنـدی مقابله کوي نو عقل يې الوزي او کار يې خرابېـږي. او کـه پـه صـبر او آرامـی ورسـره مقابله وکړي نو بريالی کېږي، نو ښه داده چې ته صبر وکړې تر څو چې شـر د زمـري په سترګو کې وګورې نو بيا به په پوره مېړانه له خپله ځانه دفاع کوی.

برګي وويل:

– زه به نو څرنګه پوه شم چې د زمري سترګې راته سرې دي؟

دمنه وويل:

– چې ورغلـې او مخکـې پښـې يـې درولـې وې او داړې يـې چينګـې وې او سترګې يې سرې وې نو پوه شه چې په زړه کې يې درته ورانه ده.

برګي وويل:

– ښه دا خو پوره نخښې دي.

نو کله يې چې زمری غوايي ته وپاراوه او غوايي زمري ته نو خپـل ورور کليلـه ته ورغی او په ټوله کيسه يې ټکي په ټکي خبر کړ.

کليله او دمنه دواړه ورغلل او د زمري په دروازه کې ودرېدل چې وګـوري چـې اوس به څه کېږي او د زمري او غوايي په منځ کې به څه پېښېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ درنګ وروسته غوايي راغی او زمری هغسې ناست و لکه څرنګـه چـې دمنـه ویلي وو نو په زړه کې يې وویل چې: څوک چې پاچاته ځان ورنـژدې کـوي او ورسـره ملګري کوي داسی دی لکه یو سړی چې د مارانو سره په یوه کور کـې اوسـېږي . نـه په خپل ژوند باور لري او نه په دې چې ګوندې ماران به وربانديې راونـه پـارېږي شـپه ورځ په همدې فکر وي. نو رنګ يې واوښته، اندامونه يې ورپېـدل او جسـم يـې سـره وخوځېده.

کله چې زمري غوايي په هماغه حال ولیده چې دمنه ویلي و نو ګومان يې وکـړ چې لکه چې راسره جنګ کوي نو سم د واره يې یو په بل ورټوپ کړل او بې لـه کـوم فکر او صبر نه يې سره په جنګ پېل وکړ زمري غـوايي پـه ښـکـرو او خپـرو واهـه او غوايي به په خپلو ښکرونو سوغاوه له دواړو نه وينې وبهېدلې زمری په زګېرويـو شـو او غوايي په رمباړو.

نو کله چې کلیله زمری په داسې سختۍ او ربړ کې ولیده دمنه ته يې وویل:

– خوار شې ټګه، ناپوهه، او خاينه! تا خـو ماسـره وعـده کـړې وه چـې يـوازې غوايي وژنم او زمري ته ضرر نه رسوم تازه وغولولم او ټګي دې راسره وکړه تـا ماسـره هغه څه وکړل لکه شاديانو چې د هغه مرغه سره وکـړل چـې دوي تـه يـې نصـيحت کاوه:

یوه شپه ډېر ساړه شول، نو شاديان د اور په لټولو پسې ووتل چې وربانديې تاوده شي. یو سور مچ يې ولیده چې د اور د سپرغۍ غوندې ښکارېده پرې ورټوپ يې کـړ او را و يې نیوه. لرګي يې وربانديې کېښودل او په پوکولو يې پیل وکړ چې اور بـل شـي. ښه ستړي شول او اور بل نه شو نو یو مرغـه و چـې دوي يـې پـه دې کـار ولیـدل د نصیحت په توګه يې ورته وویل: دا خو یو الوتونکی حیوان دی اور نه دی په ده اور نـه بلېږي خوشې خواري مه کوئ او ځان مه ستړی کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دوئ د ده نصیحتونه وانه ورېدل او همداسې يې اور پــو کــاوه. مرغــه ورتــه نژدې شو او ورته يې وويل: چې دا اور نه دې خوشي خوارې مه کــوئ، نــو شــادي تــه قهر ورغی ورټوپ يې کړ ، را ويې نيوه او په ځمکه يې وواهه. دستي مړ شــو. ســتا پــه ګناه او خيانت چې زمري سره دې وکړ زه به هم په غم ککړ شم نو ښه دا ده چې نــور درسره ونه اوسېږم تر څو چې هغه کانه راباندې ونه شي چې په يــو ســاده او بــې پــروا ملګري د بل چلي او ټګمار ملګري له لاسه وشوله.

دمنه وويل: ددوي په منځ کې څه پېښ شول؟

کليله وويل: ساده او ټګمار ملګري سره په تجارت کې شريک شول او سفر تــه ولاړل په لاره تلل چې ساده ملګري د زرو روپو بکس بيا موند، را پورته يې کړ او پــټ يې کړ خو مکار او ټګمارورباندې پوه شو او ورته يې وويل:

– زمونږ شرط خو دا و چې هره ګټه به نيموو او دا بکس هم په ګټه کــې شــمېر دی.

ساده په دې خبره راضي شو او بېرته راوګرځېدل، په وېــش يــې پيــل وکــړ نــو ټګمار وويل:

– راځه پرېږده ويش يې څه کوو، راځه چې لږې لږې روپۍ ترې واخلو نورې به ددغې ونې بېخ ته ښخې کړو او چې کله مو ورته اړه پېښېدله لږې لږې به ترې اخلو.

ساده ورسره ومنله ، لږې لږې روپۍ يې سره واخيستلې ، بکس يــې ونــې ســره ښخ کړ او ځای يې نخښه کړ. خپل ښار ته راغلل.

د شپې مکار راغی، بکس يې را ووېست، کور ته يې راوړ او هېڅ يې هلته پــرې نه ښودل.

څو ورځې وروسته ساده ملګري ته اړه پېښه شوه نو ملګري ته ورغی چې لــږې لږې روپۍ بيا له خپلې خزانې څخه راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه ځای ته ورسېدل مکار د ځای په سپړلو پيل وکړ. دا ځای سپړي او هغه ځای سپړي خو هېڅ نه مومي. تسکوره يې و غورځوله، په جامو ځيرلو يې پيل وکړ، خپل مخ يې واهه، وېښته يې شکول، چېغې يې وهلې:

– خزانه. بکس روپۍ. مال مې ورک شو! آه! . ای ټګماره، ای خاينه، خزانه دې را نه غلا کړله.

ساده چې دا کار وليد په قسمونو يې پيل وکړ:

– ما نه ده غلا کړې، نه مې لېدلې او نه تر اوسه پورې دلته راغلی يم.

خو مکار ټګمار د ده خبره و نه منله، ويې ويل:

– له موږ سره هيڅوک هم نه وو، بل چا ليدلي هم نه يو نو پرته له تا بل چا دا کار نه دی کړی.

* * *

مکار قاضي ته ولاړ، شکايت يې ورته وکړ. له قاضي څخه يې وغوښتل چې ساده دې ورته خپل مال ببرته ورکاندي. قاضي چې له ساده نه پوښتنه وکړه هغه قسم وکړ چې ما نه دی اخيستی او ما غلا نه ده کړې نو قاضي مکار ته وويل:

– شاهدان لرې؟

مکار ځواب ورکړ:

– هو! هغه ونه چې موږ ورسره مال ښخ کړی و پرده شاهدي بولي.

قاضي حيران شو چې ونه څرنګه شاهدي وايي او دوي ته يې وويل چې راځئ چې هغه ونې ته ورشو.

مکار خپل پلار ته ويلي و چې د ونې په لښتو کې ځان پټ کړي چې څوک يې ونه ګوري نو کله چې قاضي او ورسره کسان ونې ته راغلل له ونې څخه يې پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او وویې ویل: ای امینې او رښتینې ونې، هغه دې لیدلی دی چې هغه مال چې تاسره ښخ شوی و، وړی یې دی.

نو د مکار پلار ځواب ورکړ هو قاضي صاحب. ساده یوه شپه راغی او مال یې له دې ځای څخه واخیسته او کورته یې یووړ.

نو قاضي ورسره په ښکاره دا خبره ومنله او ویې ویل:

– دا خو عجیبه ونه ده ، که نوره په همدې ځای پاتې شي نو خلک به یې د خدای په ځای عبادت کوي نو ښه دا ده چې خلک له دې ګناه څخه وژغورل شي. باید دا ونه وسوځول شي چې خلک وربانديې ګمراه نه شي. ونې ته یې اور ورواچاوه.

د مکار پلار په ونه کې چیغې کړلې:

– ما وژغورئ چې وسوم! زه د مکار پلار یم او اقرار کوم چې بکس همده غلا کړی دی.

نو قاضي پلار او زوی ښه وډبول او پر مکار یې حکم وکړ چې ورشه مال راوړه او ساده ته یې وسپاره.

بیا کلیله وویل: دا کیسه مې درته د دې له پاره وکړه چې ته پوه شې چې غدر او ټګي په خپله ټګمار او غدار ته ورګرځي او ضرر یې همده ته وراوړي.

نور نو سر له نن څخه تا سره په اوسېدلو کې فایده نشته.

دوی چې له خبرو څخه خلاصېدل نو زمری د غوایي له وژلو څخه خلاص شوی و. دمنه کلیله ته جواب ورنکړ او په منډه زمري ته ورغی او ویې ویل:

– پر دښمن بریالیتوب دې مبارک شه ښه ده چې بریالی شوې.

خو زمري د دې په ځای چې خوښي ښکاره کړي ډېر خپه و او ویې ویل:

– زه خو د برګې په وژلو ډېر خپه یم ، د ده د پوهې او اخلاص او مینې تاوان مې وکړ، او په رعیت کې بل څوک نشته چې د ده ځای ونیسي. دا هم کېدلای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ناحقه مې وژلی وي او ظلم به مې وربانـدې کـړی وي او چابـه ورپـورې دروغ تړلي وي.

دابشليم پاچا بيدپای فيلسوف ته وويل:

رښتيا چې درواغجن، چلي، ټګمار کولای شي چې دوستان سره جلا کـړي، نـو بيا دمنه ته د زمري قرب حاصل شو او په خپل مطلب بريالی شو؟

بيدپای فيلسوف ځواب ورکړ: کله چې زمری د برګي له وژلو نه خـلاص شـو او قهر يې غلی شو نو هغه د خوښۍ ورځې وريادې شولې چې د برګي سره يې تېرولـې او د برګي اخلاص، عقل او لوی لوی خدمتونه وریاد شول ډېر غمجن شو او له ځان سـره يې وويل: د برګي په وژلو کې مې تادې وکړه داسې کوم دليل هم نه و چې د ده ګنـاه يې ثابته کړې وای او پرته له دمنه څخه مې د ده په باره کې له بل چا نـه هـم کومـه خبره نه وه اورېدلې چې دده په عيب او خيانت يې دلالت کړی وای. دمنه بـه ګونـدې راته رښتيا ويلي وي؟

په دې ډول زمري د برګي په بېلتانه کې په غم ورځې شپې تېرولې تر دې چـې خوراک او څښاک نه يې هم بد راتلل. جسم يې خوار شـو او رنـګ يـې والـوت. خپلـو خپلوانو او دوستانو سره په ډېره نرمه چلېده.

له برګي څخه پرته کوم هوښيار او عقلمند دوسـت چـې يـې درلـوده هغـه يـو پړانګ و. يواځې همدا پړانګ و چې ده ته ورتلای شو او دده د تسلۍ له پاره به يـې ده ته کيسې او حکايات ويل چې زړه يې له زاړه ملګري برګي څخه صبر شي.

يوه شپه پړانګ او زمری تر ډېره بې خوبه ناست و ، شپه نيمې ته نـژدې شـوله نو پړانګ له زمري څخه اجازه واخيستله او ولاړ.

پړانګ خپل کور ته پر هغې لارې ته چې د کليله او دمنه په کاله تېرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کلیله څخه یې واورېدل چې دمنه یې ملامتاوه او ورته یې ویل: وروره ما خـو درته ډېر نصیحت وکړ چې مه کوه او دا د زمري او غوایي په منځ کې مه ورلـوېږه او دا دوستي یې مه ورانوه خو زما خبره دې ونه منله.

اوس زمری د برګي په مرګ کې پـه خپلـه غلطـۍ او خطـا پـوه شـوی دی او اورمرو هغه ورځ راتلونکې ده چې ستا هغه فکرونه او چلونه، ټګـۍ برګـۍ بـه پـه کـې ښرګندېږي چې تا پرې زمری د خپل ګران ملګـري لـه ناسـتې ولاړې او خېرخـواهۍ څخه بې برخې کړی دی. په دې وخت کې به در څخه د برګي پوره کسـات او انتقـام واخلي او د خپل رعیت په مخکې به دې ښه وشرموي. ځکـه چـې تـه ډېـر دروغجـن ټګمار او نمام یې. که زمری دې ووژني ټول به دې په مرګ خوښ او خوشاله شـي. او که دې مړ نه کړي نو ټول رعیت خو به درته په سپکو سترګو ګوري. خپل دوسـتان او خپلوان به در څخه تښتي او ژوند به دې ډېر په شرم او ننګ تېرېږي. خو ډېـر پـه دې وېرېږم چې که خبر شي چې زه هم له تا سره ناسته ولاړه لرم نو ستا مصیبت بـه ماتـه هم ورسېږي او په عذاب او درد به درسره ککړ شم. له همدې وخته زما او ستا سره نور بس دی ، کور دې نور ستاوي زه به یو بل ځای ځان ته پیدا کړم چې څو شپې په کـې تېرې کړم او له هغه مصائبو او ربړونو څخه ځان وژغورم چې در باندې راروان دي.

د کلیله او دمنه دا خبرې ټولې پړانګ واورېدلې او د برګي قصه یې تر پایـه تـر غوړه کړله پوه شو چې برګی په ظلم او د دمنه په مکارۍ او خیانت وژل شوی دی.

پړانګ کورته ولاړ نه شـو او برابـر د زمـري د مـور کورتـه راغـی، اجـازه یـې وغوښتله او ننواته. د زمري مورته پړانګ سلام ورواچاوه او ورته یې وویل:

– محترمې باداري عذر غواړم چې د شپې په دې ناوخته وخت درته راغلم چـې نه دا د ملاقات وخت دی او نه د اجازې غوښتلو. خو که یو لوی خطـري کـار نـه وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښ شوی نو په دې وخت درته نه راتللم. دا راته ښه ښکاره شوه چې په مناسب وخت دې ورباندې خبره کړم.

د زمري مور وویل:

– زما د کور دروازه خو زما اولاد ته تل ببرته ده اوستا اخلاص چې پاچا سره یې لرې او درته ګران دی د دې باعث ګرځي چې هر وخت راشې شپه وي او که ورځ. اوس هم پوهېږم چې د داسې کار په باره کې راغلی یې چې پاچا پورې اړه لري. خبره همداسې ده کنه، اې پړانګه؟

– ګرانې مورې لکه څرنګه چې وایې همداسې ده. ته خو ګورې چې د پاچا حال څومره خراب او بد دی. د برګي له مرګه وروسته یې ښځې صحت ګډود دی او ورپسې ډېر غمجن دی. اوس نو زه په هغو ټولو خبرو او مکاریو خبر شوم چې د برګي د مرګ او د پاچا د خوابدۍ سبب شوې. برګی مظلوم وژل شوی دی. که پاچا په دې حقیقت پوه شي او له چا څخه چې د برګي د مرګ سبب شوی انتقام واخلي، نو د غم ټول اسباب به ورڅخه لیرې شي او خوښ به شي، ببرته به خوښ اود نېکمرغه ژوند خاوند شي.

د زمري مور چې دا خبرې واورېدلې ډېره خوشاله شوله او ویې ویل:

– ای پړانګه، ووایه څه خبره ده . ما خبره کړه! پاچا به نو ببرته د پخواني ژوند خاوند شي؟ کاشکي داسې وشي!

پړانګ وویل:

– هو مورې! هیله کوم چې ببرته پاچا د ښه ژوند او خوښۍ څښتن شي. خو هیله کوم چې څه چې مانه اورې باید زما او ستا په منځ کې وي او هېڅوک درنه خبر نه شي او ته په یو چل پاچا په دې خبر کړه او زما نوم مه اخله.

د زمري مور وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ډاډه اوسه، څه چې دي زما او ستا په منځ کې دي تر دې چې پاچا بـه هـم را څخه خبر نشي. او زه د پاچا په شرف او د نورو څيروونکو په شـرف قسـم خـورم چـې هېڅوک به خبر نه کړم.

پړانګ هغه ټوله کيسه چې له کليله او د دمنه څخه يې اورېدلې وه د زمري مور ته ټکي په ټکي وويله. کله يې چې دا کيسه واورېدله نو حيرانه او هکه پکه پاتې شوله او ويې ويل:

– دمنه! هغه دمنه چې خوار زار او ذليل به د پاچا په دروازو کې پروت و او ټولـو به ورته په سپکه سترګه کتل پاچا ته ځان رانژدې کړ تر دې چې د ده په لوړه مرتبـه د رعيت لويانو حسد کاوه او ځان پورې به شرمېدل. دمنه دا پلمې جوړې کړلې او د پاچـا د بدمرغۍ سبب شو . د ده او د ده د ګران دوست په منځ کې د دښمنۍ پېداکولو باعـث شو. ارمان دی ټګۍ او خيانته! او ارمان دی د درواغو چلونو!

پړانګ اجازه واخيستله او خپل کور ته ولاړ. د زمري مور په کور کې پاتې شـوله تر سبا پورې اوښتله را اوښتله سترګې يې نه پټېدلې تر څو چې سبا شـو نـو زمـري تـه ورغلله چې ګوري په غم کې ډوب ناست دی او چرت وهي نو ورته يې وويل:

– تر اوسه لا په غم کې يې؟

زمري وويل:

– هو مورې څه وکړم، ګران او پوه ملګری مې له لاسه ووتـه او ګنـاه او غـدر مې ثبوت ته ونه رساوه او ومې واژه.

دې وويل:

– زويه په خپل ځان دې په خپله شاهدي وويله او په خپله ګناه او ګناه تـه پـه سزا کې پر تادۍ دې اقرار وکړ. ډېره رښتينې شاهدې پـر خپـل ځـان شـاهدي ده نـو ګوره اوس د ځان سره څه ډول حساب کوې. که د راز ښـکاره کـول لويـه ګنـاه او بـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلاقي نه وای نو چې زه پرې پوهېږم په هغې به مې ته هم خبر کړی وای چې پوه شوی وای چې تا د برګي په حق کې ډېر لوی ظلم او سخت زړي کړی ده.

زمري وويل:

– په هر وخت کې خو سِر ښکاره کول بد نه دي. که د راز پټول د مظلوم حق پټوي او د مجرم سره په ظلم او جرم کې کومک کوي نو دا ډول راز ساتل بد او نا روا دي او خپرول يې واجب دي. او ته خو پوهېږې مورې چې زه د برګي د مرګ په سبب کې شکمن يم، نو تاته چې حقيقت مالوم دی بايد ما ورباندې خبر کړې تر څو چې ګناهکار په جزا ورسوم، چې د خپلې تګی او غدر خوند وګوري او د خپل مطلب په کاميابۍ خوشاله پاتې نه شي.

د زمري مور خپل زوی په هر څه چې له پړانګ څخه يې اورېدلي وو خبر کړ خو د ده نوم يې ورته ونه ښوده او په دې يې هم خبر نه کړ چې څرنګه دا پوه شوه او څرنګه يې دا خبرې اورېدلي دي. ورته يې وويل:

– زه د سِر او راز ښکاره کوونکی په ګناه او عذاب ناپوهه نه يم. خو زه پوهېږم چې ستا او ستا د رعيت صلاح په لاس نه راځي تر څو چې په راز خبر نه شې. نو ته مې ورباندې خبر کړې.

زمري خپل لښکريان او سړي را ټول کړل. محافظ او پيره دار ته يې وويل چې دمنه مجلس ته راوغواړي. کله چې دمنه راغی ډېر خلک او د پاچا ډېر غم يې وليده نو يو ولاړ نفر ته يې وکتل او ويې ويل:

– پاچا ته څه رسېدلي دي؟ او ولې پاچا خپه دی.

د زمري مور وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– هغه څوک پاچا خپه کوي چې ستا یوه ګړۍ ژوند غواړي. تر څو چې ته ونه وژل شې او غوښه دې د بدترینو مرغانو او ځناورو خوراک نه شي د پاچا غمونه به تل وي او ولاړ به نه شي.

د ناستو خلکو مخ ته دمنه وکتل او ویې ویل:

– هوښیارانو رښتیا ویلي دي: هغه څوک چې د شر له پېښېدلو نه ډار کوي او زیار باسي چې ځان ترې وژغوري کله کله له نورو نه ده ته شر ډېر نژدې وي. دا دی ما غوښتل چې پاچا سلامت او په امن وي او د ده په خدمت کې مې اخلاص وکړ او غوښتل مې چې ځان ته ګټه او خیر واړوم خو په هغه کې ولوېدلم چې ترې تښتېدلم. ما ځان ته خیر غوښته هغه په شر واوښتلم.

بیا یې د زمري مورته وکتل او ورته یې وویل:

– ای باداري، که د یوې سا په ځای مې زر ساګانې وي خو چې پاچا پرې خوشالېږي او غمونه یې پرې لیرې کېږي زه به یې ترې ځار کړم او د یو تشکر تمه قدر به هم ترې ونه کړم. زه ځان نه ساتم او له مرګ څخه نه تښتم، ځکه چې له مرګ څخه څوک نه شي تښتېدلای خو زه نه غواړم چې د داسې ګناه په سبب چې دلیل او برهان پرې نه وي قایم شوی زمری پر ما حکم وکړي. د دې له پاره چې رعیت یې بیا په ظلم او قساوت تورن نه کړي.

یوه لښکري وویل:

– دمنه دا خبره ددې له پاره نه کوي چې ګوندې د پاچا سره مینه لري بلکه په دې خبر ه ځان خلاصول غواړي.

نو دمنه ده ته وکتل او په مسخره یې ورته وویل:

– څه خوار شې، تا ته خو سکوت او چوپوالی ښه و، خو خبرې دې وکړې او خپل جهل او ناپوهي دې خلکو ته وښودله، نه فکر لرې او نه رایه. ځان ساتل نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوندې عيب دی؟ چې ځان سړی ونه ساتي نو څه به ساتي؟ په چا کې چې د ځان لـه پاره خير نه وي نورو ته هم په کې خير نه وي او تا په دې خبره چې زه يې د ځـان لـه پاره وايم، په دې برهان او دليل راوړ چې ته د خپل ځان دښمن يـې. او څـوک چـې د ځان دښمن وي هغه د ټولو خلکو دښمن دی، نه د خلکو سره مينه لري او نـه دخلکـو په خير او ښه راځي. ته په دې فکر د دې وړ نه يې چې د چارپايانو په ډله کې ودرېږې نو څرنګه زړه کوې او پاچا ته ځان نژدې کول غواړې؟

خو د زمري مور د ده په خبرو ونه غولېدله، دمنه ته يې وکتل او ويې ويل:

– درته هکه پکه شوم ای چلي او دروغجنه! څرنګه خبرې ته رنـګ ورکـوی او دروغ رښتيا او باطل حق ښکاره کوې، او هغه څوک چې تاته رښتيا خبرې کوي ته پـه دومره بده او نا وړه لهجه ځواب ورکوې او خبره يې ردوې په داسې حال کې چـې تـه دروغجن او هغه ريښتينی دی.

دمنه ځواب ورکړ:

– زه درواغجن او چلي نه يم، خو ته راته پـه يـوه سـترګه ګـورې چـې هغـه د دښمنۍ او کينې سترګه ده نو ځکه زما هر ښه تا ته بد ښکاري او هر رښـتيا مـې درتـه درواغ. وفا او اخلاص مې درته مکر او ټګي برېښي. نه چل لرم او نه ګناه. څرنګه چـې د خدایؐ خوښه وي هغه به راته پېښېږي که خدایؐ چاته بده مقـرره کـړې څـوک ترې ځان نشي خلاصولای.

د زمري مور ناستو خلکو ته مخ ورواړاوه او ويې ويل:

– زامنو ګورئ څرنګه دا مجرم او بـدبخت غـواړي چـې ځـان پـاک را وښـيي، لازمه ده چې تاسو د خبرې بيخ ولټوئ او دده پټ اعمال را برسېره کړئ تـر څـو چـې ژبه يې ګونګه او درواغ يې بند شي.

دا خبره يې وکړه او په غضب يې مجلس پرېښود ، کور ته ولاړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا قاضي راوغوښته او ورته يې امر وکړ چې د دمنه د محاکمې لپاره مجلس داير کړي. لښکريانو ته يې وويل چې ځئ دمنه په بندي خانه کې واچوئ تر څو چې محاکمه يې تېره شي.

لښکريانو يې په ورمېږ کې غټ غټ زنځيرونه ور واچول او تر بنديخانې پورې يې راښکوده.

کله چې شپه نيمه شوله، نو کليله پوه شو چې دمنه په بندي خانه کې دی. په پټه ورته راغی، کله يې چې په زنځيرونو کې بند په تنګ ځای کې وليده نو ورته يې وويل:

– زه خو له دغې ورځې څخه وېرېدلم، ډېر نصيحت مې درته وکړ خو تا وانه ورېده او له خپل کبر او غرور څخه وانه وښتلې تر څو چې په دې غم ککړ شولې. پوهانو رښتيا ويلي دي: چلي او محتال پخوا له وخته مري ځکه چې په خپلو چلونو او ټګيو ځانته د مرګ مخ را اړوي.

دمنه ځواب ورکړ:

– کليله، څه چې تا ويل هغه ټول رښتيا وو خو له بده مرغه ماونه منل اوس به د مخالفت او نه منلې دا خوږې مېوې خورم. پوهانو ويلي دي چې په خپله دې ځان په غم ولاړه نو بيا ورته ځان ټينګ کړه او مه خپه کېږه. ځکه چې د خپله لاسه به دې وي.

نو کليه وژړل او ويې ويل:

– زما اوس درباندې زړه نه خوږېږي ځکه چې مادرته خدای کړي ويلي و او که دا نه وای نو اوس به درباندې خپه او غمجن وم.

نور يې پرېښود او خپل کور ته ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمنه سره په محبس کې یو ذکي او هوښیار چیتا و چې ځای یې کلیله او دمنه ته نژدې و. دوی دواړه یې لیدل او د دوي خبرې یې اورېدلې خو دوي دی نه لیده. نو چیتا هر څه چې دوی دواړو سره وویل ټول ټکي په ټکي واورېدل، پوه شو چې دمنه خو په خپله ګناه مقر دی. څه یې چې اورېدلي و ټول یې په زړه کې د شاهدۍ ادا کولو له پاره وساتل.

سبا دوخته د زمري مور خپل زوی ته ورغله او ورته یې وویل:

– ښه داده چې د دمنه په محاکمه کې تادي وکړې چې ګناهکار په خپله جزا ورسېږي او بېګناه ته خپل حق وسپارل شي. نو د دمنه په محاکمه تادي کوه.

کله چې زمري د مور خبره واورېدله نو پړانګ یې راوباله – چې د قضا او حکم متولي همدې و– ورڅخه یې وغوښتل چې د دمنه د محاکمې مجلس جوړ کړي او لښکریان او رعیت راوغواړي چې که له دمنه څخه یې څه لیدلي وي شاهدي پرې ولولي.

پړانګ وویل:

– ستا امر مو منلی دی.

مجلس یې جوړ کړ ، ډنډورچي رعیت مجلس ته راوغوښته. کله چې د جلسې میدان له خلکو ډک شو نو دمنه را حاضر کړل شو او پړانګ وویل:

– ورونو، پاچا دمنه د برګي د وژلو د پلمې جوړولو په ګناه تهمتي او تورن کړی دی او د برګي په وژلو ډېر خپه او غمجن دی خو نه غواړي چې پر دمنه ظلم وکړي. نو څوک چې له حقیقت څخه خبر وي ودې وایي او حقیقت دې نه پټوي.

دمنه دوي ته وکتل او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ووایئ او څه مه پټوئ او پوه شئ چې ما سره د هرې خبرې ځواب او رد شته. څوک چې څه ووایي او ورباندې خبر نه وي، په هغه څه به واوري چې هغه جاهل طبیب پرې اوښتی و.

خلکو ورته وویل په څه اوښتی و؟

ده وویل:

– د یو پاچا لور ناروغه شوله نو یو بې عقله سړی راغی او ویې ویل چې زه طبیب یم او د پاچا له درملتون څخه یې هغه دوا راووېستله چې په حقیقت یې هېڅ پوه نه و چې څه شی دی. نجلۍ ته یې ورکړه. کله چې نجلۍ دوا وخښله دستي مړه شوه.

چې پاچا دا حال ولیده نو له همدې دواڅخه یې په ده باندې یو کاسه دوا وڅښله او دې هم مړ شو.

په حاضرینو کې د خوګانو مشر و چې د زمري دوست او ورته نژدې و. د خوګانو مشر وویل:

– ښاغلو، پوهان د سړي حقیقت له هغو علامو څخه مالوموي چې د ده له مخ څخه ښکاري او د دې بدبخت دمنه په مخ کې ډېرې تخنښې دي چې د ده په مکر، ټګۍ او خیانت دلالت کوي او پرده د حکم له پاره همدا علامې بس دي.

پړانګ وویل:

– رښتیا ده، د خوګانو مشره، چې د صورتو او اشکالو په پېژندنه ښه پوهېږې، او ستا په څېر په دې کار کې بل څوک مهارت نه لري تا د دمنه په مخکې څه علامې لیدلې دي؟

د خوګانو مشر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– پوهان وايي چې د چا چې چپه سترګه له ښې سترګې نه وړه وي او پوزه يې ښې طرف ته کږه وي هغه بدبخت خبيث ، مکار او ټګمار وي. او تاسو په خپله دا صفتونه هغه دي په دمنه کې وګورئ.

دمنه ورته وکتل او ورته يې وويل:

– ناپوهه، جاهله. ستا په حال تعجب کوم. ته ما په دې صفاتو ستايې او حال دا چې ناولی، بدرنګ، ګوډ، غټ خېټی او چاود شونډی يې! او که ستا غونډې خلک دباغي او جاروکښي وکړي هم پرې ډېر دي، خو ته له خپلې بې عقلۍ او غرور څخه د پاچا مجلس ته راځې او مړۍ يې خورې. که پاچا دې په ناولتوب خبر شي له مجلسه به دې وشړي او خپل نژديکت به دربانديې حرام کړي. که زه خبيث او مکار وای، لکه ته چې وايې، نو ما به هم پاچا ستا په دغو ناولو صفاتو خبر کړی وای. خو نه، زه پاک او سپېڅلی يم، نو ما زمري ته ستا هغه څه ونه ويل چې له تا څخه د ده د خوابدۍ باعث شي.

کله چې د خوګانو مشر دا سخته خبره ونغوړله، زړه يې مات شو ، خجل شو، وشرمېده او د جلسې له ډګر نه وواته.

دا ورځ تېره شوه، مجلس پورته شو او دمنه بېرته محبس ته وروستل شو.

په مجلس کې د زمري يو دوست ګيدړ و . دايې په دې مکلف کړی و چې د مجلس ورځني جريانات به ورته په ريښتيا او امانت سره راوړي. نو کله چې يې د دمنه او د خوګانو د مشر په سوال او ځواب خبر کړ نو خوا يې د خوګانو له مشر څخه بده شوله او امر يې وکړ چې بيا دې ما ته نه راځي.

د پاچا د حضور له کسانو څخه يو ګيدړ چې روزبه نومېده دمنه ته محبس ته پټ ورغی او خبر يې کړ چې: کليله خو ستا له غمه مريض شو او بيا پسې مړ شو. نو دمنه ډېر سخت وژړل او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زما نور په دنیا کې کوم په زړه پورې شی نه دی پاتې چې زه د هغه لـه پـاره خپل ژوند وغواړم. یو ورور مې و هغه هم مړ شو، نو اوس دې مرګ راځي چې پـه هـر وخت کې یې خوښه وي.

بیا یې روزبه ته وکتل او ورته یې وویل:

– ځه ښه ده چې ستا غوندې مهربانه او کریم ورور خو لرم. که هغه مړ شو ښـه دی ته خو یې. بیا یې وویل: زموږ چې څه مال دی موږ را ټول کړی و ، زموږ د کاله په یو طرف کې ښخ دی، ورشه هغه مال ماته راوړه.

کله چې روزبه دا مال ورته راوړ نو دمنه دا مال ده ته وروړاندې کړ او ورتـه یـې وویل:

– دا مال واخله او خپلې چړچې پرې کوه . زه له تا څخه یو شی غـواړم او هغـه دادی چې ته د زمري مجلس ته تل ورځه، او څه چې د ده او مور په منځ کې یـې زمـا په خصوص کې پیښیږي ما ورباندې خبروه.

روزبه دمنه سره دا خبره ومنله ، مال یې خپـل کورتـه یـوړاو سـبا تـه د زمـري مجلس ته ورغی.

کله چې د زمري مور راغله او زمري جلسه جوړه کړه نو مور ته یې وویل:

– وېرېږم چې دمنه به مظلوم وي او ګومان کوم چې دی به په دې ګناه کې نه وي.

مور یې په غضب شوله او چیغه یې کړله، ویې ویل:

– دمنه په خپل مکـر نـژدې ده چـې عقـل دې وران کانـدي، او پاچـاهي دې ویجاړه کړي!

نو زمری یې پرېښوده او ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري امر وکړ ، مجلس جوړ شو، شاهدان راغلل او دمنه راوستل شــو او قاضــي دمنه ته وويل: ای دمنه! خبره خو پټه نه پاتې کېږي خو موږ تاته فرصــت درکــوو چــې توبه وکاږه او په خپله ګناه او جرم اقرار وکړه نو چې اقرار دې وکــړ دا اقــرار بــه ستا د عفوې سبب شي، خو که انکار او اصرار دې وکړ نو خپل ځان ته به يې بده کړې.

دمنه وويل:

– عادله قاضي، ته په داسې ګناه له ما څخه اعتراف او اقرار غواړې چــې مــا نــه ده کړې او که اقرار وکړم نو دا به مې د خپل ځان سره خيانت کړی وي او بې ګناه بــه مې په بلا کې اچولی وي. ته خو ما اوس محاکمه کوې ځکه چــې تــه مــې پــه ظلــم تومتي کوې. څرنګه ته له ما څخه غواړې چې ځان پــه زوره تــومتي او پــه بــلا ککــړ کړم؟ بيا به زه تاسو ته څه عذر کوم چې ځان په زوره تومتي کړم او تاسو راضي کــړم؟ اي قاضي ته خو په عدل او پاکۍ معروف او مشهور يې ته څرنګه لــه مــا څخــه داســې اقرار غواړې.

قاضي مجلس خپور کړ او قضيه زمري ته ورواستوله شــوه او کلــه چــې قرائــت شوله او د زمري مور خبره شوه نو په غضب يې وويل:

– زه په دې خپه نه يم او دا فکر نه وهم چــې دمنــه څــه کــړي او يــا ګــران او محترم دوست يې له تا څخه په مرګ بېل کړی دی، بلکې زه دې ته چــرت وړې يــم چې ژر دی چې دمنه به دې په پاچاهۍ او رعيت کې په خپــل مکــر او حيلــو ګــډوډي پېښه کړي او بيا به مو هېڅ له لاسه پوره نه وي.

نو زمري په کلکه وويل:

– اوس به نو هرومرو هغه څوک راښيې چې تاته يې د دمنه خبــرې کــړي دي ځکه چې زه په دې نه يم خوښ چې بې دليله او برهانه يې ووژنم.

مور يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– دا راز خپرول خو ډېر بد کار دی خو زه به له هغه چا څخه وغواړم چې په خپله درته هغه څه ووايي چې اورېدلي او ليدلي يې دي.

د زمري مور پړانګ ته راوړاندې شوله او د حق د مرستې او په رعيت کې د عدل د خپرولو له پاره يې ترې شاهدي وغوښتله. زمري ته پړانګ راغی او څه چې يې له کليله او دمنه څخه اورېدلې و چې دمنه په خپل جرم او ګناه په خپله مقر و تهول په قسم ورته بيان کړل.

کله چې د دمنه سره بندي چيتا داخبره واورېدله چې پړانګ خو شاهدي وويله او اعتراف يې وکړ، نو زمري ته يې څوک ورواستاوه او خبر يې کړ چې زه هم شاهدي وايم. نو زمري دی هم راووېسته او د ده شاهدي يې واورېدله . شاهدي يې کټه مټه د پړانګ د شاهدۍ په شان وه.

کله چې زمري له دوی دواړو څخه پوښتنه وکړه چې دا دومره موده مو ولې شاهدي پټه کړې وه نو هر يو وويل:

– وېرېدم چې بل شاهد به نه وي او د يو شاهد شاهدي خو قبوله نه ده.

زمری خوشاله شو او ددمنه په قصاص کولو يې حکم وکړ.

بيدپای فيلسوف وويل:

– څوک چې دا کيسه واوري او دا عاقبت وګوري نو پوهېږي چې څوک چې خپله ګټه د نورو په ضرر او تاوان کې لټوي نو په بده جزا به واوړي.

دابشليم پاچا وويل:

– رښتيا دې وويل ای فيلسوفه او حکيمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورکوړۍ کوتره

دابشليم پاچا بيدپای فيلسوف ته وويل چې ځرنګه سړی سپېځلي دوستان موندلای شي او ځرنګه دوستي ټينګه ساتل کېږي.

بيدپای وويل چې ښه پوښتنه دې وکړه ځکه چې هوښيار د دوستانو د دوستۍ سره هېڅ شي نه برابروي، او هر څه شتمني چې په دنيا کې سړی لري سړي ته دومره ګټه نه شي اړولای لکه دوستان او اشنايان يې چې سړي ته اړولای شي. د همدې دوستانو په مرسته سړی د هرې ښې خاوند کېدلای شي . د کورکوړۍ کوترې، موږک، هوسۍ او کارغه کيسه ددې مطلب د ثبوت له پاره ښه مثال دی.

پاچا وويل چې دا کيسه ځرنګه ده؟

بيدپای وويل:

– د داهر ښار سره نږدې يو ځای و چې ډېرې ګڼې ونې، رواني اوبه، ډېر واښه او مېوې په کې وې نو حيوانات او مرغان هم په کې ډېر وو چې ښکاريان به ورتلل او هلته به يې هر وخت ښکار کاوه.

په دې مرغانو کې يو کارغه وه چې په يوه ګڼه لويه ونه کې يې ځاله جوړه کړې وه. يوه ورځ په خپله ځاله کې ناست و چې يو ډېر بدشکله ښکاري يې په نظر ورغی چې ډېر سخت زړی او بې رحمه و، په اوږو يې جال او په لاس کې يې امسا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه تړوکرۍ وه او برابر د ده د ځالې ونې ته را روان و. نو کارغه ترې ووېرېده او په زړه کې یې وویل:

– دا ښکاري خو دلته د کوم حیوان یا مرغه د ښکار له پاره راځي، او دلتـه چـې راغلی دی یا زما او یا د نورو مرغانو هلاکت پسې راغلی، نو ښه داده چې ترې پټ شم او دده په حیلو ونه غولېږم او وګورم چې په نورو مرغانو څه کوي.

کله چې ښکاري دې ونې ته ورسېد جـال یـې وغـوړاوه او دانـه یـې ورلانـدې وشیندله. په یو نژدې ځای کې ورته پټ شو چې مرغان یې ونه ګوري او وانه لوزي.

لږ درنګ وروسته یوه کوتره چې کوړکوړۍ نومېدله او د کـوترو مشـره وه دلتـه راغله چې نورې کوترې هم ورسره وې. کله یې چې دانې ولیدلې پر جال ړندې شـولې ، پر دانو ور پرېوتلې او ټولولې یې. د جال تارونه یې په پښو پـورې ونښـتل او د الوتلـو څخه عاجزه پاتې شولې. هرې یوې ټوپونه وهل چې ځان خـلاص کـړي. کوړکـوړۍ چې ولیدل ورته یې وویل:

– داسې نه کېږي ، هره یوه یوازې د ځان خلاصول مـه غـواړئ . پـه دې ډول ځان نه شئ خلاصولای. په یوه زور، زور وکړئ چې جال مو پورته په هوا کړ نو بیا بـه په یوه پلمه ځان خلاص کړو خو چـې اوس د ښـکاري لـه ګوتـو ځـان خـلاص کـړو همدومره بس دي. نو دوی په یوه زور، زور وکړ او جال یې په هـوا کـړ. خـو ښـکاري ورپسې و په دې تمه چې اخر به ستړې شي، راوبه لوېږي او زه به یې ونیسم.

کله چې کوړکوړۍ ولیدل چې ښکاري ورپسې روان دی نو خپلو ملګرو تـه یـې مخ وروااړوه او ویې ویل: دا ښکاري خو مـوږ پسـې را روان دی او تمـه یـې لا نـه ده شکېدلې که په هوا ځو نو دی راپسې راځي او هر ځای کې چې ولوېدلو دی مو نیسـي خو راځئ چې په کلو او ښارونو ترې تېرې شو او ځانونه یې له سترګو پناه کړو. نـو بیـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به زما د یوه موږک ملګري په سوړه ورپرېوزو ، د جـال تارونـه بـه زمـوږ لـه پښـو نـه وشکوي او له دې بلا څخه به مو خلاصي کړي.

کوترې والوتلې او کارغه هم پسې ورروالوته چې وګوري چې اخر څه کېږي.

کله چې له ښکاري نه کوترې پنا شولې نا امیده خپل کور ته راوګرځېده.

کوړکوړۍ چې پوه شوه چې ښکاري نـه خلاصـې شـولې نـو د خپـل ملګـري موږک – چې "زیرک " نومېده – په سوړه ورولوېدلې ورغږ یـې کـړ، هغـه لـه سـوړې ورته ځواب ورکړ:

– څوک یې؟

کوړکوړۍ ورته وویل:

– زه یم ستا ملګرې کوړکوړۍ، درسره مې کار دی.

موږک چې له سوړې راوواته ګوري چې ملګرې یې او د هغې ملګري پـه جـال کې نښتي دي نو خپه شو او ورته یې وویل:

– ته خو هوښیاره او پوهه وې او په هر څه کې به دې فکر کاوه اوس څه شـي په دې غم ککړه کړې؟ چې اوس ترې وتلی نه شې؟ عقـل دې چېرتـه الـوتی و چـې دانې دې لیدلې او جال دې نه لیده؟

نو دې ورته وویل:

– ما مه ملامتوه. څه چې سړي ته مقرر وي هغه پېښېږي، که هر څومره سـړی پوه وي ځان ترې نه شي خلاصولای.

موږک وویل:

– رښتیا دې وویل خو انسان باید خپل عقل په کار واچوي چې په پای کـې بیـا پښیماني نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نو موږک له کوږ کوړۍ نه د جال د غوټو په پرېکولو پیل وکړ او په ډېره خوښۍ په کار لګیا و. کله چې کوږکوړۍ د موږک توجه ځان ته ولیدله نو ورته یې وویل:

– ملګریه، ما پرېږده او د ملګرو پښې مې له بندونو څخه خلاصې کړه.

خو موږک ددې خبره وانه ورېدله نو بیا یې ورته خپله هیله ښکاره کړله. کله چې له دې نه موږک دا کار ولیده نو په تعجب یې ورته وویل:

– دا څه وایې؟ ځان دې هېر دی او نور دې یاد دي؟ تاته له ځان نه د نورو ژوند ګران دی؟

دې وویل:

– زه وېرېږم که ما اول خلاصه کړې نو ستړی به شې او ملګرې به مې درنه په جال کې بندې پاتې شي او چې یوه هم پاتې شي زما بیا ژوند په کار نه دی. خو که دوی لومړی خلاصې کړې نو زه ډاډه یم چې بیا ما په خوشالۍ خلاصوې.

موږک چې دا خبره واورېدله ورته یې وویل:

– دا خو ډېر ښه خوی او ښه اخلاق دي. او همدا صفات دي چې زما مینه تاسره ورځ په ورځ زیاتوي او ستا په ملګرۍ مې ټینګوي.

موږک ټولې کوترې خلاصې کړلې او په خپله مخه والوتلې.

کارغه چې د موږک دا کار ولیده نو موږک یې ښه په نظر راغی او دده دوستۍ ته یې زړه ښه شو. نو سوړې ته یې را نژدې شو او موږک ته یې ورغږ کړ:

– زیرکه! او زیرکه! راووځه غواړم چې ماته د دوستۍ لاس راکړې ځکه چې زه ستا په خوی مین یم.

نو موږک ځواب ورکړ:

– ته څوک یې؟ او زما دوستي د څه له پاره غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارغه وويل:

– زه ستا کارغه ملګری يم تا چې څه د کوړکوړۍ سره وکړل نو ستا خوی مې ډېر خوښ شو او ستا د دوستۍ مينه را سره پېدا شوله. نو راووځه چې په ليدو او ملاقات دې خپل زړه يخ کړم.

موږک چې د کارغه خبره واورېدله د سوړې خولې ته راغی چې ده ته کارغه ښکارېده او کارغه ته دی نو ورته يې وويل: ستا په حال تعجب کوم. کارغه کله د موږکانو دوست کېدلای شي؟ او موږک باندې کله دومره بې عقلۍ او ناپوهۍ زور کړی چې خپل خوړونکي سره دوستي وکړي؟ د موږک غوښه خو ستا ځان دی، زړه دې جمع کړه او زما له غولېدلو نه تمه پرې کړه.زه ستا په خبرو نه غولېږم.

کارغه چې دا خبره واورېدله ويې ويل:

– رښتيا چې ته خو زما په څېر کارغانو خوراک يې خو زه پوهېږم چې خوراک دې ماته دومره فايده نه رسوي او دوستي به دې تر مرګه پورې وي. نو زه ستا د خوراک په تمه نه يم او دوستي دې غواړم. نو ما مه خپه کوه ، له دوستۍ نه مې مخ مه اړوه او زړه مې مه ماتوه.

موږک وويل:

– ستا په دوستۍ باور نه لرم ځکه چې زموږ او ستاسو په منځ کې دښمني پخوانۍ او په خټه کې اغږل شوې ده که ته مې ونه خورې بل ورور به دې رابانده خپله خوا سړه کړي. نو زما له دوستۍ زړه صبر کړه.

کارغه ځواب ورکړ:

– زه ستا په مطلب پوه يم ، ته رښتيا وايې او بايد احتياط وکړې چې په بلا ککړ نه شې خو ګومان کوم چې ستا به هم زما د دوستۍ په رښتياوالي يقين راغلی وي او تر هغه به دې دروازه پرې نه ږدم چې يا راسره د دوستۍ لاس راکړې او يا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړې او تندې ستا په دروازه کې مړ شم. که ته زما له قوم نه وېرېږې نو دا هم دومره خبره نه ده ځکه چې زه ستا دوست او مین یم او دوست خپل دوست له دښمن څخه ژغوري اګر که دښمن یې ورور هم وي ، زه به ستا په سر ټول کارغان پرېږدم او تا به واخلم.

نو موږک د کارغه په خبره باور وکړ او ورته راووواته او یو تر بله یې سره په مرکه او ملاقات زړونه ساړه کړل او پاخه دوستان شول. یوه ورځ کارغه موږک ته وویل: ستا سوړه په لار کې ده او دلته هلکان لوبې کوي نه چې یوه ورځ دې په تیره وولي او مړشې نو بیا به دې ټول عمر په غم کې تېروم. زموږ په وطن کې هر څه ډېر دي او د خوشالۍ وطن دی نو ښه داده چې له دې ځایه ولاړ شو او هلته و اوسېږو. موږک د کارغه په شا سپور شو او ولاړل یوې چینې ته چې یوه شمشتۍ په کې اوسېدله. چې د کارغه دوسته او ملګرې وه.

شمشتۍ کارغه او موږک ولیدل. اول خو یې ونه پېژندل نو ووېرېدله او وتښتېدله، خو کارغه ورته په نامه ورغږ کړ او له خپله ځانه یې خبره کړله نو ډاډه شوله او راووتله.

کارغه موږک ته وویل:

– دا شمشتۍ زما ملګرې ده ، باید چې ته یې هم خپله ملګرې وګڼې او زما او ددې په منځ کې فرق ونه کړې.

بیا کارغه شمشتې ته د موږک د صداقت کیسه تېره کړله او د خپلې دوستۍ کیسه یې ورته وویله.

نو شمشتۍ موږک ته هر کلی وکړ ، د ده د ښه خوی او اخلاق تحسین او شاباسی یې وکړ. نو ترې ویې غوښتل چې د تېر ژوند کیسه ورته وکړي او خپل سرګذشت ورته بیان کړي . موږک وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– هغه سوږه چې زه په کې اوسېدلم زما اصلي وطن نه و. زه په ماروت ښار کې د یو زاهد سړي په کور کې چې نه یې ښځه درلوده او نه اولاد – یواځې یې ژوند کاوه – وزبږېدلم او لوی شولم. ده به خپل طعام څه خوړ او څه به یې په ځوړندې کې ځوړنداوه. ما به طعام پسې ورخېز کړ او څه به مې ترې را واخیسته، ما به هم خوړ، او ملګرو ته به مې هم ورکاوه.

دې زاهد ډېر زیار وایست چې ما له خپل طعام نه ایسار کړي خو رابانـدې بریالی نه شو. یوه شپه یې مېلمه راغی او ده ورته زما له لاسه ګیله وکړه نو مېلمه ترې وپوښتل:

– دا طعام چې خوري یو موږک دی او که ډېر دي؟

زاهد ورته وویل:

– موږکان خو ډېر دي خو یو ځانګړی موږک دی چې ځوړندې ته ورخېژي ، په خپله هم زما طعام خوري او نورو ته یې هم را غورځوي.

مېلمه تعجب وکړ او ویې ویل:

– شاید چې کوم سبب وي چې دا موږک یې دومره زړور کړی ورشه تسکوره راوړه شاید چې دده د زړورتیا علت ومومو.

کله چې زاهد تسکوره راوړه نو مېلمه دستي پاڅېده او زما سوړې ته راغی. زه فوراً د بل موږک سوړې ته وروتښتېدلم. زما په سوړه کې سل روپۍ وې، نه پوهېږم چې چا ایښې وې او د څه له پاره یې ایښې وې. نو مېلمه زما سوړه په تسکوره وکنودله، او چې روپۍ یې پیدا کړې. نو په خندا یې وویل:

– همدا د ده د زړورتیا سبب و. له ننه وروسته به بیا هیڅ توپ ونه وهلای شي ، نور ترې خلاص شولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ يې سره په خپل منځ کې ووېشلې. د همدې ورځې په ماښام موږکان را ټول شول او ويې ويل:

– ته خو زموږ مشر يې او موږ له لوږې مړه شو. نو د عادت سره سم پاڅه او موږ ته طعام راوړه.

زه ځوړندې پسې ورپاڅېدلم خو چې هر څومره ټوپونه مې ووهل ور ونه رسېدلم. موږکان زما په عجز او بې وسۍ پوه شول. ځينو ځينو نورو ته وويل: اوس نو زموږ په مشر کې څه ګټه او خير نشته، اوس په خپله نورو ته اړ دی نو رانه ولاړل، خپاره شول او زما له دښمنانو او بدخواهانو سره ملګري شول . بيا به يې ماپورې ټوکې او مسخرې کولې، نو په دې وضعيت مې ډېر چورت خراب شو او په زړه کې مې وويل.

– رښتا چې ورونه، دوستان او خپلوان تر هغه پر سړي نه راټولېږي تر څو چې شته ونه لري، چې شته دې پيدا کړل نو بيا دې هر څوک خپل دی، اوچې څوک بې وزلی شو ورونه، دوستان او خپلوان بيا ترې په خپله مخه تښتي.

نور مې نو دلته ژوند تېرول بد راغلل او بيديا ته ووتلم. د کوږکوږۍ په دوستۍ سر لوړی شولم او ددې د ملګرۍ له برکته د کارغه د ملګرۍ په لاس ته راوړلو هم برياليی شولم. او کارغه به تل ستا ښه بيانول او ستا صفتونه به يې کول دغه دی ستا د ملګرۍ خواږه مې هم وڅکل.

نو شمشتۍ چې د موږک دا کيسه واورېدله زړه يې ورباندې خوږ شو او ورته يې وويل:

– زه خو ستا عقل او پوهې ته هکه پکه يم او څه ښه خوږه ژبه لرې خو راته ښکارې چې د هغه مال او خپل وطن پسې او په خپل مسافرتوب خپه او غمجن يې. له دومره عقل پوهې سره سره دومره غم درسره وړ نه دی ځکه چې د لوړ همت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوند په هر ځای کې قدر او عزت کېږي که فقیر او خوار هم وي. لکه زمري چې ناست هم وي نور حیوانات ترې وېرېږي او هغه ځوان چې ځواني او شجاعت نه لرې څوک ورته د احترام په سترګه نه ګوري او خلکو ته سپک ښکاري لکه سپي ته چې د سرو سپینو غاړه کی او ګونګري ورواچول شي بیا هم څه قدر او منزلت نه لري. نو تر څو چې عقل او خوی لري هېڅ د فقر او مسافرۍ پروا مه کوه ځکه چې عقل د انسان له پاره ښه مال او خوی یې ښه وطن دی.

کله چې کارغه د شمشتۍ او موږک مرکه او مجلس واورېده نو ډېر خوښ شو.

دوی سره کیسې او مرکې کولې چې له سارانه وربانديې یوه هوسۍ راغله. له وېرې شمشتۍ په اوبو غوټه شوه ، کارغه یوې ونې ته وروالوته او موږک په یو سوري کې پاتې شو. ګومان یې وکړ چې ښکاري هوسۍ را په مخه کړې او ورپسې را روان دی.

خو دوی ښکاري ونه لیده. نو کارغه پورته والوته او هر هر ځای ته یې وکتل. ډاډه ببرته خپلو ملګرو ته را وګرزېده او ورغږ یې کړ:

– ګرانو ملګرو هېڅ وېره نشته، راځئ ببرته خپلې مرکې ته.

بیا نو شمشتۍ را ووتله او هوسۍ یې راوغوښتله ورته یې وویل چې اوس نو خپله کیسه وکړه. هوسۍ وویل چې ما یو سړی په سارا کې ولیده ګومان مې وکړ چې ښکاري دی نو ترې را وتښتېدلم او دلته راغلم.

شمشتۍ ورته وویل:

– اوس نو بې غمه اوسه او هېڅ غم مکوه دلته ښکاري نشته. دلته موږ سره د یو ګران ملګري په ډول اوسه واښه ډېر دي.

د هوسۍ هم ورسره خوښه شوه او ورسره پاتې شوه. د یو څپرګي لاندې سره اوسېدل او خپلې مرکې به یې کولې. یوه ورځ هوسۍ څرېدلو ته ولاړه او ایساره شوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشتۍ کارغه ته وويل هسې نه چې کوم تکليف ورته رسېدلی وي. ته پسې ورواله‌وزه او پوښتنه يې وکړه.

کارغه والوته او غمجن بېرته راوګرځېده او ورته يې خبر ورکړ چې هوسۍ خو د ښکاري په دام کې نښتې ده.

نو شمشتۍ موږک ته وويل: همدا دې د کومک او کار وخت دی ، بل هېڅوک نه شي کولای چې هوسۍ خلاصه کړي. نو د ملګرې غم دې وخوره!

موږک راغی او له هوسۍ نه يې د لومو په شکولو او کرنجولو پيل وکړ.دی په خپل کار لګيا و چې شمشتۍ راغله او هوسۍ ورته وويل: ښه ونشو چې راغلې ځکه که ښکاري راشي او موږک دام کرنج کړي نو زه به وتښتم! موږک به په سوړه ننوځي او کارغه به والوزي، نو ښکاري به موږ يوه ته هم راونه رسېږي. پاتې ته شوې چې د پټېدلو ځای به هم نه مومې او تښتېدلای به هم نه شې ځکه چې په خوزېدلو کې سسته يې. شمشتۍ ورته ځواب ورکړ:زه نه شم کولای چې له تاسو نه لېرې و اوسم ځکه چې د دوستانو بېلتون د روح بېلتون دی او له دوستانو څخه په لېرې ژوند کې ګټه او خير نشته.

لږ وخت لا تېر نه و چې ښکاري ددوي پلو را روان شو، هوسۍ موږک او کارغه وتښتېدل ښکاري چې وليدل چې دام يې شکېدلی دی او له شمشتۍ پرته يې نور څه په نظر را نه غلل نو په غوسه شو او په رسۍ کې يې وتړله. کله چې کارغه هوسۍ او موږک دا منظره وليده ډېر خپه شول . موږک وويل:

– افسوس د شمشتۍ په حال چې پرته له دوستۍ نه يې نور هېڅ ارمان په زړه نه درلوده.

کارغه او هوسۍ ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– افسوس به دې شمشتۍ له دې غمه چې په کې نښتې ګونډې خلاصه کړي؟

موږک وويل:

– ماته چل راځي. هوسۍ دې ولاړه شي او د ښکاري په مخکې دې ځان مردار واچوي او کارغه به راشي په ټونګو به يې وهي، چې ښکاري ګومان وکړي چې هوسۍ مړه ده او چا ويشتلې ده نو شمشتۍ به پرېږدي ، دې پسې به ورشي نو کله چې ښکاري هوسۍ ته لږ ورنژدې شو په مخکې دې يې لږه ولاړه شي او د ده تمه دې ځان ته پيدا کړي تر څو چې زه وکولای شم چې رسۍ کرنج کړم او شمشتۍ خوشې شي.

د موږک فکر د کارغه او هوسۍ خوښ شو ، دده په مشوره او پلان يې عمل وکړ. ښکاري د هوسۍ پسې ته، تر څو چې ستړی شو او له ښکاره بې هيلې شو نو بېرته خپل دام او رسۍ ته راغی، ګوري چې شمشتۍ هم نشته او تښتېدلې ده او رسۍ يې نوره هم پسې شکېدلې ده. نو په زړه کې يې وويل: دا خو د پېريانو او شيطانانو ځمکه ده . له کوم ځای نه چې راغلی و بېرته هلته ولاړ . هوسۍ، شمشتۍ ، کارغه او موږک بېرته خپل ځپرګې ته ولاړل.

چې دابشليم دا کيسه واورېدله، خوشاله شو او ويې ويل:

– رښتيا چې ښه دوستي په دنيا کې ښه شی دی او د ښې دوستۍ خاوندان د ښه ژوند خاوندان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کونګان او کارغان

دابشليم پاچا بيدپای فيلسوف ته وويل:

– ماله پوهانو اورېدلي دي چې تر څو چې د سړي او دښمن په منځ کې دښمني باقي وي نو لازمه ده چې په خپل دښمن ونه غولېږي. او د دښمن په ځان ذليل او بې درکه ښکاره کولو تېر نه وځي. نو که کومه کيسه دې په دې باره کې ياده وي چې ددوي ددې وېنا تائيد وکړي ويې کړه.

بيدپای وويل:

– پوهانو رښتيا ويلي دي ځکه څوک چې د دښمن په بې وزلی او خواری وغولېږي او دښمني يې لا تر منځه پاتې وي نو هغه ډول ضرر او شر به وروروسېږي چې د کارغانو له لاسه کونګانو ته رسېدلی دی.

دابشليم وويل چې کونګانو ته له کارغانو نه څه مصيبت رسېدلی و؟

بيدپای وويل:

– د يو غره په خوا کې يوه لويه او څانګوره ونه وه. کارغانو خوښه کړه ، په زرګونو ځالې يې په کې جوړې کړې اوپه کې به اوسېدل. او د خپل نظم او انتظام د برابرولو له پاره يې يو کارغه خپل پاچا کړ. د دوی ژوند په خپل مملکت کې په ډېره ښه توګه تېرېده او خوشاله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غره کې یو تور او تیاره غار و چې د اوسېدو وړ نه و نو کونګانو د خپل سکونت او استوګنې له پاره دا غار خوښ کړ او ځالې یې په کې جوړې کړلې چې د ورځې به ورته راتلل او د شپې به ترې تلل. کونګانو هم یو کونګ د خپلو کارونو د اداري او تنظیم له پاره پاچا کړ.

د کارغانو او کونګانو په منځ کې زړه دښمني وه چې ورځ په ورځ به زیاتېدله او ټینګېدله.

یوه ورځ د کونګانو پاچا د کارغانو په وطن تېرېده ، کارغان او د دوی وطن او ښه ژوند یې ولیده نو په زړه کې یې ورته هغه زړه دښمني را وخوځېدله او دا ښه ژوند یې په کارغانو ونه لورېده.

سبا ته یې خپل وزیران او د وطن مشران را وغوښتل او ورسره یې سلا مشوره وکړه او ورته یې وویل:

– تاسو خو پوهېږئ چې کارغان زموږ زاړه دښمنان دي چې د دښمنۍ بیخ له همدوی څخه نښتی دی . اوس ډېر ښه د کسات اخستلو وخت دی نو تاسو په دې کې څه وایاست؟

حاضرینو ورته ځواب ورکړ:

– ته زموږ پاچا یې ، موږ دې خادمان او لښکر یو چې څه امر کوی موږ یې په سر او سترګو منو او اجرا کوو یې.

نو ده وویل:

– نن شپه خپلې مښوکې او پنجې ښې تېرې کړئ او جنګ ته تیار شئ ، نن شپه زموږ او د دوی جنګ دی.

شپه تیاره شوه او کونګان په کارغانو راولوېدل ، په ډېره بې رحمۍ او تور زړه یې چور کړل.چې سبا شو کارغان خپل پاچا ته راغونډ شول او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ای پاچا تا خو ولیدل چې کونګانو پر موږ داړه وغورځوله او موږ هر یوه ته یې درد پوره را ورسېده، څوک ووژل شول، څوک ټپیان د چا وزرونه مات، د چا بڼې ووتلې او د چا لکۍ. او له ټولو بده لا دا ده چې را بانـدې زړور شـول. نـو تـا اوس د کسات اخیستلو له پاره څه تیاري کړې ده؟ کېدای شي چې دوی به بیا چپاو تـه ځـان جـوړ کړی وي ځکه چې زموږ ځای یې ولیده او زموږ په بې وزلۍ او کم توانۍ خبر شول!

پنځه تنه کارغان وو چې په ښه فکر او عقل مشـهور وو او پاچـا د وزیرانـو پـه حیث نیولي وو ، په خپلو کارونو کې به یې په دوی باندې تکیه درلوده.

پاچا خپل وزیران را وغوښتل چې ورسره مشوره وکړي. اول وزیر ته یـې وویـل په دې کار کې ستا څرنګه خوښه ده؟

نو هغه ځواب ورکړ:

– په دې باره کې له ما مخکې پوهانو رایه او خپلـه خوښـه ښـکاره کـړې ده او ویلي یې دي چې د زورور دښمن نه تېښته په کار ده.

دده په دې خبره پاچا افسوس وکړ او بل ته یې وویل: ستا څرنګه خوښه ده؟

هغه ځواب ورکړ چې: بې له تېښتې بله چاره نشته.

پاچا چې ددوی نظر واورېده په قار شو او ویې ویل:

– دا څه وایاست؟ همدا رایې لرئ؟ خپل وطن دښمنانو ته پرېږدو؟ ډېـر شـرم او ډېر ذلت دی! مرګ موښه دی نه خپل وطن نورو ته پرېښودل. موږ باید دښـمنانو سـره کلک جنګ وکړو خپل وطن وساتو او بیـا د دوی د ناخـاپي چپـاو او حملـې مخنیـوی وکړو.

چې دا خبرې یې وکړې قهر یې سوړ شو او دریم وزیر ته یـې وویـل: تـه څـه وایې؟

هغه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو نه په جنګ موافقه لرم او نه په تېښته زما خوښه دا ده چې جاسوسان ورولېږو چې د دوی حال مالوم کړي که يې خوښه وه چې موږ سره د جزيې په ورکولو – چې موږ به يې هر کال دوئ ته ورکوو – سوله وکړي. پاچاهان د زورورو دښمنانو سره همدا عادت لري چې د خپل ځان او وطن د ساتنې له پاره هر کال خراج ورکوي.

بيا پاچا له څلورم وزير نه پوښتنه وکړه:

ته په دې سوله کې څه وايې؟!

هغه ځواب ورکړ:

– تېښته خو له دې ډول سولې نه ډېره ښه ده چې خپل ځان په لوی لاس دښمنانو ته سپک او ذليل ښکاره کړو. او څرنګه په دې کار راضي شو حال دا چې موږ له دوي نه ساهو، نيک اخلاقه او شريفان يو؟ بې له دې چې موږ سره په دومره مال سوله وکړي چې زموږ له لاسه نه کېږي په بل ډول به سوله ونکړي. نو ښه داده چې ځان جنګ ته تيار او آماده کړو او د دښمن مخ له ځانه واړوو.

پاچا په دې فکر خوښ شو خو دا ورته ښه ښکاره شوه چې له پنځم وزير څخه هم د خپلې رايې ورکولو پوښتنه وکړي نو ويې ويل ته په دې باره کې کومه ښه رايه او فکر لرې که نه؟

پينځم وزير ځواب ورکړ:

– هغه څوک چې له ځانه زورور سره مقابله او جنګ کوي نو [ ځان ته تاوان رسوي. زه د جنګ پلوی نه يم خو هغومره چې له جنګه کرکه لرم هماغومره مې دا هم زړه نه مني چې دښمن ته ځان وروسپارم. زه څه نورې خبرې هم لرم چې که د پاچا خوښه وي يوازې به يې ورته ووايم.

پاچا او وزير يو ځانته ځای ته ولاړل. پاچا پوښتنه وکړه:

زموږ او د کونګانو د دښمنۍ علت درته معلوم دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر وویل:

هو. ډینګانو قصد درلود چې کونګ خپل پاچا کړي. خبره خلاصه وه چې یو کارغه راورسېد. ډینګانو وغوښتل چې د کارغه نظر هم وپوښتي. کارغه ځواب ورکړ چې که ټول نومیالي مارغان، باز، تاووس، او ګوربت هلاک شوي هم وي نو غوره ده چې مرغان بې پاچا ګوزاره وکړي خو د کونګ مشرۍ ته دې هېڅکله غاړه نه ږدي ځکه چې کونګ بد صورته، بد سیرته، بد غږی مارغه دی چې رحم یې لږ او قهر یې ډېر دی. تر دې چې د ورځې د رڼا له نعمته هم محروم دی. ډینګان باید فکر وکړي او د عقل په مرسته ځان ته یوه لار جوړه کړي، لکه هغه سوی چې ځان یې د سپوږمۍ استازی کړ او خپل قام یې د پیلانو له شره خلاص کړ. ډینګانو ترې د کیسې جزییات و پوښتل، کارغه وویل :

« د پیلانو پر ملک وچکالي راغله، ټول ډنډونه، ویالې او چینې وچ شول، تر دې چې نورې یې د څښاک اوبه هم نه میندلې. پیلانو له خپل پاچا څخه و غوښتل چې د دوی د ستونزو له پاره یوه لار پیدا کړي. د پیلانو پاچا هر لوري ته ځري واستول. یو استازي د داسې یوې ورشو خبر راوړ چې یوه لویه چینه په کې بهېده. دې چینې ته یې د سپوږمۍ چینه ویل او د چا نه یادېدل چې کله هم وچه شوې وي. پیلان ټول هغې ورشو ته کډه شول. خو دغه ځای د سویانو وطن و او په هغه ځای کې چې سوی او پیل سره یو ځای اوسي نو سوی ته خود په خوده تاوان رسېږي. ډېر سویان د پیلانو تر پښو لاندې شول. سویانو خپل پاچا ته شکایت وکړ. د سویانو پاچا خپل مشاورین راوغوښتل چې یوه چاره پیدا کړي. یو هوښیار سوی چې پېروز نومېده وویل چې زه به دا ستونزه حل کړم. یوه شپه چې د څوارلسمې سپوږمۍ د اسمان په منځ ځلېده، پېروز د پیلانو مېشت ځای ته ورغی له یو پټ ځایه یې د پیلانو پاچا ته غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زه د سپوږمۍ استازی یم. سپوږمۍ تاسو ته ډېره په غوسه ده وايي چې پیلانو زما بې احترامي کړې ده، هره ورځ هغې چینې ته راځي چې زما په نامه نومول شوې ده او اوبه يې خړوي. نو ورشه، د سپوږمۍ د چینې په اوبو اودس وکړه او له سپوږمۍ څخه بخښنه وغواړه.

د پیلانو پاچا چینې ته ورغی، سپوږمۍ په کې په خپل ټول ښایست ځلېده. ده چې خپل خرتم ورننېږدې کړ، اوبه و ښورېدې او د سپوږمۍ تصویر ړنګ شو. سوی بیا د پیلانو پاچا ته وویل چې ګوره سپوږمۍ درته دومره په غوسه ده چې له قهره رېږدي. پیل ډېر سخت ووېرېده، سپوږمې سره يې ژمنه وکړه چې نور به په دغه ځای کې نه پاتې کېږي. د سوی حیلې ورشو د پیلانو له شره خلاصه کړه.

کارغه خپلې خبرې پسې اوږدې کړې:

– دا کیسه مې درته د دې له پاره وکړه چې تاسې پوه شئ چې په تاسو کې هم ډېر داسې کسان شته چې له دې خوارۍ مو وژغوري چې کونګ مو پاچا شي. داسې مکر او غدر او بې لوزي نه شته چې په کونګانو کې نه وي او هر څوک چې د غدار مشري ومني هغه څه به پرې وشي چې په زرکې او سویې وشول.

ډېنګانو وویل چې هغه کیسه څرنګه وه؟ کارغه وویل:

– په یوه ونه کې مې ځاله درلوده. زما ګاونډۍ چې د ونې ډډ کې په یوه سوري کې اوسېده یوه زرکه وه چې څه موده له کوره ووتله. د هغې په غیاب کې یوه سویه راغله او د دې په کور کې يې واړول. کله چې زرکه بېرته راغله سویې ته يې وویل چې کور ورته پرېږدي خو هغې و نه منله. اخر يې فیصله وکړه چې خپله دعوه به یوې شېخې پیشو ته وروړي چې د ورځې روژه وي او د شپې ټوله شپه په لمانځه ولاړه وي، غوښې نه خوري او یوازې په وښو ګوزاره کوي. د پیشو فیصلې ته به دواړه غاړه ږدي. چې ورغلې و يې لیدل چې پیشو په لمانځه ولاړه ده. دواړه یوه ښه شېبه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناستلې چې پیشو سلام و ګرزوي. پیشو چې لمـونځ خـلاص کـړ دوی ورتـه خپلـه قضیه وړاندې کړه].

پپیشو دوی ته وویل:

– په غوږو درنه یم، چندان څه نه اورم لږې رانژدې شئ او خبـره مـو بیـا راتـه وکړئ.

نو دوی ورته را وړاندې شولې او خپله قضیه یې بیا له سره ورواورولـه نـو پیشـو دوی ته وویل چې غواړم چې پخوا له حکم کولو څخـه تاسـو تـه یـو ورم او نصـیحت وکړم نو غوږ راته کېږدی او زما خبره او نصیحت او ورم واورئ هغه دا چې: لـه خدایـه ډار وکړئ او پرته له حق څخه نور څه مه غواړئ ځکه د حق غوښتونی ژغـورل شـوی او له غمه خـلاص دی کـه څـه هـم حکـم د ده پـه ګټـه نـه وي شـوی او د باطـل غوښتونکي تاواني او زیانمن دي که څه هم حکم دده په ګټـه شـوی وي. او لـه دنیـا څخه د سړي پرته له ښه عمل او کـار څخـه نـور څـه مـال وي کـه اولاد وي او کـه ملګری هېڅ نه پکاربږي.

دوی چې د پیشو نصیحت او ورم واورېده نو ورته حیرانې او په فکر کې شولې.

دوی لا په همدې فکر کې ډوبې تللې وې چې پیشو پـرې ورټـوپ کـړ ، دواړه یې ونیولې او له ستونې یې تېرې کړلې.

ډینګانو چې د کارغه خبره او نصیحت واورېده نو د کونګ له پاچـا کولـو څخـه یې نټه او انکار وکړ.

کله چې دوی سره سلا او مشوره کوله یو کونګ چې پټ و او دوی نه و لیـدلی د کارغه ټولې خبرې واورېدلې ، ناڅاپه پرې راوواته او ورته یې وویل:

– بې ګناه دې زموږ نوم بد کړ، موږ تاسو سره څه بد کړي دي چـې دومـره دې په سپکو سپکو نومونو یاد کړلو او هغه خیر اوګټه دې له موږ نه چپه کړه چې نـژدې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زموږ په برخه شوې وای. په دې خبره دې زموږ او کارغانو په منځ کې د عداوت او دښمنۍ تخم وکاره او هېڅکله به مو درته له زړه ونه وځي ځکه چې وايي:

پرهر د تورې ښه دی چې به جوړ شي په مرهم

خو بد پرهر د ژبې وي له عمره سره سم

بیا دا کونګ ولاړه خپل ځای ته او نور کونګان يې د کارغه په دې خبره خبر کړل.

کارغه په خپله ګناه او خطا پوه شو او د نورو په کارو کې د لاس وهلو په ګناه يې خپل ځان ملامتاوه، خو ملامتيا او ځان غندلو يې بيا څه فايده نه کوله ، اوبه له ورخه تېرې وې. ګناه ده وکړه او زور يې دادی موږ ته راځي.

پاچا وويل چې رښتا ده چې د پلارانو د ګناه او جرم جزا اولادونو ته رسېږي. ښه اوس نو ووايه چې تا څه فکر کړی دی؟

پنځم وزير وويل جنګ خو موږ ته ضرر کوي او ګټه نه را رسوي ځکه چې موږ له دښمن څخه په زور او وسله کې کم يو. او تېښته تر دې لا هم بده ده ، هېڅوک چې ازاد او اصيل وي دا سپکاوی نه غواړي نو بايد له چل څخه کار واخلو چې دښمن مو پو پنا شي او موږ روغ رمټ پاتې شو. اوس زه له تا څخه دا غواړم چې د خپل ټول لښکر په مخکې زما بڼې او لکې وباسې او په ټونګو مې ځای په ځای ووهې تر څو چې وينې را څخه وبهېږي نو بيا مې د دې ونې بېخ ته ورګوزار کړه او ته دې د خپلو لښکرو سره ځنګل ته ځه زه به نو بيا خپل چل او حيله سرته رسوم.

پاچا چې دا خبره واورېدله نو حيران او په تعجب شو او ورته يې وويل:

– ستا زړه غواړي چې په داسې ربړونو او کړاوونو اخته شې؟

وزير ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– پاچا، وطن، کورنۍ او قوم ته ګټه اړول که څه هم د روح په بیه او قیمت وي اسان او ارزان دي.

نو پاچا پرده هغه څه وکړل چې ده غوښته نور له خپل لښکر سره ځنګله ته ولاړ.

شپه راغله او کارغه پوه شو چې اوس نو کونګان د حملې او چپاو له پاره راځي او پر ونه را لوېږي نو په زګېرویو یې پیل وکړ. ویل یې:

– آه، آه! خدای دې خوار کړه ظالمه پاچا، خپله جزا به د کونګانو د پاچا له لاسه وګورې. ما درته نصیحت وکړ او تا زما نصیحت ونه مانه او خپله سرتمبګي دې وکړه ته ډېر بې عقله او بد تدبیره پاچا یې، د خپلو ساده وزیرانو خبرې نغورې چې هیڅ خیر په کې نشته ارمان مې خپلې بڼې، لکۍ او پر هر ژلۍ بدن دی! په ژوند غواړم چې بڼې وتلی او لکۍ پرېکړی دې د ځان په څېر وګورم او سخه مې درباندې وشي.

کله چې کونګانو د ده زګېروی او خبرې واورېدلې نو د نامه او د دې مصیبت د سبب پوښتنه یې ترې وکړله. نو ورته یې وویل:

– زه برګ کارغه او د کارغانو د پاچا وزیر یم، ما غوښتل چې نصیحت ورته وکړم خو زما یې ونه منله او په دې ډول او حال یې کړم چې په خپله مې ګورئ نور نو د خپل لښکر سره کوم پلو وتښتېده.، نه پوهېږم چې کوم پلو به تښتېدلي وي.

کونګانو له ځان سره یوړ او خپل پاچا یې د ده له کیسو څخه چې ترې اورېدلې یې وې خبر کړ، پاچا ترې بیا هغه کیسه وغوښته او کارغه ورته وویل:

– ښاغلی پاچا، دا خبره کول مې نور هم درد زیاتوي خو ته وعده راکړه چې زما کسات ترې واخلې چې پر ما خبرې کول اسان شي.

کله چې پاچا د ده زګېروی او دردونه ولیدل، نو وربانـدې وغولېده او زړه یې پرې وسو او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ای بې وزلیه! زما درسره کلکه وعده ده چې ستا پوره کسات به ستا له دښمن څخه درته واخلم خو ته خپله کیسه وکړه.

نو کارغه وويل:

– زما کیسه د نورو هغه بې وزلانو د کیسو غوندې ده چې د ظالمانو پاچاهانو په لاس کېوتلي وي. ما د کارغانو پاچا ته وويل چې تاسې سره سوله وکـړي او څـه چـې ستا خوښه وي هغومره جزیه او خراج تاسې ته درکړي ځکه چې زه پوهېـدم چـې مـوږ تاسې سره جنګ نه شو کولای. د دې پر ځای چې زما خبره او نصـیحت یـې نغـوږلی وای هغه څه یې راباندې وکړل چې ته یې په خپلو سترګو ګورې.

د کونګانو پاچا له خپلو وزیرانو څخه پوښتنه وکړه چـې ددې کارغـه سـره څـه وکړي نو لومړي وزیر وويل:

– د چا چې لاس په دښمن ورسېږي او بیا یې له خپله لاسه خوشي کړي پرتـه له ندامت، پښېمانۍ او لاس مږلو نور څه په لاس نه ورځي او دا کارغـه هـم زمـوږ یـو ټګمار او چلي دښمن دی ښه داده چې پر وژلو یې تلوار وشي تر څو چـې دده د چلونـو او ټګماریو په دام کې ونه نښلو.

دوهم وزیر وويل:

– نه نه د بې وزلانو وژل بده نتیجه لري. او ده خو بیا تاسو ته پناه راوړې ده لـه تاسو نه حمایت او ساتنه غواړي. دی د اکرام او امن وړ دی.

دریم وزیر وويل:

– ښه داده چې ژوندی یـې پرېـږدئ او د خپـل پاچـا سـره د ده لـه عـداوت او دښمنۍ څخه ګټه واخلئ ځکه چې دی د خپل جنس په هغه څـه پـوهېږي چـې مـوږ پرې نه پوهېږو او کولای شي چې موږ ته ډېر خدمتونه وکړي. بلـه داده چـې هوښـیار چې خپل دښمنان سره په جنګ او دښمنۍ وګوري نو ورباندې خوښي کوي ځکه چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي سره په خپل منځ کې په غم او بده ورځ ککړوي یو بل سره خوري نو کېدای شي چې له دواړو څخه خلاص شي. لکه هغه لمانځی (زاهد) چې له غله او شیطان دواړو څخه خلاص شو چې دده په لوټلو کې سره وران شول:

پاچا وویل:

– ته پوره پوه او هوښیار یې، د لمانځي او دښمنانو کیسه موږ ته وکړه ګوندې موږ او لومړی وزیر ترې ګټه واخلو .

درېیم وزیر وویل:

– لمانځی یوه غوا وپېرودله او خپل کورته یې راوستله چې په لاره کې یو غله ولیده او ویې غوښتل چې په یو چل ترې دا غوا غلا کړي. نو ورپسې شو په دې کې ګوري چې یو شیطان هم ورسره روان دی نو ترې پوښتنه یې وکړه چې:

– شیطانه ته دلته څه کوې؟

شیطان ورته وویل:

– غله ته څه کوې؟

غله وویل:

– زه غواړم چې ویده شو چې دا غوا ترې غلا کړم.

شیطان وویل:

– دا سړی ډېر عبادت کوي په عبادت کې موږ ته تل ښکنځلې کوي. د ده دې ښکنځلو نه مو بېخي اور واخیست. نو زړه مې دی چې چېرته یې ونیسم او ځان ترې خلاص کړم.

غله وویل:

– چې داسې ده نو راځه دواړه زه او ته ملګري یو. ته دې خپل کار وکړه او زه به خپل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیطان ځواب ورکړ:

– هو! رښتیا ملګري یو زه خوشالیږم چې په انسانانو کې غله، داړه مـار، قـاتلان ډېر پیدا شي . ځکه چې دوی موږ سره په ځمکه کې د شر او فساد خپرولو کې مرسـته کوي.

شپه راغله او لمانځی له لمانځه وروسته په درانه خـوب ویـده شـو. نـو غـل او شیطان یې سرته ودرېدل چې هر یو خپل کار وکړي.

غله شیطان ته وویل:

– ته یې لږ وروسته ووژنه چې زه لومړی غوا غلا کړم.ځکه زه ډاریږم که ته یې لومړی وژنې هسې نه چې پوه شي او له ما نه غوا پاتې شي.

شیطان وویل:

– نه . نه زه نور نه ګورم ځکه که تا غوا غـلا کـړه نـو ګونـدې آواز واوري او را ویښ شي بیا پرې زما وسه نه کېږي. ته لږ وار وکړه چې زه یې ووژنم بیا ته غـوا غـلا کړه.

ددوی مجادله او شخړه سره توده شوه او زور یې وموند نو غله چیغه کړه:

– ای لمانځې، پاڅه! شیطان غواړي چې ودې وژني!

شیطان چیغه کړه:

ویښ شه غل غواړي چې غوا دې غلا کړي.

لمانځی او ملګـرو یـې د دوی غږونـه واورېـدل او لـه خوبـه را ویښ شـول او دښمنان یې وتښتېدل. نو که ددوی په منځ کې اختلاف نه وای پیدا شـوی د لمـانځی کار وران و.

کله چې پاچا دا کیسه واورېدله نو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ښه دې وویل ای پوهه وزیره اوښه متل دې راوړ، دا کارغه واخلئ او ښه یې وساتئ کېدای شي چې ګټه ترې واخلو او له پوهې خو به یې استفاده وکړو.

کارغه ژوندی پاتې شو ، د کونګانو او ددوی د پاچا مینه یې له ځان سره پیدا کړه د نورو کارغانو له نوو، نوو خبرو نه به یې پاچا خبراوه تر څو چې پاچا وربانـدې کلک زړه وتاړه او خپل سلاکار یې وټاکه . هېڅ شی ترې پټ نه و.

ده کتل تر څو چې بڼې یې را وټوکېدې او په الوتلو یې وس ورسېده نو په یوه ډېره شنه ورځ چې د کونګانو نظر او څار په کې نه لګېده والوته او خپلو کارغانو سره ملګری شو.

د کارغانو پاچا ورته هر کلی ووایه او ورته یې وویل:

– ای مخلصه او پاک زړی او پوهه وزیره څه خبر دې راوړی دی؟

نو وزیر ځواب ورکړ:

– ښه خبر مې راوړی دی. کونګان په یوه غار کې استوګنه لري چې په مخکې یې وچ خس او لرګي پراته دي اوس به نو څه سکروټې واخلو او په دې خسو او لرګیو به یې ورواچوو او په خپلو وزرو به ورته پکی ووهو تر څو چې بل شي.

نو څوک چې له کونګانو څخه راووځي هغه به سوزي او څوک چې په غار کې پاتې شي هغه به په لوګي مړه شي.

دابشلیم وویل:

– هوښیارانو او پوهانو رښتیا ویلي دي چې څوک چې د دښمن په بې وزلۍ او عاجزۍ وغولېده نو هغه کانه به پرې وشي لکه پر کونګانو چې د کارغانو له لاسه وشوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیزی او شمشتی

دابشلیم پاچا بیدپای فیلسوف ته وویل:

د هغه سړي مثال راته بیان کړه چې د یو شي پیدا کولو پسې ډېره هڅه کوي او چې له ډېر ربړ او کړاو وروسته په لاس ورشي نو بیا یې د خپلې بې پروایې او بې اعتنایې له کبله له لاسه ووځي، او ټینګولای یې نه شي.

نو بیدپای ورته وویل:

– د شي پیداکول اسان دي خو ساتل یې ډېر ګران دي. خلک د شي په پیدا کولو پوهېږي خو د ساتلو په چل یې بیا سر نه خلاصېږي. نو څوک چې څه پیداکولای شي او ساتلای یې نشي د هغه مثال د کیشپ غوندې دی چې د بیزي دوستي او ملګري یې په برخه شوه او خوشې په خوشې او په خپله بې عقلۍ یې تېرې ببرته ولاړه.

پاچا وویل د کیشپ کیسه څرنګه وه؟

بیدپای ځواب ورکړ:

– یو بیزی و چې پر نورو بیزوګانو یې ډېر کلونه پاچاهي وکړه، بیا زوړ شو او له زوره ولوېده نو کله یې چې له ضعف څخه تر بوران خبر شول او پوه شول چې اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې نو له لاسه څه نه دي پوره پسې را پاڅېدل ، له ملک نه یې وشاړه او زلمـي تربـره یې ځای ونیوه.

د زاړه بیزي پلوي هېڅ چا ونه کړه او ټول د زلمي بیزي پر خواشول. کله چې یـې دا حال ولیده چې څوک پرې پښنه هم نه را کاږي نو په غوسه شـو ، پـه زړه کـې یـې وویل:

– هغه وزیران، منصب داران او مشـران څـه شـول چـې ځانونـه بـه یـې راتـه دوستان ښکاره کول او زما په سر له خپلو سرونو هم تېـر وو؟ اوس یـې لـه مانـه تمـه وشکېدله ، زه یې په ځای پرېښودم او له دښمن سره مې يو لاس شول.

نو خوایې بده شوله ، له خپله وطنه ولاړ او د بحر ساحل ته ورغی. هلتـه یـې د يو اینځر په ونه کې ځای ونیوه ، انځر به یې خوړل او اوبه به یې څښلې په خوښـۍ بـه یې ژوند تېراوه او زړه به یې له پاچاهۍ او وطن څخه صبراوه.

ده اینځر خوړل چې يو ځل ترې یوه دانه اینځر ولوېده او په اوبو کـې تـرې یـو موزیکي ښکلی اواز راواته دا آوازې یې خوښ شو ، بله دانه یې ورګوزار کړه نـو لـه دې هم همغسې ښکلی آواز را جګ شو خوند یې ورکړ، د اینځر دانـه بـه یـې اوبـو تـه ور اچوله او آواز ته به یې غوږ نیوه.

په اوبو کې يو کیشپ و کله به چې بیزي د اینځـر دانـه ورواچولـه ده بـه پـرې ورټوپ کړ او دانه به یې له ستوني تېره کړه. چې کیشپ دا کار مکـرر ولیـده نـو خیـال یې وکړ چې ګوندې دا اینځر ما ته را اچوي خوشاله شو او پر ځان یې لازمه کـړه چـې بیزي ته تشکر وکړي.

راغی او ونې لاندې یې له اوبو څخه سر را پورته کړ ، بیزي ته یې وویل بـاداره ډېر تشکر څه خواږه اینځر دي او تا څـه ښـه مهربـاني پـر مـا وکـړه. زمـوږ کیشـپانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شمشتیو) اینځر ډېر خوښ دي خو داسې څوک نه مومو چې موږ ته یې راکړي. نـو زه له تا ډېر تشکر کوم.

بیزی هم له یواځې والي ښځه ستړی شوی و او هیله مند و چې یو څـوک پیـدا شي چې د ده ساعت ورسره تېر شي. کله یې چې کیشپ ولیده چې ده ته تشکر کـوي او خیال کوي چې ګوندې بیزي اینځر ده ته ور اچولی نو بیزي ورته وویل:

– ای د شمشتیو مشره، دا څه د تشکر ځای دی او ما تا سره څه کړي، خو یـوه یا دوه دانې اینځر به مې دراچولي وي. پر ما ښه ولګېدل نو ومې ویل چې ته یـې هـم خوند وګورې، دا څو دانې اینځر مې درواچول. خلک وایي په هغه انسان کې خیر نشـته چې هر څه مومي او یواځې یې له خپل ستوني تېروي او بل چا ته یې پام نه وي. سـتا چې دومره اینځر خوښ دي نو څه چې په دې ونه کې دي زما او ستا سره نیم دي، نـه غواړم چې زه یې یوازې ځانته وخورم.

کیشپ بیا ورته تشکر وکړ، د ده د سخا او کرم شاباسی یې ووایه او د ده خبـرې یې خوښې شولې. یو دبل ملګري شول او ډېرې شپې ورځې یې سره تېرې کړې.

کیشپ یوه ښځه درلوده. کله چې د ده پردیسي اوږده شو ورپسـې خپـه شـوله. هغه ډارېده چې هسې نه چې په کوم رنځ او کړاو نه وي اوښتی نو یـوه ورځ یـې یـوې ګاونډۍ ته د خپل مېړه له ځنډېدو نه شکایت وکړ.

ګاونډۍ یې ورته وویل:

– ته خو ډېره ښه ښځه یې، مېړه دې ځان ته خپله مشغولتیا پیدا کړې ده او تـه ورپسې خپه یې.

– ګرانې خورې داته څه وایې؟ زما مېړه بله شمشتې کړې د ه؟ کاشـکې چـې د دې خبرې له اورېدلو ښځه پخوا مړه وای. نه. نه. کاشکې همدې مړ وای چـې زه یـې پرېښودلم او بل ځای یې ځان ته ځای پیدا کړ. ما ورسره د خپل وس سره سم هر څـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وکړل له ځان نه مې دی پورته ګاڼه او ده زه هېره کړم بلـه شمشـتۍ یـې غـوره کړله! کاشکې چې دا شمشتۍ مې پېژندای او ځای مې یې لیـدلی وای چـې سـره مـې څیرې کړې وای ، دې څرنګه زما مېږه له مانه نیولی دی.

کله یې چې ګاونډۍ په دې حالت په قهر او غضب ولیده نو ویې خندل او ورتـه یې وویل:

– خورې مه خپه کېږه مېږه دې کومه شمشتۍ نه ده کړې، بلکـې د یـو بیـزي سره یې ملګرتیا اچولې ده هغه ورته خوراک ورکوي او سره خوشاله خپل ژوند تېـروي او ته یې هېره کړې یې.

دې وویل:

– اوس نو څه وکړم چې خپل مېږه بېرته په لاس راشي.

ګاونډۍ یې وویل:

– تر څو دې چې بیزی وژلی نه وي تر هغـې پـورې خپـل مېـږه پـه لاس نـه درځي.

دې وویل:

– څرنګه یوه بې وزلې شمشتۍ کولای شي چې قوي بیزی ووژني؟

ګاونډۍ یې وویل:

– په چلونو بې وزلان او ضعیفان کولای شي چې پر قویـانو او زورورو برلاسـي شي؟ چې کیشپ درته راغی نو ځان ورته ناروغه کړه. چې درنه یـې د مـرض پوښـتنه وکړه نو ورته ووایه: ماته ډاکټرانو د بیزي زړه ښودلی دی. نو دی به هم بیزي تـه چـل جوړ کړي او وبه یې وژني. زړه به یې درته راوړي. په همدې چل به د خپلـو هیلـو پـه لاسته راوړلو باندې بریالۍ شې او مېږه به دې بېرته خپل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې ورځې تېرې شولې، د کیشپ خپله ښځه او کور یاد شول نو له خپل ملګري څخه یې اجازه وغوښته او کورته راغی. ګوري چې ښځه یې ناروغه ده او خوزېدلای نه شي خپه شو او د مرض د سبب پوښتنه یې ترې وکړله.

ګاونډۍ ځواب ورکړ: له کومه وخته چې ته له کوره وتلی یې ښځه بې وزله دې مریضه ده، موږ هم د دې په علاج کې ډېر زیار وویست خو ښه نشوله. د ډاکټرانو مشر وویل چې بې د بیزي له زړه نه په بل څه نه ښه کېږي او همدا یې دوا ده.

کیشپ چې دا خبره واورېدله ویې ویل:

– څرنګه به نو د بیزي زړه پیدا کړو ، حال دا چې موږ په اوبو کې اوسېږو او بیزوګان پر وچه او ځنګلونو کې . موږ هغه ځای ته نشو ورتللای په کوم ځای کې چې بیزوګان سکونت لري؟

ده لا خپله خبره نه وه تمامه کړې چې ښځې یې ځان ورېېرداوه و ورته یې ځان په ځنکدن وښوده. کیشپ چې دا منظره ولیده نو ورباندې وغولېده او ګاونډۍ ته یې وویل:

– را یاد شول زما خو یو بیزی ملګری دی وربه شم ، چل به ورته جوړ کړم ګوندې په دې چل بریالی شم.

نو ګاونډۍ او خپله ښځه یې په ځای پرېښوده او د بحر غاړې ته ورغی کله چې بیزي خپل ملګری ولیده ډېر خوښ شو او ښه هر کلی یې ورته ووایه او بیا یې ورته وویل:

– وروره! چېرته وې ډېره موده وشوه چې له مانه غایب وې لکه چې ساعت دې د خپلې ښځې سره تېر و څرنګه ایسار شوی وې خیر خو و؟

کیشپ ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– تا خو ماسره ډېر ښه وکړل او شپې ورځې مې درسره ښې تېرې شولې نو درنه ډېر شرمېدلم ځکه چې ستا احترام مې ونه شو کړلای. اوس غواړم چې ماسره ولاړ شې او زه ستا په خدمت په خپل کور کې مشرف شم.

له دې ځای سره نېږدې زه په یوه جزیره کې استوګنه کوم چې ډېرې خوږې خوږې مېوې او ښه ښه څېزونه په کې شته نو راځه زما په شا را سپور شه چې ځو . زه به هم خوښ شم او کورنۍ به مې هم ستا په لیدو خوشاله شي .نو بیزی خو لا پخوا دده په ښه خوی او ښه خلق مین و د ده په خبرو وغولېده، د واره یې په شا سپور شو او کیشپ په لامبو سر شو.

کیشپ لا لامبو وهله چې خپلې ټګۍ او د بیزي ښو ته په فکر کې ولاړ نو له ځانه وشرمېده او سر یې ټیټ کړ.

بیزي ورته وویل:

– داسې غمجن غوندې ښکارې او سر دې ځوړند اچولی دی دا ولې؟

کیشپ ځواب ورکړ:

– را یاد شول چې ښځه مې ناروغه ده او ددې د مرض له کبله ستا وړ خدمت او قدر نشم کولای نو ځکه په چرت کې شوم.

بیزي وویل:

– ته فکر مه خرابوه زما خپل کور دی په ملګرۍ کې دا خبرۍ نشته چې دا مې ونه خوړل او دا مې ونه څکل، چې څه تیار وي هغه د یار وي، ماته همدا ستا دوستي او ملګري هر څه دي.

کیشپ ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ملګریه، رښتیا او حقه خبره دې وکړه ځکه چې دوست ته د دوست لـړ شـی ډېر او ووړ یې ورته لوی ښکاري نو رښتیا داده چې ستا خپل کور دی او تـه خپـل کـور ته ځې.

کیشپ بیا په لامبو پیل وکړ او چې بیا یې خپله ټګي او دده صداقت را یـاد کـړ او فکر یې شو نو لامبو یې بس کړه او فکر یې ګډوډ شو.

بیزي چې دی په دې حال ولیده نو په زړه کې یې وویل:

– د کیشپ درېدل خو بې څه نه دي او داسې مالومېږي لکـه چـې چـورت یـې ماته وران دی ځکه چې زړونه خو په یو حال نه دي ، هوښیار باید لـه خپلـه ځانـه بـې پروا نشي او زړه جمع نشي تر څو چې په خپله زړه جمعۍ په بلا ککړ نشي.

نو بیا یې کیشپ ته وکتل او وویې ویل:

– بیا ولې په چورت کې شوې او فکر کوې؟

کیشپ ځواب ورکړ:

– زه خو ځکه خپه یم چې د خپلې ښځې د ناروغتیـا لـه کبلـه بـه سـتا قـدر او احترام ونه شم کړای او ستا د حق د اداکولو له عهدې څخه به پوره ونه وځم.

نو بیزي وویل:

– ګرانه ملګریه خپه کېږه مه ځکه چې خپګان څه فایده نه لـري، د ښـځې پـه علاج او دوا کې دې باید فکر وکړې زه تیار یم چې هـر رنګـه مرسـته درسـره وکـړم پوهانو ویلي دي: مال باید په څلورو ځایونو کې ولګول شي په ملګرۍ کې پـه احتیـاج کې پر عیال او ښځه.

نو کیشپ چې دا خبره واورېدله ویې ویل:

– ښه دې وویل ډاکټرانو زما د ښځې د علاج له پاره د بیزي زړه ښـوولی دی او ویلي یې دي چې بې له دې یې بله چاره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیزي په زړه کې وویل:

– لکه چې په غم ککړ شوم او تمې مرگ ته روان کړم. رښتیا یې ویلي دي چې قانع ښه ژوند لري او تمه کوونکی او توسن درست عمر په ربړونو او کړاوونو کې نښتی وي.

–بیا یې کیشپ ته وویل:

– اوس نو ستا خدمت پر ما واجب دی، او دا دوا خو بیخي ډېره اسانه ده زما خپل زړه شته نو نوره څه پروا ده خو خبره داده چې زه دې نو ولې اول نه خبرولم چې زړه مو له ځان سره راوړی وای. ځکه چې موږ بیزوگان چې له کوره د دوستانو لیدلو کتلو ته ځو نو زړه په کور کې پرېږدو د دې له پاره چې هسې نه چې د دوست په کاله کې مو کوم شي چې هغه د دوست سره وړ وي خوښ نه شي. او بیا مو پسې زړه خوړېږي نو راځه چې بېرته ولاړ شو او زما زړه بېرته را واخلو او په خوښۍ کورته راشو.

کیشپ خوشاله شو او په زړه کې یې وویل:

– ښه دی چې بې چل او ټګۍ مې کار وشو.

بیزی یې بېرته خپلې ونې ته را وگرزاوه.

ساحل ته لا نه وو راغلي چې د کیشپ له شانه یې ټوپ کړ او پر ونه ور وخاته ، قرار په کې کېناسته.

چې ایسار شو کیشپ ورغږ کړ:

– ملگریه، زړه دې راواخله چې ځو ځکه چې ښځه مې ډېره سخته ده، مري.

نو بیزي وخندل او ورته یې وویل:

– ته پر ما د هغه خره گومان کوی چې سورلنډي غولولی و او بیا یې وویل چې خرنه زړه درلود او نه غوږونه.

کیشپ وپوښتل چې څرنګه یې غولولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیزي وويل:

– يو زمری نژدې اوبو سره په يو ځنګل کې اوسېده او په همدې ځنګله کې بـه يې حيوانات ښکار کول او خپله اړه به يې پرې پوره کولـه خـو بـالاخره زوړ شـو او لـه کاره ولوېده نو وړی شو او جرب مرض وربانديې له خواری نه ولګېده. نـور خوځېـدلای هم نه شو. په ځنګله کې نژدې زمري ته يو سورلنډی اوسېده او چې له زمـري نـه بـه څه پاتې کېدل ده به خوړل، نو زمري چې ضعيف شو او لـه کـاره ولوېـده د سـورلنډي حال هم خراب شو. نو سورلنډی زمري ته راغی او ورته يې وويل:

– ای د ځناورو پاچا پر تا څه وشول چې له ښکاره ولوېدلی؟

زمري وويل:

– دغه جرب مرض چې ته يې په خپله ګورې زه په دې حـال کـړم چـې اوس مې ښکار هم له لاسه نه کېږي.

سورلنډي ورته وويل:

اوس به درته د ډاکتر پوښتنه کوم ځکه چې ته نه يې نو نور ژونـد بـې خونـده کېږي او څه فايده په کې نشته.

زمري ځواب ورکړ:

– ډاکټرانو راته ويلي دي چې ستا مرض ته د خره زړه او غوږونه ښه دي.

سورلنډي وويل:

– اوس نو ستا دوا او علاج اسان دي د ځنګله پـه هغـه بلـه خـوا کلـي کـې د رنګريز خر دی چې کالي وربانديې وړي. او لږ ساعت وروسته به يې درته راولم.

سورلنډی ولاړ او پر خره بانديې يې سلام واچاوه او ورته يې وويل:

– ملګريه ولې داسې خوار او ډنګر ښکاري، لکه چې دا ډېره موده دې هـيڅ نـه دي خوړلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خره ځواب ورکړ:

– څرنګه به نه خوارېږم، خاوند مې نه په آرام پرېږدي او نه خوراک راکوي!

سورلنډي ورته وویل:

– نو ځمکه خو لویه ده ولې ورسره اوسېږې ځه ترې په خپله مخه؟

خره وویل:

– تېښته مې هم څه فایده نه کوي، ځکه چې هر چېرته چې ځم په انسان اوړم او چې څه مې دا خاوند را باندې کوي هغه یې هم را باندې کوي نو د غلامۍ نه پرته بله هیله نه لرم.

سورلنډي وویل:

– وروره ښه دې وویل دا انسان پر موږ ټولو حېواناتو ظلم کوي خپل کارونه را باندې کوي او بیا زموږ هغه حق چې خوراک او څښاک دی هم نه راکوي خو زه به درته یو ښه شین ځای دروښایم چې لویه ورشو او ډېر واښه لري او له دغو ظالمو انسانانو څخه هلته هېڅوک نه پېښېږي. نور خره هم هلته شته چې ډېر تیار، چاغ او د ښه زور او قوت خاوندان دي.

خره وویل:

– ډېر تشکر وروره! راځه چې ځو زه دلته نور له لوږې مړ شوم.

نو سورلنډی او خر ولاړل . په ځنګل کې د زمري ځای ته ورسېدل نو سورلنډي خر پرېښوده او زمري ته ورغی او د خره په راوستلو یې خبر کړ.

زمری له خپله غاره راوواته ، غوښتل یې چې پر خره ورټوپ کړي خو له دې کبله چې ډنګر او خوار و په خره یې زور ونه رسېده او خر وتښتېده.

کله چې سورلنډي ولیدل چې پر خره د زمري وسه ونه شوله نو ورته یې وویل:

ای د حېواناتو او ځناورو باداره! تر دې اندازې کمزوری شوی یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زمری خجل شو ، سورلنډي ته يې وويل:

که بيا دې راووست نو رانه هېڅ خلاصېدلی نه شي.

سورلنډی بيا خره پسې ولاړ او ځان يې ورورساوه او ورته يې وويل:

– ملګريه ولې را وتښتېدلې؟ يوه خره ته وليدلې ستا د هرکلي او پېژندګلوۍ لـه پاره درته راوواته چې نورو خرو ته دې ورولي.

خره هم پخوا کله زمری نه و ليدلی، د سورلنډي په خبره يــې بــاور وکــړ او بيــا ورسره د زمري ځای ته راغی.

سورلنډی ترې مخکې شو او زمري ته ورغی ، ورته يې وويل:

– پام کوه چې بيا درنه ولاړ نشي ځکه چې ما داځل بيــا وغــولاوه کــه دا ځلــې خلاص شو نو بيا مو پرې وسه نه کېږي.

زمری د سورلنډي په خبرو زړور شو او پر خره يې ورټوپ کړ او ښکار يې کړ نــو بيا يې سورلنډي ته وويل:

ته ورګوره ته چې زه غسل ورته وکړم، ځکه چې طبيبانو ماتــه ويلــي دي چــې ځان دې نه وي پاک کړی نو لاس مه وروړاندې کوه. زړه او غوږونه به يې زه وخــورم او نور دې ستا وي.

کله چې زمری لمبا ته ولاړ نو سورلنډی د ټول خــره خوړلــو تــه بــډې ووهلــې. غوږونه او زړه يې وخواړه او قرار کېناسته.

زمری بېرته راغی ګوري چې زړه او غوږونه يې نشته نو سورلنډي ته يې وويــل چې زړه او غوږونه يې څه شول.

سورلنډي وويل:

که زړه او غوږونه يې وای نو چې يو ځل وتښتېده او خلاص شــو ولــې بــه بيــا بېرته راته او غولېده به؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې بیزي کیسه تمامه کړه نو کیشپ ته یې وویل:

– اوس پوه شوې؟ زه نو د خر غوندې نه یم چې بیا وغولېږم. تا خو پــر مــا چــل وکړ او ودې غولولم خو زما چل او حیله دې هم ولیــده چــې ځرنګــه مــې درنــه ځــان خلاص کړ.

کیشپ په درد او افسوس ځواب ورکړ:

– رښتیا دې وویل خو زه په خپل جرم او ګناه او ملامتیا او اعراف او اقرار کوم ، له تانه عفو غواړم او هیله کوم چې ماسره به همغسې دوستي وکړې لکه ځرنګــه چــې وه او چې ځرنګه دې خوښه وي هغسې مې پــه ادب کــړی ځکــه هوښــیار چــې ګنــاه وکړي نو له ډب نه یې بیانه شرمېږي. لکه چې وایي چې چېرته ډب نه وي هلتــه ادب نه وي.

بیزي ورته په مسخره وکتل او ورته یې وویل:

– له ورخه تېرو اوبو پسې بیا یوم مه کړنګوه او په مخه ځه!

کله چې بیدپای دا کیسه پای ته ورسوله نو دابشلیم پاچا ورته وویل:

رښتیا دې وویل: چې د یو شي موندل اسان دي او ساتل یې ګران دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردېسي او زرګر

دابشلیم پاچا بیدپای فیلسوف ته وویل:

کله کله سړی د هغه چا سره ښه وکړي چې وړ یې نه وي او بیا ورنــه د تشــکر په تمه او انتظار وي.

بیدپای وویل: څوک چې د هغه چا سره ښه وکړي چې د ښو وړ نــه وي نــو بیــا دې یې د تشکر او ښه بدل په تمه کېږي نه.

خلک مختلف طبیعتونه لري څوک ښه او څوک بد دي چــې ښــه وربانــدې نــه مالومېږي او د هغه چا قدر نه پېژني چې ښه یې ورسره کړي او دا ډول خلک لــه هغــه حیواناتو څخه ډېر کم او ناوړه دي چې ښه وربانديې مالوم وي.

نو ښه داده چې اول سړی د ښو وړ سړی وګــوري خپــل وي کــه پــردی او بیــا ورسره ښه وکړي. ځکه چې کله له خپل ورور نــه پــردی هــم ښــه وي او د ښــو قــدر پېژني.

او انسان باید پخوا له اختلاط څخه خلک وازمېيي چې بیا په خپلو ښــو پښــېمانه نه شي او که نه نو هغه به ورته ورسېږي چې پردېسي ته له زرګر نه رسېدلي وو.

دابشلیم وویل: پردېسي ته له زرګر څخه څه رسېدلي و؟!

بیدپای وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پردیسي په یوه لاره روان و. ګرمي وه ستړی او تږی شـو نـو ویـې غوښـتل چې چېرته کوم کوهی وګوري چې خپله تنده ماته کړي.

وروسته له ډېر مشقت څخه یې یو کوهی پیدا کړ چې لرې اوبه یـې درلـودې او یو سړی، یو مار، یو بیزی او یو څناور یې په کې بیا مونده.

نو چې پردېسي دا سړی ددې ضرري او وحشتناکو حیواناتو سره ولیـده زړه یـې وربانديې خوږ شو او دده د ژغورلو په چاره پسې ولوېده ولاړه چېرته یې زړې لتې، پاړې پیدا کړې پړی یې ترې تاو کړ او کوهي ته یې ورواچاوه چې سړی را وباسي خو بیـزي پرې ورخیز کړ او پړي پورې ونښته چې بیا یې ورواچاوه مـار ورپـورې څوړنـد شـو نـو پردیسي په زړه کې وویل: بدې برخې! ما خو ددې له پـاره زیـار نـه دی ایسـتلی چـې خپل دښمنان پرې را جګ کړم که پوهېدلای چې لومړی دوی راخیژي نو دومـره ربـړ به مې نه و ګاللی، بیا یې دربیم ځلې پړی کوهي ته ورکښته کړ دا ځلې څناور ورپـورې ونښته او را وواته. په دې وار نو پردېسي ښځي حیران او پښېمانه شو کلـه چـې دا درې واړه د کوهي په غاړه را جمع شول نو له پردېسي څخه یې تشکر او د ښو مننه وکړه او ورته یې وویل ته به اوس غواړې چې دا سړی هم را وباسې خـو مـوږ درتـه نصـیحت کوو چې پرېږده چې په کوهي کې له لوږې مړ شي ځکه دی د ښو کولـو وړ نـه دی او هیڅ ښه به ترې بې له بدو ونه ګورې. دا پرېږده او په خپله مخه ځه.

خو پردېسي د نرم زړه خاوند و چا سره د خپلو ښو د بدل په تمه نه و نو دوی ته یې وویل:

– څرنګه به یو انسان په ربړ او کړاو کې ګورم او په ژغورلو کې به یې زیـار نـه باسم؟ هغه څوک چې یو انسان په ربړ ککړ وګوري او کولای شي چې ورسـره مرسـته وکړي او سره له دې هم ورسره کومک نه کوي او له دې غمه یې نه ژغـوري نـو پـه دنیا کې د ژوند حق نه لري او نه باید انسان ورته وویل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې پړی ورکښته کړ سړی ورپورې ونښته او را جګ یې کړ.

څلورواړه له پردیسي د تشکر او مننې له پاره را تاو شول تشکر او مننه یې ورنه وکړه نو بیزي وویل:

– زما کور د نوادرخت ښار سره نژدې په یوه غره کې دی هیله کوم چې د سیاحت په وخت کې په خپل راتګ موږ سر لوړي کړې او راشې.

څناور وویل:

زه د همدې ښار سره نژدې په یو ځنګل کې سکونت کوم نو کله چې دې د بیزي د لیدلو مهرباني وکړه ما هم په خپل ملاقات مشرف کړه.

مار وویل:

زه د همدې ښار په دېوال کې اوسېږم ما هم وګوره چې ستا په لیدو خوښ شم.

او سړي وویل: ددې دښمنانو په خوله مه غولېږه دوي د ښو وړ نه دي او دوي سره ښه کول څه فایده نه لري نوکه راغلی زه د همدې ښار زرګر یم او ستا هر کومک ته تیار یم. هر څه ډېر دي.

بیا سره بېل شول او هر یو په خپله لاره ولاړل.

کله چې پردېسی په ښارونو وګرځېده نو په نوادرخت ښار کې زرګر ملګری وریاد شو، له ځان سره یې وویل:

– هوښیار د دوستانو اشنایانو پوښتنه ګروېږنه لازمه ګڼي او څوک چې د دوستانو پوښتنه ونه کړي نو څه خیر په کې نه شته باید چې زه هم د زرګر پوښتنه وکړم.

نوادرخت ښار ته ورروان شو چې د خپل ملګري زیارت وکړي. کله چې ښار ته نژدې غره ته ورسېده د بیزي پرې سترګې ولګېدلې ورمنډې یې کړې او لاسونه او پښې یې د ده ښکل کړل بیا یې خپل کورته بوته او عذر یې ورته کاوه چې د بیزوګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونه له هر څه تش وي خو ته لږ وګوره چې زه بېرته راشم لږ ساعت تېر شو چې بېرته راغی او خوندورې مېوې یې راوړې او ورته یې په مخکې کېښودلې او ورسره په مرکه لګیا شو نو کله چې پردېسي د بیزي دا قدر او عزت ولیده ویې ویل: ما خو دا ګومان نه کاوه چې دا حېوان چې د ټولو خلکو په نظر مکرجن او چلي دی، دومره به ښه او احسان پېژندونکی وي.

پردېسی له بېزي نه رخصت شو او هغه ځنګل ته ورنژدې شو چې ځناور په کې و. ځناور پردېسي ولیده او ویې پېژانده، ورمنډه یې کړله، په ښو کې یې ورته مخ کېښوده او هر کلی یې ورته وکړ بیا یې له لمنې ونیوه او ځنګله ته یې بوته.

چې ځای ته یې ورساوه نو دې یې پرېښوده او دی په خپله ولاړ او د ښار د پاچا لور یې ولیدله چې په خپل باغ کې ګرځېدله او ډېرې ګاڼې او جواهر یې په ځان بار کړي وو چې ډېره بیه یې درلودله نو وربانديې یې خېز کړ او ګاڼې جواهر یې تري واخستل رایې وړل او پردیسي ته یې په مخکې کېښودل.

پردېسي دا ګاڼې او جواهر واخستل نه پوهېده چې ځناور کومه خوا ولاړ .

پردیسي خپل زرګر ملګري کره ورغی او په زړه کې یې وویل:

ملګری مې ددې شیانو په بیه ښه پوهېږي دا به ورکړم خرخ به یې کړي نیمې پیسې د ده او نیمې زما.

چې پردېسي دې ښار ته راغی ګوري چې ټول خلک حزین او غمجن دي او تورې جامې یې اغوستي دي نو په زړه کې یې وویل:

لکه چې د دې ښار پاچا یا کوم ګران ته یې څه پېښه شوې.

د زرګر کور یې ولټاوه تر څو چې بیا یې مونده. کله چې زرګر ولیده ښه هر کلی یې ورته وکړ او کور ته یې بوته چای او ډوډۍ یې ورته راوړه. پردیسي له زرګر څخه پوښتنه وکړه چې څه پېښه شوې ده او دا خلک ولې داسې غمجن او حزین دي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګر وويل: پر پاچا لويه تکه او غم را لوېدلی دی يواځينی لور يې چې بلــه نــه لري د سيل له پاره باغ ته ولاړه غله ورباندې راغلي دايې وژلې او ګاڼې او جــواهر يــې ترې تښتولي دي او هېڅوک ورباني خبر شوي هم نه دي نو د پاچا او خلکو د حــزن او غم سبب دا دی. د دې خبرې په اورېدلو پرديسي هم ډېر خپه شو.

زرګر ترې بيا د سفر د احوالو او واقعاتو پوښتنې شروع کړې او ده ورته هغه ټــه وويل چې ليدلي يې وو او پرې تېر شوي وو. تر څو چې د بيزي ښه هر کلی او د ځناور ښه مکافاتو ته خبره ورسېده او ويې ويل: نه پوهېږم چې ځنــاور دا ګــاڼې او جــواهر لــه کومه کړي وو خو ماته يې راکړل او دادی تاته مې راوړل چې ته يې وپلورې او پېســې به يې سره ووېشو. زه د دې په بيه نه پوهېږم او تا ته يې بيه او قــدر مــالوم دی ځکــه چې ستا همدغه کار دی. له جېب نه يې ګــاڼې راواېســتلې او زرګــر تــه يــې مــخ کــې کېښودلې. زرګر چې وليدل نو ورته يې ډېر وکتل او ده ته يې وويل:

– ملګريه ته خو د جوهر او ښيښې فرق نه شې کولی او ســره او مــس هــم نــه شې بېلولی دا جواهر او ګاڼې نه دي بلکه د سرو اوبه يې ورکړې چې پوونــده (کــوچي) خلک ورباندې ځان ګاڼي. او البته چې ځناور به هم د هغه ځنګل سره نــژدې پــه کــوم ځای کې موندلي وي، ته يې ورباندې غولولی يې او درکړي يې دي. تا ګومــان کــړی دې چې دا ګوندې ډېر قيمتي شی دی.

نور يې له دغو ګاڼو او جواهر څخه په ښکاره مخ واړاوه او پرې يې ښودل خو په زړه کې يې ورته واچوله بيا يې پرديسي ته وکتل او ورته يې وويل: ته د کور خاوند يې څه مېلمه خو نه يې، له مانه په دکان کې څه پاتې شوي هغه پسې ځم او ژر بــه بېرتــه راشم. پردېسی يې پرېښود او زرګر ترې ولاړ. لږ وخت لا تېر نه و چې د زرګر کالــه تــه ګڼ شمېر پوليس او لښکريان را سر شول. زرګر هم ورسره و. پرديسی يې ونيوه او پــه ځنځيرونو يې تړلی د پاچا دربار ته بوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پاچا دی او د خپلې لور ګاڼې او جواهر ولیدل نو ورته یې وویل:

– خوارشې غله: چې زما لور دې ووژله او ګاڼې او جواهر دې ترې ولوټل او بیا غواړې چې زما په ښار کې یې وپلورې؟ که دا امین او صادق زرګر نه وای خو له منځه وتلی او تښتېدلی وې.

پردیسي کوښښ کاوه چې خپل عذر ورورواندې کړي او حقیقت ووایي خو پاچا ورته غوږ ونه نیوه او پولیس ته یې غږ کړل:

– ویې نیسئ، دا مجرم ګناهکار او بدبخت چې لور یې زما ووژله او ګاڼې یې ترې ولوټلې! بویې ځئ، کلک یې په ځنځیرونو وتړئ، په ښار کې یې کوڅه په کوڅه وګرځوئ چې زما د مملکت اوسېدونکي خبر شي او نور غم ونه کړي. ما خپل دښمن او جاني ونیوه. چې په کوڅو کې مو وګرځاوه نو بیا یې ووژنئ او د ښار پر دروازو یې ځوړند کړئ چې نور خلک یاد ولري او داسې ونه کړي.

پولیسو دی کوڅه په کوڅه وګرځاوه. ده به له خپله بده بختـه ژړل او ځان بـه یې ملامتاوه او ویل به یې: زه ددې ټولو نادودو وړ یم، او لا زیات هم، ځکه چې ما د مار، بیزي او ځناور ورم ونه مانه که ددوی خبره مې منلې وای او دا خسیس او ټګمار زرګر مې له کوهي څخه نه وای را جګ کړی نو په دې بلا به نه ککړېدلم او په دې پردېستوب کې به راباندې د دې ډول بد مرګ او اعدام حکم نه کېده.

دې په همدې ژړا او چیغو سر و چې لښکریانو د مار په مسکن او ځای تېراوه. مار د ده اواز وپېژانده له سوړې څخه راوواته او د ده هرکلي ته یې ورمنډې کړې.

نو کله یې چې په ځنځیرونو کې بند ولیده وډارېده چې بیا یې وکتل نو په هر څه پوه شو او ورته مالومه شوه چې پاچا یې په وژلو امر کړی دی. چل یې جوړ کړ، په منډه ولاړ د پاچا زوی یې سخت وچیچه او پرې یې ښوده چې لـټ پـه لـټ اوښـته را اوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پاچا له خپله زويه خبر شو نو په سترګو يې توره شپه شوه او پردېس يې هېر شو خلک يې طبيبانو او پاړوګرو پسې ولېږل.

پاړوګرو تاويزونه څکاکونه او دمونه وکړل خو څه فايده يې ونه کړله طبيبان يې هم له دوا څخه عاجز شول. ټول ښار د پاچا تر ماڼۍ را تاو و، په انتظار کې و چې څه به کېږي.

د مار يوه پېرۍ ملګرى وه چې يو پر بل سره ډېر ګران او قدرمن وو او يو د بل په خدمت کې ډېر په اخلاص وو. نو مار پېرۍ ته ورغى او کيسه يې ورته تر سره کړه نو پېرۍ را والوته او د پاچا د زوي په مخکې ودرېدله او ځان يې ورته ښکاره کړ. داسې چې بل چانه ليدله او نه يې ددې آواز اورېده، د پاچا زوى ته يې په ټيټ اواز وويل:

– ستا دوا د هغه بندي په وس کې ده چې ستا پلار يې بې ګناه په وژلو امر کړى او متهم کړى يې دى نو که غواړې چې روغ شې پلار ته دې ووايه چې هغه درته راولي او له بنده يې خلاص کړي.

کله چې د پاچا زوى دا خبره واورېدله نو خبرې يې وکړلې او چيغه يې کړه. دى چې مخکې تر دې چې بې هوښه پروت و، پلار يې خوښ شو، په مخکې يې ودرېده او هيله يې ورته پيدا شوه.

زوى يې ورته وويل:

– پلاره! زما علاج د هغه پرديسي بندي په لاس کې دى چې په ظلم دې بندي کړى دى.

نور يې يوه خبره هم ونه کړه او بيا چپ شو.

مار بند ته خپل ملګرى ته ورغى او د ځان سره يې د خپلو زهرو دوا – د يوې ونې پاڼې - وروړلې، پوره يې له کيسې څخه خبر کړ چې پېرۍ څه وکړل او ورته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– اوس دې خپل زرګر ملګرى وليده چې څه خير او اميد دې په کې و؟ مور درته نه وو ويلي چې دا ډېر خبيث او بد ذاته دى ښه نه پېژني د ښو بدل په بدو ورګرځوي؟

نو پردېسي – په داسې حال کې چې خجل او شرمنده وو – ځواب ورکړ

– ګرانه ملګريه ډېر تشکر که زما ښه پر انسان خوښې ولاړل خو تا او ستا ملګرو، بيزو او ځناور کلک ساتلي دي او درباندې مالوم دي.

مار ورته وويل:

– ته پر ما حق لرې ځکه چې لومړى تا راسره ښه کړي دي او زه پرتا د تشکر کولو حق نه لرم. اوس به پوليس راشي او تا به د پاچا مانۍ ته بوځي دا پاڼې درسره واخله او جوش يې کړه د پاچا په زوى يې وڅښوه روغ به شي.

مار لا خپله خبره تر سره کړې نه وه مشر وزير سره له نورو مشرانو او لويانو را ورسېده او په ګاډۍ کې يې پردېس د پاچا مانۍ ته سپور بوته.

کله چې پاچا ته ورسېده نو پاچا يې ښه هر کلى وکړ او د زوى دمول يې ترې وغوښتل پردېس وويل: باداره زه په دم او تاويزونو نه پوهېږم او نه وربانـدې عيقده او باور لرم چې دا به څه فايده او ګټه لري. بله دوا ده را سره چې د ده شفا او علاج دى. له جېب نه يې پاڼې را وويستلې، يو لوښى او اوبه يې ترې وغوښتلې پاڼې يې په اوبو کې وايشولې او د پاچا زوى ته يې ورڅښولې.

د پاچا زوى چې لومړى پياله وڅښله نو په پښو ودرېده او داسې ښکارېده چې هيڅ ضرر ورته نه وي رسېدلى. خلک او طبيبان او پاړوګر ورته هک پک شول.

پاچا خپل زوى په غېږ کې ونيوه. ښکلاوه يې او د خوښۍ اوښکو يې سترګې ډکې کړې وې، د ډولونو او سورنيو آوازونه پورته شول، سازونه او تماشې بنا شوې او د شاهزادګۍ د مرګ غم په خپله مخه ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پاچا د خپل زوی په روغتیا ډاډه شو نو پردېسي ته یې وویل:

– کیسه څرنګه وه ما پر حقیقت پوه کړه.

نو پردیسي ورته ټوله کیسه وکړه: له کوهي نه د زرګر لـه رااېسـتلو د زرګـر تـر مکر او ټګۍ پورې او بیا د غله په توګه پاچا ته وربښودل، تر څو چې پاچـا تـرې خـوښ شي اګر که د هغه چا مرګ په کې وي چې ده سره یې ښه کړي وي.

کله چې پاچا دا کیسه واورېدله هک پک شو، د پردیسي ډېر احترام یـې وکـړ او عذر یې وغوښت او تشکر یې ورته ووایه.

بیا پاچا خپل وزیران را وغوښتل او د زرګر خبیث او پلیت په باره کې یې ورسـره مشوره او مرکه وکړه نو یوه وویل:

– ښه داده چې دا ټګمار زرګر په زولنو کې کلک وتړل شي او بیا په کوڅو کـې وګرځول شي او ډنډورچي دې دا آواز کوي چې: دا هغه لئیم خسیس او بـد ذات سـړی دی چې د ښو پر ځای یې بد وکړل. بیا دې ووژل شي او په هغه ځای کـې دې پـه دار شي په کوم ځای کې چې پردېس په دار کېده.

دوهم وزیر وویل:

دا عذاب اسان دی ځکه چې ژر به مړ شي او له عذابه بـه خـلاص شـي ده تـه باید اوږد عذاب ورکول شي. نو ښه داده چې په کوڅو کې دې وګرځول شي او بیـا دې په هغه کوهي کې ورواچول شي چې پردېسـي تـرې را ایسـتلی و او پـر هغـه کـوهي باندې دې یوه لویه بنا جوړه شي اوورباندې دې ولیکل شي چـې «دلتـه هغـه انسـان بندي دی چې د بیزي ځناور او مار څخـه هـم بـد او شـري دی، ښـو د دې حېوانـاتو سترګې ونیولې او د ده سترګو ته ښه ونه درېدل او هغه چا سره یې بـد وکـړل چـې ده سره یې ښه کړې وو».

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پاچا دا خبره واورېدله خوښه يې شوله او په يوه اواز يې وويل دا ده جزا د خاينانو او تېکمارانو.

کله چې ببدپای کیسه تر سره کړه نو ويې ويل: دا د هغه چـا مثـال دی چــې د ښو کولو ځای نه پېژني.

دابشليم پاچا وويل: ښه او حقه خبره دې وکړه ای فيلســوفه او حکيمــه. انســان کله کله سره له عقله او پوهې هم بدو ته مخ اړوي او بد کوي تر څو چې له ډېرو تيتــو حېواناتو نه هم ځان ټيټ او کم ښکاره کړي.

د نوادرخت خلکو به چې هر کله دا کيسه لوستله او يا به يې اورېدله دې کوهي ته به ورتلل چې په خپلو سترګو د خاينانو او ټګانو جزا وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلار، بیلار او ایران دخت

دابشلیم پاچا بیدپای فیلسوف ته وویل:

– په کومو صفتونو یو پاچا کولای شي چې خپل مملکت وساتي چې ضایع نه شي؟!

بیدپای وویل: ښه پوښتنه دې وکړه که څوک غواړي چې خپل مملکت وساتي نو ډېرو صفتونو ته اړ دی چې هغو څخه یو شجاعت او زړورتیا، بل کرم، بل مروت او بل حلم دی، خو حلم په دې ټولو صفاتو کې ښه صفت دی او ګټه یې ډېره او د مملکت د ټینګولو لوی او مهم عامل دی، ځکه که پاچا حلیم او زغمونکی نه وي نو ظلم ډېر کوي او چې ظلم ډېر شي نو مملکت ورانېږي او له منځه ځي. کله کله پاچا په غضب کېږي او ناوړه امرونه کوي که عملي شي نو ډېر ضررونه لري نو چې حلم او زغم لري بېرته خپل حال ته راځي، خپل امر لغوه کوي او له ظلم او شر نه ځان ژغوري.

دابشلیم وویل: په دې خبره یو مثال راوړه چې ښه پوه شم او خبره راته جوته او ښکاره شي.

بیدپای وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هند په يو ولايت کې يو پاچا و چې سلار نوميده او يو يې وزير و چې بيلار نوميده او ډېر ښه او عالم سړی و.

ددې پاچا او برهمنانو په منځ کې خلاف او دښمني پيښه شوې وه، ځکه چې برهمنان له دې کبله چې ديندارن وو نو د خلکو ورته ډېره توجه او پام لرنه وه او د دوی به يې ډېر احترام او مننه کوله.

سلار پاچا له دوی نه ډارېده چې پاچاهي به ترې ونيسي نو د دوي د وژلو او ځان خلاصولو فکر يې وکړ. ډېر يې ترې ووژل او ډېر ترې په غرونو او غارونو کې پټ شول او وتښتېدل. پرته له څو تنو نه چې ځان يې ده ته وسپاره او ذلت يې قبول کړ نور ټول وتښتېدل.

شپې، ورځې، مياشتې، کلونه تېر شول او پاچا يوائې د خپل وزير په مرسته خپل مملکت اداره کوله.

يوه شپه پاچا يو اوږد خوب وليده او په ډېر ډار له خوبه را بېدار شو. په خوب کې ګوري چې په يو لوړ سپين غره باندې دی او په مخکې يې دوه ماهيان پر لکی ولاړ دي، دوه بتی يې د شا له خوا را والوتلی او په مخکې يې ولوېدلې، او يو مار له ځمکې څخه راوواته او د پاچا په چپه پښه راخاته. خپل ځان يې په وينو کې لېت پېت وليده او يوه د اور ټوټه يې پر سر راولوېدله او يو مرغه له هوا راغی او پر سر يې را ښکته شو او دده سر يې په ټونګه وواهه.

دې خوب ته هک پک پاتې شو او په تعبير او مانا يې هېڅ پوه نه شو. د برهمنانو زړه دښمني او ميرڅی يې له ياده وتلې وه. د دوي مشر يې را وغوښته چې د خوب تعبير ورته ووايي او زړه يې په آرام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کله يې چې د برهمنانو مشـر او د ده معاونـان راوغوښـتل او د خپـل خـوب کيسه يې ورته وکړه. نو دوی سره په خپل منځ کې يو بل ته وکتل بيـا مشـر بـرهمن وويل:

– دا خو يو عجيب خوب دی نو مونږ ته اووه ورځې مهلت راکړه چـې تـر څـو د دې د تعبير او تفسير پسې کتابونه او نجوم وګورو او ښه مانا يې پېدا کړو.

نو اجازه يې ترې واخيستله او ولاړل. کله چې يو پټ او ګوښه ځای تـه ورغلـل چې څوک يې په دې ځای کې په سِر نه خبرېدل نو مشر يې وويل:

– اوس نو د کسات اخستلو ښه موقع په لاس راغله، تاسو خو په خپله پـوهېږئ چې دې ظالم له مونږ نه دولس زره خلک بې ګناه او بـې خطـا ووژل او کـه مـونږ اوس فکر په ځای کړو نو کولای شو چې خپل او د خپلو ملګرو انتقام ترې واخلو.

نو ټولو وويل:

– اوس نو څه غواړې چې څه وکړو؟ ته زمونږ مشر يې او ته چې څه وايـې مـونږ يې منو او کوو يې.

برهمن وويل:

زه وايم چې ښه يې وډاروو او ورته ووايو چې کـه زمـونږ پـه خولـه نـه شـو نـو پاچاهي او هر څه به ترې ولاړ شي. او کله مو چې وډار کړ او د خوب عواقب مـو ورتـه وخيم وښودل، نو ورته به ووايو چې ايران دخت او زامـن يـې، زلمـي او زمـري، بـيلار وزير، سپين فيل، تېز اس، تېره توره يې او کباريون حکم مونږ ته په ګوتو راکړي.

که راڅخه پوښته يې وکړه چې څه يې کوئ نو ورته به ووايو:

– وژنو يې او د وينو څخه يې يو ډنډ ډکوو او تا پکې لمبوو، تر څو چـې تـه هـم له خطره خلاص شې او پاچاهي دې هم په ځای پاتې شي نجوم خو داسې وايـې نـور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ستا خوښه او که دا کار مو وکړ نو بیا پاچا ضعیف کېږي او څه یې له لاسه نه کېږي نو بیا کار اسان دی او له پاچاهۍ څخه به یې وباسو او تخت به یې ونیسو.

وروسته له اوو ورځو څخه براهمه بېرته راغلل چې ځانونه یې ډېر خپه او غمجن ښکاره کول او افسوس یې کاوه، چې پاچا ولیدل چې خپه او غمجن غوندې ښکاري نو لا ډېر وډارېده او د براهمه و مشر ته یې وویل:

– وایه کنه، نجوم او کتابونو زما د خوب په تعبیر کې څه ویلي دي؟

خو د برهمنانو مشر سر ځوړند واچاوه او په ژړا شو او نورو برهمنانو هم په همدې ډول ځان حزین او غمناک ښکاره کاوه.

نو د پاچا نوره ویره او ډار هم زیات شو او ویې ویل:

– زما خو دې نور له ډاره زړه وچاوه څرنګه چوپ او ځوړند سر ناست یې؟ په نجوم کې دې څه ولیدل. ته بې غمه اوسه، زه تا ته امان درکوم خو ووایه چې کیسه څرنګه ده؟

د برهمنانو مشر سر را پورته کړ، سترګې یې د درواغو په اوښکو ډکې وې ویې ویل:

– ته به له دې خطر او غم نه هلته خلاص شې چې ډېر ګران شیان له لاسه ورکړې لکه ایراندخت، ځامن دې زلمی او زمری، سپین فیل ، تېز اس، بیلار وزیر، توره، او کباریون حکیم.

پاچا چې دا خبره واورېدله نو بې سده پر ځمکه ولویده، برهمنانو سره یو تر بله وکتل او بیا یې دده علاج وکړ تر څو چې په سد شو. د برهمنانو مشر ورته وویل.

– اې باداره جار دې شم، په مملکت کې هر شی له پاچا څخه ځار دی، موږ زموږ اولادونه ، وزیران مشران، ښځې، نر، واړه، لوي، مال او شتمني ټول له تا قربان دي نو ولې دومره خپه کېږې او غم کوې؟ تاته چې څه مقرر شوي وي له هغه به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک وژغوري؟ مور، ته نجوم په دې خبره خبر راکړی دغو کسانو تـه خـو بـه دا افـت ورسېږي خو دایې هم وویل: چې که صبر او حوصـله دې وکـړه لـه دوی نـه بـه ښـه عوض او بدل درکړل شي.

سلار پاچا چې دا خبره واورېدله نو ویې ویل:

– تاسو لاړ شئ اوس، او ما پرېږدئ یواځې چې زه هم څه فکر په کې وکړم.

په غم یې ژوند تېراوه چا سره یې خبـرې نـه کـولې نـه یـې خـوراک و او نـه څښاک.

بیلار وزیر چې کله پاچا په دې غم او حزن کې ولیده او له پاچا نه په خپلـه پـه پوښتنه قادر نه و نو ایران دخت ته ورغی او ورته یې وویل:

– ګرانې باداري، له کومه وخته چې زه د پاچا په خدمت کې داخل شوی یم نـو بې زما له مشورې او مصلحته یې کوم کار نـه کـاوه. اوس غمجـن مـالومېږي او خپـه دی، ماته د خپل غم د سبب په باره کې څه نه وایي او رانه پټوي یې. زه ګورم چې پـه دې وختونو کې د برهمنانو سره پټپټونی کوي. وېرېږم چې دا برهمنان یې په کوم غـم ککړ نه کړي.

ایران دخت وویل:

– زه ترې خپه یم او نه غواړم چې اوس ورشم.

بیلار وویل:

– پاچا په داسې حال دی چې ته باید له خپل قهر او غضب نه تېره شې او کینه دې پرېږدې ځکه بل څوک خو ورتلای نه شي او تـرې د ده د حـزن او غـم د سـبب پوښتنه نه شي کولی. او ما ترې دا هم اورېدلي چې ویل یې: «کله چې پـر مـا غـم زور وکړي نو چې ایران دخت وګورم نو غم مې ورک شي او خوشاله شم.» نو پاڅـه ورشـه او د غم د سبب پوښتنه ترې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران دخت ورغله او د تخت سره یې کېښناستله ورته نرمه نرمه کېده، موسکۍ شوه او ورته یې وویل:

– ګرانه ولې دومره په غم او غصه کې یې؟ څه دې اورېدلي دي؟ لـه کلـه نـه چې برهمنانو سره دې خلوت کړی خپه ښکارې، دا ولې؟

پاچا ځواب ور نه کړ.

ایران دخت ورته په عتاب وویل:

– اوس دومره درته سپکه شوم چې د خپلې پوښتنې د ځواب حق هم نـه لـرم؟ ښه پوه هغه دی چې د خپل غم د لیرې کولو چاره وکړي نه چې ورتـه کښـېني او پـه زړه یې تېروي.

پاچا وویل:

– هغه څه چې ته یې له ماڅخه پوښتې په هغه کې زما سـتا او د ټولـو دوسـتانو عزیزانو هلاکت دی. ځکه چې برهمنان وایـي چـې زه بایـد تـا او نـور پـه زړه پـورې دوستان ټول ووژنم، نو بیا به زما په ژوند کې څه خونـد وي؟ اوس وګـوره چـې زه پـه حقه په غم او حزن کې یم او که نه؟

ایران دخت چې دا خبره واورېدله نو وډاره شوه خو خپل ډار یې پټ کړ او بیا یې وویل:

– ګرانه مورږ ټول له تا څخه ځار یو، نو زمورږ پر وژلو مه خپه کېږه، زما پـر ځـای به بله ښه ښځه خدای درکړي خو ووایه چې څه دي؟ او خبره مه پټوه.

پاچا وویل:

– ګرانې ته له ماڅخه څه غواړې؟

ایران دخت وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– پر برهمنانو له نن وروسته اعتماد او باور مه کوه او په خپلو کارونو کې ورسره مشوره او مصلحت مه کوه ځکه چې دوي ستا دښمنان دي، دولس زره دې په کې وژلي دي نو ته دا ګومان مه کوه چې دوی دې ګوندې دښمنان نه دي، دوی په خپلو اسرارو مه خبروه، دوی غواړي چې تا او دوستان دې په قتل ورسوي.

له کباريون نه ولې پوښتنه نه کوې؟ او چې کباريون ستا د خوب له تعبير څخه عاجز شي نو ته ووايه بل به څوک وي چې دا کار وکړای شي. نو ورشه کباريون ته اود خوب تعبير ترې وغواړه. کېدای شي چې هغه څه درته ووايي چې ستا خوښي په کې وي.

سلار پاچا کباريون ته ورغی کله چې دده کور ته چې د غره پر سر و ورسېده کباريون يې ښه هر کلی وکړ. بيا نو پاچا خپل خوب او د برهمنانو تعبير ووايه نو کباريون د دوی دې تفسير او تعبير ته هک پک شو او پاچا ته يې هغه څه وويل چې ايران دخت ورته ويلي و ورته يې وويل:

– ددوی دښمني دې هېره شوه او خپل اسرار دې دوی ته وويل: دوی غواړي چې خپل کسات درڅخه واخلي دا خوب دې ډېر خير دی چې درته به ژر ورسېږي. د وطنونو پاچاهان به درته ښې ښې تحفې او پېشکشونه را واستوي، دوه دانې به بې مثاله ياقوت وي، يو به سپين فيل وي، يوه به غوڅوونکې توره وي، دوه به داسې اسونه وي چې په نړۍ کې به ساری نه لري، يوه به بې جوړې ورېښمينه سره جامه وي چې تياره به رڼوي او يو به د سرو او ياقوتو تاج وي.

او هغه مرغه دې چې ليدلی دی چې ستا پر سر يې ټونګې وهلي د هغه تعبير درته اوس نه وايم، خو دومره پوه شه چې ضرر درته پکې نشته. يوه اونۍ وروسته به درته دا ټول شيان راشي نور نو بې غمه اوسه او چرت مه خرابوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه کباریون چې ویلي اوه ورځې لا تېرې نه وې چې د وطنونو د پاچاهانو د هدیو او تحفو زیري را ورسېدل او استازي یې یو د بل پسې راغلل چې استازي به هدیه راوړه د پاچا تعجب به د کباریون علم او حکمت ته زیات شو او خوشاله به شو او و به یې ویل:

– که مې د برهمنانو په خوله عمل کړی وای نو دوستان به مې هم هلاک کړي وای او ورپسې به زه هم هلاک شوی وای نو هوښیار ته په کار دي چې د مخلصو دوستانو سره مشوره وکړي او ددښمنانو له مشورې او مصلحت څخه ځان وژغوري، او ما هم د ایران دخت سره مشوره وکړه او دا دی راته ښه شوه.

بیا پاچا بیلار ته وکتل او ورته یې وویل:

تاج، جامه او هدایا درسره را واخله او حرم ته راځه!

کله چې کورته ورسېدل دا ټول شیان یې ایران دخت ته کېښودل او ورته یې وویل:

ګرانې ایران دخت زه خو ستا په مشوره او سلا له بلا خلاص شوم او د ښې ورځې خاوند شوم، نو اوس ته حق لرې چې په دغو شیانو کې هر څه ستا خوښ وي وایې خله.

نو د ایران دخت تاج خوښ شو، پر سر یې کېښود او د پاچا یو ښکلې وینځه وه او جامه یې هغې ته ورکړه چې دا وینځه بزم افروز نومېده او پر پاچا ډېره ګرانه وه نو وینځې چې دا جامه واغوستله ډېره پرېې ښکلې ښکارېدله نو پاچا ایران دخت ته وویل: چې سهوه دې وکړه که دې جامه خوښه کړې وای درته ښه وه. ایران دخت چې د پاچا خبره واورېدله نو قهر ورغی د بنتوب تاو و د شرابو ګیلاس یې پورته کړ او پاچا پر سر باندې یې وویشته نو شراب یې پر مخ او جامو را وبهېدل.

پاچا ډېر په قهر شو او بیلار ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودې لیدل چې دې ناپوهې څومره سپک را ته وکتل او حال دا چې زه د عالم پاچا یم؟ ویې نیسه او ویې وژنه، او پام کوه چې زما له امر څخه مخالفت ونه کړی. که دې مخالفت وکړ نو جزا دې مرګ دی.

بیلار ایران دخت راوویستله او په زړه کې یې وویل:

پاچا خو ایران دخت ته قهر شو او د دې په وژلو یې راته امر وکړ خو زه یې نه وژنم تر څو چې د پاچا غضب او قهر کښېني نو که بیا هم هغسې په خپل امر ټینګ و نو بیا به یې ووژنم او که پښېمان شوی و نو ایران دخت به بېرته روغه رمټه ورولم. ځکه چې ایران دخت خو د وژلو ښځه نه ده، ښه فکر لري، د پاخه تدبیر خاونده ده، د ښه خوی صاحبه ده که دا مړه شي نو پاچا بیا بله داسې ښځه نه شي پیدا کولای او په خپل ژوند به هم له دې وروسته خوښ نه شي.

وزیر ایران دخت خپل کور ته بوتلله او پټه یې وساتله او د پام لرنې امر یې ددې وکړ.

وزیر بیلار څه ګړۍ ایسار شو چې د پاچا قهر غلی شوی و نو ورته راغی او ورننواته کله چې پاچا وزیر ولیده نو ایران دخت او د هغې فضل او ښه خوی وریاد شول خو له وزیر څخه یې له شرمه پوښتنه هم نشوای کولای. وزیر د پاچا په زړه پوه شو او ورته یې وویل:

باداره، غواړې چې یوه ښکلې کیسه درته وکړم؟

پاچا وویل:

هو، غواړم چې د ډاډینې کیسې واورم.

نو بیلار وویل:

دوه کوترو، چې یو نر او بله ښځه وه، په یو دېوال کې ځاله جوړه کړه او له غنمو یې ډکه کړه نو نر او ښځې سره سلا وکړه چې تر څو چې پر ځمکه دانې پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي دابه نه خوري څه موده نر چېرته تللی و، اوړی و او دانې وچې شوې او وړې شوې وې لږې ښکارېدلې. چې نر بېرته راغی نو دانې یې له نظره لږې راغلې او ښځې ته یې وویل چې ما او تا خو ویلي وو چې دا دانې به نه خورو نو دا دې ولې خوړلي دي؟ هغې ورته قسمونه وخوړل چې ما نه دي خوړلې او یوه دانه مې هم ترې کنډوه کړې نه ده عذر یې کاوه او ورته یې ژړل خو ده د دې پر قسمونو باور ونه کړ او تر ټونګو لاندې یې ونیوله تر څو چې مړه شوه.

کله چې ژمی راغی او بارانونه شروع شول، دانې لمدې شولې او بېرته هغومره شوې لکه چې وې. نو چې نر دانې ولیدلې نو ډېره پښېماني یې وکړه اود خپلې ښځې اخلاص او صداقت ور یاد شو نو خواته یې روغی او ورته یې وویل:

زه بې له تا دانې څه کړم. او چې ته نه یې زما به څه ژوند وي، او بې ګناه او خطا مې درباندې ظلم وکړ او ومې وژلې.

بیا یې له خوراک او څښاک نه لاس واخیسته تر څو چې د هغې په خوا کې مړ شو.

پاچا چې دا کیسه واورېدله نو پوه شو چې د وزیر مطلب په دې کیسه کې څه دی نو ورته یې وویل:

– ما خو د ایران دخت د قتل امر پر تا وکړ او زه خو په غضب وم نو تا ولې ددې په وژلو تادي وکړه؟

بیلار ورته وویل:

– د پاچاهانو امرونه باید ژر جاري کړلای شي او بله دا چې تا راته وویل چې که زما له امر نه دې مخالفت وکړ نو سر به دې پرېکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا هیله درلوده چې ګوندې بیلار به دده له امر نه مخالفت کړی وي خوچې د بیلار خبره یې واورېدله چې ایران دخت یې وژلی ده نو خپه شو او نژدې و چې له تخت نه پر ځمکه رالوېدلی وای.

کله چې بیلار ولیده چې د پاچا حال د ایران دخت پسې ویجاړ دی نو ورته یې وویل:

– زېری مې درباندې ایران دخت ژوندۍ ده!

پاچا ډېر خوشاله شو او وزیر ته یې وویل:

– زما پر تا عقیده وه چې زما له امر نه به د ایران دخت په وژلو کې مخالفت وکړې ځکه چې ته پوهېدلی چې زه څومره مینه له دې سره لرم او دې چې وکړل هغه هم د بنې له غېرته وو او زما بې احترامي یې په زړه کې نه وه سربېره پردې د دې په فکر او تدبیر د برهمنانو له غدارۍ او تګی نه هم خلاص شولو. اوس نو ستا پر ما ډېر حق دی چې ایران دخت دې ژوندۍ ساتلې او د هر ډول احسان او ښو وړ یې. اوس نو مهرباني وکړه او ایران دخت راوله بیلار په خوشالۍ ایران دخت ته راغی او ورته یې وویل:

– زېری مې درباندې پاچا ستا د وژلو په امر پښېمانه شوی دی او عفوه یې درته وکړه. نو پاڅه او ښکلې جامې، ګاڼې واغونده او ورشه د خپلې بې ادبۍ عذر ورته وکړه او خوشاله یې کړه.

ایران دخت دستي پاڅېدله او څه چې وزیر ویلي وو هغه یې وکړل او پاچا ته ورغله ځمکه یې ورته ښکل کړه او ورته یې وویل:

– ما خو ډېره ګناه وکړه که دې وژلې وای نو ته خو په حقه وې اوس دې چې وبخښلم او له ناپوهۍ څخه مې تېر شولې نو زه هم وعده درکوم چې بیا به داسې بې ادبي نه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې بیلار ته مخ ورواړاوه او ویې ویل:

– د پاچا په اجازه د بیلار تشکر هم کوم چې زه یې ونه وژلم او په خپل علـم او پوهه یې د بیا ژوند مېرمن کړم.

پاچا یې عذر قبول کړ او په ژوندانه یې ډېر خوښ شو او بیلار ته یې وویل:

– د ایران دخت له کبله د زړه له کومې تشکر درته وړاندې کوم، ځکـه چـې تـا مړه ژوندۍ کړه. نور زما د هرڅه واک ستا دی.

بیلار وویل:

– ایران دخت دې در پېرزو او در باندې زړه شې او د دې مینـه او اخـلاص دې روزې شه. زه د تشکر او ثنا وړ نه یم ځکه چې زه خو ستا خادم او مریي یم، او زمـا کـا رهمدا دی چې ته رانه خوښ او راضي اوسې او بس. خو یو شی درنـه غـواړم، هغـه دا چې د غضب په وخت کې به بیا امر نه صادروې چې بیا پرې پښېماني ونه کـړې چـې بیا به وار تېر وي او څه به په لاس نه درځي.

پاچا وویل:

– دا خو دې ډېره ښه ګټوره خبره وکړه او بیا به بې د پوهو دوستانو له جرګې او مرکې د کوم امر په حصه کې امر نه کوم.

بیا نو پاچا د برهمنانو واک بېلار ته ورکړ، بـیلار لـه وطنـه وشـړل نـور پاچـا او رعیت سره په ښه ژوند بوخت شول.

که چې دابشلیم دا کیسه واورېدله نو ویې ویل:

چې رښتیا دې وویل چې پاچا له نورو څخه زغم او حلم ته ډېره اړه لري.

بیدپای وویل: همدارنګه هر مشر په خپلو کارونو کې حلم او زغـم تـه اړ دی او چاره نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شبخ ګیدړ

دابشلیم پاچا بیدپای فیلسوف ته وویل:

کله کله پاچا یو چاته په قهر شي او له خپله مجلسه یې وشړي بیا چې ورته مالومه هم شي چې دا سړی پاک او بې ګناه دی بیا هم عفوه ورته نه کوي او بیا یې په هغه خپله لومړۍ منزله نه مقرروي.

بیدپای چې دا خبره واورېدله نو ویې ویل:

رښتیا دې وویل: پاچاهانو ته ګرانه ښکاري چې پر یو کار یې امر وکړ او بیا ترې بېرته رجوع وکړي که څه هم په خطا وي. دوی په دې خطا فکرونو او امرونو هم ځان سره بد کوي هم وطن او هم رعیت سره او د پاچا په نژدیکانو او غټانو کې داسې سړي چې هوښیار او مخلص وي ډېر کم پیدا کېږي نو که کله داسې یو مخلص ته په قهر شو لازمه ده چې ډېر ژر ورته عفوه وکړي او ترې تېر شي، او د ده د پوهې په مرسته ډېرې ګټې او ښې ځانته واړوي لکه زمری چې د شبخ ګیدړ له ګناه تېر شو او ښښنه یې ورته وکړه.

دابشلیم پاچا وویل:

د زمري او شبخ ګیدړ په منځ کې څه پېښه شوې وه؟

بیدپای وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ګیدړ و چې په یو ځنګل کې چې د نویو مرغانو او نورو حېواناتو ښکار په کې ډېر و او استوګنه درلودله نور ګیدړان، سورلنډیان او لېوان او وحوش هم په کې وو دا ګیدړ شیخ و او د نورو ځناورو په څېر یې د حېواناتو ښکار نه کاوه نه یې غوښه خوړله او نه یې وینه څښله یوازې واښه او له ونو څخه رالوېدلې مېوې یې خوړلې او بس:

تل به یې عبادت کاوه او پرته د دوستانو له لیدو د ، د ناروغانو له پوښتنې او عیادت بل کار ته نه راواته.

کله چې نورو ګیدړانو، سورلنډیانو او لېوانو ولیدل چې ده پر ځان د مرغانو او حېواناتو غوښه حرامه کړه او نه یې ښکار کوي، نه غواړي چې ظلم وکړي نو ورته راغلل او ورته یې وویل:

– ای ګیدړه ته پر ځان ظلم کوې چې ښکار او غوښې دې پر ځان حرامې کړې دي اخر به له لوږې مړ شې دا مرغان او ډېر حېوانات خو خدای زموږ له پاره پیدا کړي دي.

شیخ ګیدړ ځواب ورکړ:

– دا چا ویلي دي چې دا حېوانات زموږ له پاره پیداشوي دي او چا ویلي دي چې ددې حېواناتو او مرغانو غوښې موږ او زموږ د اولادو له پاره روا دي؟ نه، داسې نه ده، موږ په خپل زور او قوت غولېدلي یو او هر ظلم او تېری مو ځان ته روا ګڼلی دی او په ناحقه د حېواناتو او مرغانو غوښې خورو.

په داسې حال کې چې دوی ورپورې خندل ورته یې وویل:

– ځان وږی کوې او ښه خوراکونه په ځان حراموې خو سره له دې هم موږ سره په ظلم کې شریک یې ځکه چې ته موږ سره یوځای اوسېږې او هغه څه ظلم او تېری چې موږ کوو ته یې په خپلو سترګو ګورې نو څه چې پر موږ راځي پر تا هم راتلونکي دي نو په دنیا وږی او په اخرت کې به په عذاب وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په خپل عزم ټینګ و او دوی ته یې وویل:

– دا چا ویلي چې زه تاسو سره اوسم نو ستاسو په عذابونو به هم اخته کېږم؟ زه جسماً تاسو سره یم او په روح ستاسو له ظلمونو او تعداګانو نه بېزاره او بري یم. ستاسو په اعمالو راضي او خوښ نه یم.

نو کله چې دی یې ولیده چې زموږ خبرې پرې اغېزه نه لري نـو ورپـورې یـې وخندل او ترې ولاړل.

په ځنګل کې یو هوښیار زمری و چې د حېواناتو پاچـاهي یـې کولـه چـې ددې شېخ ګیدړ له زهد او صلاح څخه خبر شو نو راویې غوښته ښه نمانځنه یـې د ده وکـړه او څو ورځې یې له ځان سره پاتې کړ، تر څو چې د ده پـه ښـه والـي او سـپېڅلتوب او ایمانداری یې عقیده راغله نو ورته یې وویل:

– اې ګیدړه ته خـو پـوهېږې چـې زه ددې ځنګلـه پاچـا یـم او ډېـر یـاران او مرستیالان لرم چې په ډېره تادی مې هیلې تر سره کوي. خـو مـا چـې سـتا خـوی او خصلت ته وکتل خوښ مې شولې او غواړم چې ته زما له ډېرو را تېرو نژدیکـانو څخـه شې او زه غواړم چې پر دوي ټولو دې مشر کړم او مرتبه دې لوړه کړم.

نو شېخ ګیدړ ورته ورته په مخکې ودرېده احترام یې وکړ او ویې ویل:

– ډېر تشکر، ښه دې وویل، پاچاهان غواړي چې هغو خلکـو سـره ناسـته ولاړه ولري چې د دوی او مملکت په کې ګټه وي او له خپل فکر نه کـار واخلـي او پاچـا او مملکت ته کار وکړي خو که یو انسان ډیر را نژدې کړي چـې لـه کـار او عمـل سـره علاقه نه لري، که څه هم ډېر پوه او هوښیار وي، بیا هم په کې ګټه او فایده نـه شـته. زه چندان د پاچاهۍ په کار نه پوهېږم او په دې هم نه پوهېږم چې پاچا څرنګه له ځـان نه خوښ کړم، ډارېږم هسې نه چې داسې کار رانه ولاړ نـه شـي چـې سـتا د مـلال او خپګان سبب شي. په رعیت کې دې داسې خلک هم شته چې له ما څخه په کـار پـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د قدرت خاوندان دي او ستا پر هیلو او رغباتو هم عالم دي او دوی ستا د قرب په تمه هم دي ځکه چې ستا قرب ډېره لویه سرلوړي ده. نو که ته له دوی نه یو تن خوښ کړې ښه به وي ځکه چې هم به ګټه درواړوي او هم به در څخه خوښ شي.

زمري وویل:

– زیار مه باسه چې له کاره وتښتې اوس رانه هیڅ خلاصېدلای نه شي د پاچا خدمت او کار په هر هوښیار او په هغه چې په رعیت کې وي واجب دی ځکه چې د پاچا کار یواځې د ده نه دی بلکهې دا د ټول مملکت او ولس خدمت او کار دی.

شیخ ګیدړ وویل:

– تا خو مهرباني وکړه خو د پاچا کار دوه ډوله خلک غواړي: فاجر، ظالم، خبیث چې ډېر حاجتونه او تمې لري او زیار باسي چې په هره لار وي خپل مطلب پوره کړي نو چې د پاچا نوکر شي خپلو مطلبونو ته هم رسېږي او په خپله چالاکی او حیلې له ناوړو پېښو ځان هم خلاصولای شي. بل ناپوهه ساده سړی د پاچا کار ته زړه ښه کوي چې وړاندې فکر نه شي کولای او دا ډول سړی ضرور په غم ککړېږي او په شر کې لوېږي. هوښیار او پوه سړی د پاچا کار ته زړه نه ښه کوي ځکه که د پاچا په کار کې ولوېده نو بیا دپاچا دوستان او دښمنان دده غورځولو پسې هڅه کوي او ټول یې په ښکاره او پټه د ده د بېخکنی پسې لوېږي. د پاچا دوستان خو ځکه د ده بده ورځ او تباهي غواړي چې کینه یې ورته راځي چې د پاچا په نظر کې ولې دومره قدر لري او له موږ نه ولې دومره ورتېر دی. او دښمنان یې ځکه ورسره حسد او جنګ کوي چې پوهېږي که دا سړی د پاچا مرستیال او معاون وي نو زموږ پر پاچا وسه نه کېږي او دده د پوهې په واسطه له موږ نه ځان ژغورلای شي او تل به پر موږ برلاسی وي. نو چې دوستان او دښمنان د چا په لوېدلو او بدبختی پسې شول نو بیا له ضرر او هلاکت څخه ځان نه شي ژغورلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زمري له ګیدړ نه دا خبرې واورېدلې نو پوهې ته یې هک پک شو او دده کومک او مرستې ته یې هیله پیدا شوله نو ورته یې وویل:

– اې هوښیاره ګیدړه زه ستا په خبره پوه شوم او په دې هم پوه شوم چې ته ولې ډارېږې چې زما اتباع به درته چل جوړ کړي او تا به له مانه لیرې کړي او وبه دې وژني خو ډاډه اوسه او زړه را پورې وتړه تر څو چې ژوندی یم نو د چا پر تا باندې وس نه رسېږي چې ضرر درته ورسوي او تا خپه کړي.

ګیدړ وویل:

– ماته خو دا ښه ښکاري چې ما پرېږدې چې په خپله خوښه آزاد وګرځم او غم مې نه وي او خپل ساعت په وښو او اوبو تېروم، ځکه د پاچا نژدیکانو ته چې په یوه ګړۍ کې کوم مصیبت او ضررونه متوجه وي د آزاد ژوند درست عمر سره برابر نه دی او ارام لږ ژوند له ډېر ناآرامه ژوند څخه ښه دی.

زمري وویل:

– هېڅ مه ډارېږه دا نه منم چې رانه خلاص شې او وتښتې نو ضرور به کار کوې او دستي به په خپل کار شروع کوې.

کله چې ګیدړ ولیده چې اوس خلاصېدلای نه شي نو ویې ویل:

– اوس مې نو چې خوشي نه پرېږدې او ضرور را باندې کار کوې نو زه هم له تانه یوشې غواړم

کله چې زمری پوه شو چې د ګیدړ خوښه خو راغله نو ډېر خوښ شو او ویې ویل:

– اې ګیدړه څه غواړې؟ هر څه چې غواړې تیار دي. غواړه هر څه چې غواړې.

ګیدړ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زه غواړم چې زما له کار سره تړلي امر کې به تادي نه کوې. زه پوهېږم چې ځوک چې له مانه په رتبه کې جګ دي هغوی به په یو چل له دې جهته چې د دوی ځای ونه نیسم زما خرابي او بربادي غواړي او هغه چې رانه ټیټ دي د دې له پاره چې زما ځای ونیسي زما د تباهۍ پسې ګرځي او شاید چې ته به د دوی خبرې زما په حق کې واورې او له ما به دې خوا خوا بده شي. نو کله دې چې دا واورېدل نو ډېر ژر دا خبرې مه منه او پر ما حکم مه کوه، لومړی تحقیق او پلټنه وکړه چې خبره درته ښکاره شي نو که بیا مې درته خیانت ښکاره شو بیا دې چې څه خوښه وي هغه را باندې وکړه او چې دا وعده دې را سره وکړه نو زه به دربانـدې ډاډه شم او خپل اخلاص او کار به زیاتوم او په زړه، عقل او جسم به دې مرسته او کومک کوم.

زمري په خوښۍ وویل:

– زما درسره وعده ده چې تادي به ستا په حق کې نه کوم او ته د خزانې وزیر شوې، ځکه چې ته ښه او د مالونو په ساتنه کې امانت کاری یې.

ګیدړ دا کار په اخلاص ونیوه او پر خزانو به یې پاملرنه کوله چې د ده د پاملرنې په سبب په خزانو کې زیاتوالی راغی او زیادت یې وکړ.

نو پاچا ته یې اخلاص ښکاره شو او ورته ګران شو، نور یې هم ځان ته نږدې کړ او د اعتماد وړ یې وګرځاوه او د پوره واک خاوند یې کړ.

کله چې د پاچا ملګرو او اتباعو د ده قدر او شان ولیده ده سره په کینه کې ولوېدل او غوښتل یې چې اوس په یو چل ترې د پاچا زړه تور کړي او له ده نه یې کرکه او نفرت زیات کړي.

یو ځل ددوی یو ټولی ښکار ته ولاړ او یو ګوړا خر یې ښکار کړ چې تیار غوښن او کم عمره و او هیڅ یې ترې کم نه کړ غونډ یې پاچا ته راووړ چې تر څو ځان ورته اخلاصمند او مینه ناک وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري چې ددې خره غوښه وخوړله خوند یې ورکړ او لکه نور کله چې به یې د نورو ملګرو برخه کوله په دې غوښه کې یې ونه غوښتل چې ددوي برخه وکړي نو ګیدړ ته یې امر وکړ چې دا نوره غوښه کلکه وساته او سبا ته یې بیا د نورو خوراکونو سره راته راوړه.

چې شپه شوه نو یو له دغو حاسدانو څخه په پټه خزانې ته ورغی او دا نوره غوښه یې را پټه کړه او په پټه یې د ګیدړ په کور کې کېښودله چې هېڅوک ترې خبر نه شول.

سباته په وخت د زمري اتباعو د خپل چل او مکر د سرته رسولو له پاره زمري ته مړۍ راوړه نو کله چې خادم مړۍ راوړه زمري وکتل چې د ګوړا خر غوښه په کې نشته. نو په قهر شو او ویې ویل:

- د خره غوښه څه شوه او ولې ګیدړ په خپل کاله ځان سره ساتلې ده؟ خبر نه دی چې د مړۍ په منځ کې ماته ددې غوښې خوړل خوند راکوي؟

نو دوی دا موقع غنیمت وګڼله او یو یې د اخلاص ښکاره کولو له پاره پاچا ته ورووړاندې شو او ویې ویل:

- موږ باید پاچا په خبره خبر کړو اګر که ځینې نژدیکان یې ورباندې خپه کېږي هم، ځکه له پاچا خبره پټول د پاچا او رعیت د خرابۍ سبب ګرځي. خبره دا ده چې د ګیدړ هغه غوښه په خپله خوښه شوې او خپل کورته یې وړې ده او ویلې یې دي چې د پاچا هم هغه بس ده چې پرون یې وخوړله.

بل وویل:

- ای وروره داسې به نه وي. چې ګیدړ په ناحقه په غم ککړ نه شي راځئ چې لومړی د خبرې پلټنه وکړو تر څو ظلم او تېری مو له لاسه ونه شي.

دریم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– که یې ولټوئ نو د همده په کور کې به یې بیا مومئ ځکه چې دا ګیدړ خاین او غادر دی او ما ترې ډېر ځله داسې خیانتونه او ټګۍ لیدلي دي.

څلورم وویل:

– دا څه وایې؟ ګیدړ غوښه غلا کړې او کور ته یې وړې ده؟ که دا رښتیا وي خو له بد نه بده ده چې د خپل بادار سره دومره خیانت کوي.

پنځم وویل:

– که اجازه وي موږ به ځوک ورولېږو چې د ګیدړ کور ولټوي چې ګیدړ داسې مخصوص جاسوسان لري نه چې چېرته یې بې ځایه نه کړي.

دوی د ګیدړ په حق کې داډول خبرې کولې چې تر څو یې زمري په قهر کړ او امر یې وکړ چې ګیدړ راولئ.

ګیدړ راغی ده ترې د غوښې پوښتنه وکړه او ګیدړ وویل:

ما خو د غوښو خزانه دار ته د ساتلو له پاره ورکړه او ورته مې وویل چې سبا ته یې تاته حاضره کړي نو هغه څه کړه؟

زمري د غوښو خزانه دار راوغوښته هغه هم نټه وکړه چې ما له ګیدړ څخه هېڅ نه دي اخیستي ځکه چې دا خزانه دار هم ددې نورو سره په دې مشوره کې ګډ و.

زمری یو امین خوښ کړ او د ګیدړ کور ته یې د غوښې د لټولو له پاره ورواستاوه او ګیدړ یې په خپل مجلس کې پاتې کړ.

دا امین چې بېرته راغی نو همغه غوښه ورسره وه چې زمري ګیدړ ته ورکړې وه په مجلس کې یو لېوه و چې تر اوسه یې لا یوه خبره هم د ګیدړ په باره کې نه وه کړې او داسې مالومېده چې دی ناحقه خبره نه کوي. نو کله چې غوښه یې راوړه ده وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– اوس نو پاچا د ګيدړ په خيانت او فساد خبر شو اوس نو که پاچا د ده تـر ګنـاه تېر شي او عفوه ورته وکړي نو بيا به يې هېڅوک د چا په خيانت او غدر خبر نـه کـړي او د مملکت امور او کارونه به خراب شي.

دې لېوه وويل:

– د ده ګناه د بخښلو نه ده. له ګناه سره وړ عذاب او زجر ورکـړه چـې بـل وي چې بيا داسې خيانت او غدر ته زړه ښه نه کړي.

د زمري زړه ګيدړ ته له قهره پړسېدلی و، پوليس ته يې امر وکړ او بنديخانې ته يې داخل کړ.

کله يې چې ګيدړ بندې کړ نو دوی ټول ورباندې خوشاله شول، خـو د خبـرې د رښتيا کېدو ډار يې هم په زړه کې و او ويل يې نه چې خبره رښتيا شي دې خـلاص او موږ په بلا ککړ شو. نو يو بل ته يې سره وکتل او يوه وويل:

– محترمه پاچا ښه جزا دې ورکړه. اوس دې هم ورسره ښه وکړل که نـه نـو د وژلو وړ دی. ښه داده چې کوم جاسوس ورواستوې چې څه يې چـې درتـه پـه زړه دي هغه ترې واوري، که برااَت او پاکي يې ښکاره شوه عفوه به ورته وکړې او که جرم يې ښکاره شو او په زړه کې يې نور څه هم درته وي نو برسېره پر بند د نور عذاب وړ هـم دی.

پاچا دا خبره ومنله او د حال مالومولو له پاره يې سـورلنډی ورولېـږه چـې د زړه حال ترې واخلي.

سورلنډی چې ورغی ګوري چې ګيدړ په عبادت بوخت دی او دعـا کـوي چـې زمري ته يې پاکي ښکاره شي او له دې بلا څخه خلاص شي.

نو سورلنډی بېرته راغی چې زمري ته ووايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– ګیدړ درته ښېرې کوي او وايي: که له بنده خلاص شوم نو په داسې غم خو به يې ککړ کړم چې نه يې سر خلاصېږي او نه پښې.

نو حاضرينو ځان په تعجب ښکاره کړ او يوه وويل:

– اوس درته مالومه شوه ای باداراه چې دا مجرم او ګنهکار او د لوی عذاب وړ دی. ځکه چې د ده وجود نو نور ستا او ستا د دوستانو لپاره لوی خطر دی. او دا تېر کارونه، چې هغه څه چې موږ خوړل او ده نه خوړل، هغه هم دده په خبث نفسي او په دې چې موږ يې بد راځو واضح او ښکاره دليل دی او ښه کلکه يې په زړه کې ده.

زمري چې فکر وکړ نو د دغو دليلونو د رد لپاره يې لار پېدا نه کړه او باور يې راغی چې نور يې نو د ګیدړ په ژوندي پرېښودلو کې خطر او ضرر دی، نو سمدستي يې د ده پر وژلو امر وکړ.

د زمري يوه هوښياره پوهه مور وه چې خبره شوه چې زمری پر ګیدړ د قتل امر صادر کړی دی نو خبر يې ورواستاوه چې د ګیدړ مرګ او قتل وځنډوي بيا زمري ته ورغله او زمري ته يې وويل:

– زويکه په کومه ګناه دې پر ګیدړ د قتل امر کړی؟

نو زمري ورته ټوله کيسه تر سره کړه نو هغې وويل:

– زويه په حکم کې دې تادي وکړه او څوک چې تادی کوي پښېمانه کېږي. که نور خلک په يو کار کې فکر کولو ته اړ دي نو پاچاهان خو لا اړ او محتاج دي، ځکه چې هره غلطي اصلاح کېدای شي او د پاچاهانو غلطي هېڅ کله بيا نه اصلاح کېږي او د دې ګیدړ رښتيا او اخلاص خو تا تجربه کړي او تر اوسه يې کوم قصور درته نه دی ښکاره شوی او دا هم ترې نه ده ليدل شوي چې دی غل او يا خاين دی. بله دا ده چې د پاچاهانو اتباع يو د بل ضرر پسې ګرځي او چې وسه يې وشي نو يو د بل په وژلو او مرګ هم صرفه نه کوي. هوښيار عازم پاچا هغه دی چې خپل ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپېژني او د دوي له نفسي احوالو څخه ځان خبر کړي. تا د هغه ګیدړ په وژلو حکم کړی چې پاکي او ښه والی یې درته په وارو وارو ښکاره شوی او هغه هم د یوې تـوتې غوښې په ګناه او جرم.

زمري ته لا مور په همدې نصیحتونو لګیا وه چې یـو امـین او مخلـص سـړی راغی او زمري ته یې وویل:

– نژدې وه چې لویه ګناه دې کړې وای!

زمري ورته وکتل او تعجب یې وکړ او ورته یې وویل.

– څرنګه؟ او کله؟

– کله دې چې د ګیدړ بې وزلي د مرګ حکم صادر کړ، او دی بې وزله له هغـه تورنه پاک او بري دی او خوشي تور پرې لګول شوی دی.

زمري وویل:

– تاته یې کله پاکي او برائت ښکاره شو؟

ما چې کله دا ټول واورېده نو ورته په شک کې شوم نو په زړه کـې مـې وویـل چې څرنګه ګیدړ غوښه پټوي او حال دا چې غوښه خوړل یې پر ځان حرام کـړي دي؟ او که له خپله عادته اوښتی وي او زموږ په څېر ده هم د غوښو خوړلو تـه رجـوع کـړې وي نو د پاچا په خزانه کې خو لمـدې او وچـې غوښـې لـږې نـه دي چـې ده د پاچـا شخصي غوښه خوړله او ځان یې هلاکت کې غورځاوه غلا یې کولـه پـه داسـې حـال کې چې د ښه فکر او عقل خاوند دی؟ نو دا خبره مـې دروغ وګڼلـه، ولاړم دوی پسـې شوم، د دوی حرکات او کارونه مې د سترګو لاندې ساتل تر څو چې خبره راته ښـکاره شوه. له دوي نه مې واورېدل چې تا د ګیدړ په وژلو حکم وکړ چـې یـو او بـل تـه یـې مبارکي ویله او د خپلو چلونو او ټکیو په کامیابۍ یې خوښي کوله.

د زمري مور چې دا خبره واورېدله نو خوشاله شوه او زمري ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– نژدې وو چې په ظلم دې بې ګناه ګیدړ وژلی وای اوس دغو خیانتکارو او ټګانو ته کلکه او وړ جزا ورکړه چې بیا داسې کار ته زړه ښه نه کړي.

زمري ددغو ټګانو په اعدام حکم وکړ او ګیدړ یې له بندیخانې څخه را ووېسته د خپلې خطا چې نژدې وه چې وژلی یې وای عذر ورته وکړ او د خپلو ټولو امورو او کارونو واک یې ورکړ او عزت یې نور هم لا پسې ډېر شو.

کله چې دابشلیم دا کیسه واورېدله نو ویې ویل:

– رښتیا، ببدپای چې د پاچاهانو تېنګار د یو خطا امر په اجرا کولو لوی خطر او ظلم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاهزاده او ملګري يې

دابشليم پاچا بيدپای فيلسوف ته وويل:

– خلک په دې ژوند کې د برياليتوب په اسبابو کې سره مختلف دي. ځينې وايي چې برياليتوب چانس او بخت دی ځينې وايې چې په زيار او عمل دی. ای حکيمه ستا په دې کې څه رايه او فکر دی؟

بيدپای ځواب ورکړ:

– د خلکو د اختلاف سبب دادی چې ځينې يې په چانس او بخت خوري، ځينې په زيار او عمل او شک نشته چې په ژوند کې هم عمل شته او هم چانس او هوښيار هغه دی چې په کار کې زيار وباسي او بيا د چانس په تمه او هيله شي. زما يوه کيسه زده ده چې په هغې کې د خلکو اختلاف د دې ژوند په باره کې ښه تمثيل شوی دی. او هغه کيسه دا ده:

څلور تنه زلميان سره په لار کې ملګري شول، يو شاهزاده بل د سودا ګر زوي، بل د يو شريف زوی او څلورم د بزګر زوی و او ورسره پرته له جامو چې اغوستلې يې وې نور څه نه وو. دوی په همدې حال وو چې ډېر په تکليف او زحمت شول.

يو ځل دوی د يوې ونې لاندې کښېناستل چې ستړيا وباسي او دمه وکړي نو د دنيا خبره يې منځ ته راواچوله او د چا چې څه زړه وو په دې باره کې يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهزاده وویل:

– ما ژوند پېژندلی او ازمویلی مې دی. خبره دا ده چې هر څه په قضا او قدر پورې تړلي دي.

کله چې دوی دا واورېدله نو د سوداګر زوی وویل:

– چې هر څه په قضا او قدر دي نو دا عقل څه په کار دی؟ انسان باید له عقل څخه کار واخلي تر څو چې بریالی شي.

خو د شریف زوی دا یوه هم ونه منله او ویې ویل:

– داسې نه ده او ستاسو دواړو خبره ډېره خطا ده. چانس هر وخت نه وي او عقل کله کله تېروځي ډېر د عقل خاوندان په دې دنیا کې محروم دي. خو ښکلا وجاهت، شرف، ښه کسب دی. مخور هېڅ کار او عمل نه کوي او له هر چا څخه یې ښه خوري او ښه یې اغوندي او خلک یې قدر او عزت کوي، نو څوک که غواړي چې بریمند او کامیاب وي باید مخور او شریف وي.

کله چې د دهقان زوی دا خبرې واورېدلې نو ویې ویل:

– تاسو خو عجیبه فکرونه کوئ او څه، څه وایئ! څه چې دي خو کار او عمل دی، نه قضا او قدر په کار دي، نه چانس، نه عقل او نه مخوري او وجاهت او ښکلا! که څوک غواړي چې بریالی او کامیاب وي نو باید چې کار او عمل وکړي.

هر یوه خپل خپل دلیل راووړ خو اختلاف یې له منځه ونه واته. نو سره یې وویل:

– دا اختلاف څه ګټه نه کوي راځئ چې هر څوک خپله رایه تجربه کړي. دا دی تیار وړي یو او هېڅ راسره نشته ښار هم نژدی دی او هر څه په کې شته.

د دهقان زوی ته یې وویل چې ته ولاړ شه او موږ ته مړی راوړه چې مالوم شي چې ته څه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهقان زوی ښار ته ولاړ او د کار لټون یې وکړ چې تر څو خپلو ملګرو ته مړی پیدا کړي خلکو ورته وویل:

ښه کار دلته خس او لرګي کول دي.

نو دی ځنګل ته ولاړ، له لوخو یې رسی وغړله او د خپل قدرت په اندازه یې بوټي را ټول کړل په رسی کې یې ښار ته راوړل، په یوه روپی یې وپلورل او ملګرو ته یې پرې مړی واخیستله.

کله چې د ښار دروازې ته ورسېده پر دروازه یې ولیکل چې «د یوې ورځې کار یوه روپی ارزي»، ملګرو ته راغی او مړی یې ورته مخ ته کېښوده.

ملګرو ورته وویل چې کار خو دې ثمره ورکړه اګر که دروند او ګران و.

بله ورځ یې د شریف زوی ته وویل چې نن ستا وار دی ولاړ شه او وجاهت او مخ دې وازمېیه او موږ ته طعام راوړه.

دې هم ښار ته ولاړ. چې دروازې ته ورنژدې شو نو فکر یې وکړ چې زما خو څه کار هم نه دی زده او د نورو مخورو او اشرافو غوندې خادمان هم راسره نشته نو ویې ویل:

– د څه له پاره ښار ته ولاړ شم؟ او څه به وکړم؟ زه نه پوهېدم چې ویل مې چې وجاهت بې کاره نفع رسوي.

شرمېده چې بېرته ملګرو ته بې طعامه راوګرځي نو فکر یې وکړ چې وتښتي. وروسته له ډېره فکره یې د دمې جوړولو لپاره یوې ونې ته ډډه ووهله او ویده شو. دی لا ویده و چې د ښار له غټانو او اشرافو څخه ورباندې یو سړی تېرېده او دی یې خوښ شو په زړه کې یې وویل: دا ځوان خو شریف او د کوم شریف زوی دی چې اوس ورباندې لکه چې سخته راغلې وي نو زړه یې ورباندې ولوربېده او له خوبه یې را ویښ کړ پنځه سوه روپی یې ورکړې او ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د شریف زوی خوشال شو او په دروازه یې ولیکل «د یوې ورځې د وجاهت او ښکلا بیه پنځه سوه روپۍ ده.» نور یې ملګرو ته طعام او نور ضروري شیان وپېرودل او راغی او روپۍ یې منځ ته واچولې او ویل یې: «اوس مو زما خبره ومنله؟ وګورئ چې ما په ښکلا او شرف څومره ګټه وکړله؟»

په درېیمه ورځ یې د تاجر زوی ته وویل چې نن ستا وار دی ځه او خپل فکر دې وازمېیه. دی ولاړ، اخوا دې خوا په بازار کې ګوري که د تجارت کوم شی پیدا شي چې د بحر ساحل ته ورغی. ګوري چې په بېړۍ کې داسې قیمتي مالونه پراته دي چې هېڅ په بازار کې یې پته هم نشته.

خو ده د ښار له سوداګرو نه اورېدلي و چې ویل یې؟

نن دا مال مه اخلئ او ووایئ چې دا مال خو موږ سره ډېر دی او کومه اړه ورته نه لرو نو د مال خاوندان به ورپورې په تنګ شي او ارزان به یې را باندې وپلوري.

د تاجر زوی د دوی خبرې واورېدلې او په بله لار یې سوداګرو ته ځان وررورساوه او ورسره یې اتفاق وکړ چې دا مال ده ته په نېټه ورکړي. مال یې له هغو څخه واخیسته او په ښار کې یې اعلان وکړ چې زه دا مال بل ښار ته وړم. د ښار سوداګرو چې دا خبره واورېدله پسې په منډه ورغلل او یو لک روپۍ ګټه یې ورکړه او مال یې ترې واخیسته.

د سوداګر زوی وویل:

«د یوې ورځې د عقل او پوهې بیه یو لک روپۍ ده» او دا خبره یې په دروازه ولیکله. روپۍ یې ځان سره واخستلې او ملګرو ته ورغی او ورته یې وویل:

– دا هغه عقل دی چې تاسې یې له برکته خبر هم نه وئ او په قدرت یې نه پوهېدلئ وګورئ چې د عقل په مرسته څرنګه سړی بریالی کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځلورمه ورځ يې شاهزاده ته وويل چې نن ستا وار دی، ورشه چې پر قضا او قدر او چانس باندې باور لرې نو موږ تـه طعـام راوړه. شـاهزاده ولاړ او د ښـار دروازې سره نژدې په يوه چوتره کښېناست.

پېښه داسې وه چې د ښار پاچا په دې ورځ مړ و او کوم وارث يې نـه درلـود پـه دې وخت کې خلکو د پاچا جنازه پر ده تېروله. له غمه يې تورې جامې اغوسـتې وې او سترګې يې له اوښکو ډکې وې. شاهزاده چې ورته وکتل نـو څـه چـرت يـې وربانـدې خراب نه کړ او غم شريکې يې ورسره ونه کړه.

کله يې چې وليده چې د دوی په غم يې څه پروا نشته نو ښـکنځلې يـې ورتـه وکړې او دروازه چي ورته وويل ته څوک يې ای ځوانه؟ او زموږ پر پاچا ولـې خپـه نـه يې؟ او له کوم ځای نه دلته راغلی يې؟

بيا يې له دې چوترې نه وشاړه او د ښار له دروازې څخه يې ليرې کړ.

د جنازې خلک ولاړل او دروازه چي هم ورسره و چې پاچا ښخ کړي.

چې دوی ليرې شول نو د پاچا زوی بېرته راغی او همهلته کښېناسته.

کله چې د جنازې خلک بېرته راغلل. دروازچي ګوري چې هغه ځوان بيا همهلتـه ناست دی نو ورته په قهر شو او ويې ويل:

– ای بې شرمه مساپره ما خو ته منع کړی وې چې دلته م کښېنه تا زمـا خبـره ولې ونه منله؟ او چا درته د بيا کښېناستلو اذن او اجازه وکړه؟

په ډېر تور زړه يې را ښکوده او په هغه بنديخانه کـې يـې واچـاوه چـې دروازې سره نژدی وه.

چې سبا شو نو خلک د نوي پاچا د درولو په تکل شول. نو اشـراف او خـوانين را ټول شول هر څوک د پاچاهۍ په تمه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو به چې ځان کاندید کړ نورو به په کې په شل رنګه عیبونــه را وســپړل او قرار به کېښناسته. په همدې ډول د هر چا حــال و نــو خبــره آخــر جنــګ و جــدل تــه ورسېده او نژدې وه چې جنګ وشي.

په دې وخت کې د دروازه چي شاهزاده را یاد شو نو دوی ته یې وویل:

– ای مشرانو پرون ما یو ځوان مساپر بندي کـړی دی، نــه چــې جاســوس وي چې زموږ دښمنانو زموږ د حال مالومولو له پاره رالېږلی وي اوس مــې لــه وېــرې هلتــه بندي کړی دی.

دوی ورته وویل:

– ښه دې وکړل: ورشه رایې وله چې پوښتنې ترې وکړو، په حال یې ځان پــوه کړو چې څه بلا راته پېښه نه کړي.

دروازه چي راغی او شاهزاده یــې راوابســته. چــې مشــرانو او اشــرافو ولیــده نــو پوښتنه یې ترې وکړه چې ته څوک یې؟ شاهزاده وویل:

– زه د پاچا زوی یم او یو کال کېږي چې پلار مې مړ دی د تخت د نیولــو حــق زما و خو کشر ورور مې راباندې زوروور شو منصبدارانو او مشرانو ته یې رشوت ورکـړ او پاچاهي یې رانه په زور ونیوله او زه یې له خپلې وېرې چې ګونـدې پاچــاهی بــه تــرې ونیسم را وشړلم او دادی دلته راغلم.

اشرافو او مشرانو د خپل اختلاف د لیرې کولو له پاره شاهزاده پاچا کـړ. او ورتــه یې وویل:

په ډېر ښه وخت کې را ورسېدلې که نه نو زموږ په منځ کې د جنګ اور بــل و او نژدې وه چې سره دل شوي وای. بیا یې نو پر ســپین اوښ د خپــل عــادت ســره ســم سپور کړ او د درناوي له پاره یې په کوڅو کې ګرځاوه چې دروازې ته را ورسېده نو امــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وکړ چې د ملګرو د ليکونو لاندې وليکي چې «کوشش، ښکلا، عقل او هر شی چې انسان ته له ښو، بدو نه رسېږي دا ټول د قضا او قدر په واسطه دي.»

شاهزاده پر تخت کښېناست او درې واړه ملګرې يې راوغوښتل او ښه يې ونمانځل د عقل څښتن يې وزير کړ د بزګر زوی يې پر بزګری وټاکه او د ښکلا خاوند يې ډېر ونمانځه او څه مال يې ورته ورکړ او له ښاره يې نور وشاړه، چې دی دلته د اوسېدلو حق نه لري ځکه چې نه عقل لري او نه کار.

دابشليم چې دا کيسه واورېدله نو ويې ويل:

– اې بيدپای ښه دې وويل او پوه دې کړم چې خلک ولې په ژوند کې د برياليتوب په سببونو او علتونو کې سره اختلاف لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موږک او پیشو

دابشلیم بیدپای فیلسوف ته وویل:

– کله سړی د خپل دښمن سره هم د مرستې پــه تمــه پخــلا کېــږي او ســوله ورسره کوي په دې باره کې هم یوه کیسه راته ووایه چې دا موضــوع راتــه واضــحه او ښکاره شي.

بیدپای وویل:

– دوستي تل نه وي او دښمني هم نه پاتې کېږي، ډېر ځله دوستي په دښــمنۍ بدله شي او دښمني په دوستۍ. هوښیار کولای شي چې د شدت او ســختۍ پــه وخــت کې له دښمن نه هم مرسته وغواړي. لکه چې موږک او پیشو سره یو تر بلــه مرســته او کومک وکړ او ځانونه یې له غمه خلاص کړل.

دابشلیم وویل:

– ددوی کیسه څرنګه وه؟

بیدپای وویل:

یوه پیشو وه چې د یوې ونې په یوه خوا کې اوسېدله او یو موږک یې په بله خوا کې چې له پیشو یې ډېر ځان ساته له سوړې به تر هغه نه راواته چې باور به یــې وشــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پيشو چېرته ليرې تللې ده. يوه ورځ پيشو د ښکاري په دام کې ونښتله او مياو مياو يې کول او چيغې وهلې.

موږک هم له سوړې د طعام لټولو پسې راوواته، ګوري چې پيشو په دام کې نښتې ده نو خوشاله شو او خيال يې وکړ چې پيشو نه خو نور د عمر تر پايه پورې خلاص شوم خو ګوري چې د پاسه کونګ ورپسې دی او غواړي چې دی ونيسي او له بلې خوا نولی هم د ده د نيولو په تمه دی نو وډارېده او په زړه کې يې وويل چې زه خو له هرې خوا په بلا ککړ شوم که په ځای درېږم کونګ مې خوري که بېرته ځم نولی مې خوري او که وړاندې ځم د پيشو مړی کېږم.

بيا يې وويل:

– تر څو چې عقل لرم بايد له نجات او خلاصی نه بې هيلې نه شم نو دا پيشو خو اوس زما په شان په بلا ککړه ده، وربه شم او ورته به ووايم که ماسره مرسته کوي نو زه به يې له دام څخه خلاصه کړم که هوښياره وي نو زما په خبره به راضي شي.

پيشو ته ورغی او ورته يې وويل:

– څرنګه يې؟ او ولې په دې غم کې لوېدلې يې؟

پيشو وويل:

– خوشاله اوسه. زه خو د ښکاري په دام کې ونښتلم، او ته نور زما له ډاره تر عمره خلاص شوې.

موږک په غم او حزن تظاهر وکړ او ويې ويل:

– څرنګه ستا په حال خوشاله شم او ته په دې حال يې؟ هوښيار د چا پر غم نه خوشالېږي ځکه پوهېږي چې هر څوک درد او غم لري. او کېدای شي چې له دښمن نه يې ده ته لوی غم پېښ شي. که دا اوس هم راته وګورې نو زه له تا نه په لوی غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ککړ یم شاته مې نولی ولاړ دی او د حملې په تمه دی او د پاسه را باندې کونګ د غوټې په انتظار دی او ته هم که څه هم په دام کې بنده یې که درنـژدې شـم نـو پـه خوړلو مې هیله نه کوې . اوس دې ومنله چې زما مصیبت ستا له مصیبت څخـه لـوی دی؟

پیشو ورته وویل:

– هو شک نشته چې دواړه په غم او مصیبت ککړ یو.

موږک وویل:

– زه درسره یو مصلحت لرم که خوښه دې ورته راغله نو زمـا او سـتا دواړو لـه پاره ښه ده.

پیشو وویل:

– ووایه کنه څه مصلحت دی؟ زه خو داسې مصلحت ته تیاره یم چې هم زما د خلاصی تعهد وکړي او هم ستا.

موږک وویل:

– تر څو چې زه دام په غاښـونو کـرنج نـه کـړم تـه نـه شـې خلاصـېدلای او همدارنګه ماپسې کونګ او نولی دي که ته راسره کومک ونه کړې زه هم ځان نه شم ژغورلا ی نو که ته راسره عهد او وعده کوې چې که دې خلاصه کړم ما به نه خـورې نو خلاصه به دې کړم او له ښکاري نه به دې وژغورم.

پیشو چې د موږک خبره واورېدله خوشاله شوه او د ده په صـداقت یـې زړه ډاډه شو، ورته یې وویل:

– اې موږکه خبره دې حقه ده. زه پرته ستا له مرستې ځان نه شم ژغـورلای او که زه دې له دام څخه خلاصه کړم د خپل عمر ملګری به دې وګڼم غوښه به دې پـر ځان او اولاد حرامه کړم او اولادونه او لمسې به دې هم زما له اولادونـو او لمسـیو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن او سلام کې وي نو اوس ژر شه او ما خلاصه کړه ځکه چې د ښکاري د راتلو وخت نژدی دی.

موږک دام ته ورمنډه کړه او د دام په کرنجولو یې پیل وکړ. کله چې کونګ او نولي ولیده چې کار یې اوږد شو نو دواړه ترې ولاړل.

موږک چې خپل دښمنان ولیدل چې ولاړل نو زړه یې ډاډه شو او ډار یې وتښتېده نو که له پیشو سره یې د خلاصولو وعده او عهد نه وای کړی نو په خپله خلاص شوی و. خو خپل عهد او وعده یې په یاد شو او ویې غوښتل چې پیشو خلاصه کړي، له دام نه یې وژغوري خو په زړه کې یې راغله چې که پیشو له دام نه خلاصه شي نه ویل کېږي چې را باندې را ټوپ کړي او ورمېږ راباندې تاو کړي نو په زړه کې یې ځان سره مشوره وکړه او د دام تارونه به یې ارام ارام، سوکه سوکه کرنجول. چې پیشو دده سوکه والی او سستي ولیده نو ورته یې وویل:

– ولې دومره په ارام او قرارۍ د دام تارونه کرنجوې؟ زړه دې ډاډه شو چې له دښمن څخه دې خلاص شولې او نه غواړې چې ما وژغورې؟ دا خو د ښو خلکو کار نه دی ما او تا خو سره د دوستۍ لاس ورکړ او له زړې دښمنۍ څخه تېر شولو. زه هیله کوم چې له دې دام څخه مې وژغورې چې اوس به ښکاري راشي او حیات به مې خراب کړي. پوهانو ویلي دي چې څوک له چا څخه مرسته وغواړي او د هغه له لاسه پوره وي او ورسره یې ونه کړي نو خاین او غادر دی او د غدر او خیانت په ربړ به ککړ شي.

نو موږک وویل:

– داسې نه ده. زه نه غواړم چې تاسره ټګي وکړم او په دام کې دې پرېږدم او زه پوهېږم چې زما او ستا ملګري سرسري ده او له وېرې پیدا شوې ده، که دا وېره ولاړه نو کېدلای شي چې بیا به هم هغسې دښمنان یو نو له همدې کبله غواړم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول تارونه پرېکړم او یو تار پرېږدم چې ته پرې بنده پاتې یې. کله مې چې ښکاري ولیده چې راغی او را نژدی شو نو هغه به هم کرنج کړم نو په دې وخت کې به بیا درسره زما د نیولو فکر نه وي ځکه چې ته به په خپله لار تښتې او ځان به له ښکاري څخه ژغورې او زه به خپلې سوړې ته وتښتم نو ستا لاس به پر ما ونه رسي او نه به ښکاري راته کوم اذیت ورسوي.

دوی لا سره همداخبرې کولې چې ښکاري راغی نو پیشو وویل: اوس دې نو د کوشش وخت راغی ژر کوه چې ښکاري را نـژدې شـو. نـو مـوږک ژر ژر د دام تارونـه پرې کړل تر څو چې ښکاري رارسېده پیشو پر ونـه ورټـوپ کـړ او مـوږک پـه سـوړه ننواته.

ښکاري هاخوا دې خوا وکتل او هېڅ یې په نظر رانه غلل خپل کـرنج شـوی او شکېدلی دام یې را ټول کړ او خواشینی په خپله مخه ولاړ.

په دې وخت کې پیشو موږک ته غږ کړ:

– ګرانه ملګریه راووځه چې یوه ګړی د خپل صداقت او دوستۍ مبـوې وخـورو او ساعت تېر کړو.

موږک وویل:

– ملګریه نور نو راته په تمه کېږه مه، ځکه چې هر شې بېرته خپل طبیعـت تـه ګرځي کله چې سبب د تغییر مزاج یې لیرې شي لکه اوبه چـې پـر اور ګرمـې شـي او چې اور لیرې شي بېرته سړې شي. زمـوږ او ستاسـو دښـمني طبیعـي ده او تغییـر نـه خوري او زما او ستا ملګري له ضرور منځته راغلې وه اوس خو هغه اړه پـوره شـوه نـو ډارېږم چې هغه زړه دښمني مو بېرته را برسېره نشي. او زما په څېر ضـعیف او نـاتواني ته ښه نه ده چې ستا غوندې قوي او زورور ته ځان درنژدې کـړي نـو زه دې ملګـری یم خو له لیرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابشلیم بیدپای ته وویل:

– ډېره ښه خبره دې وکړه کېدای شي چې ستا د حکمت له برکتــه او ســتا پــه علم خلکو ته ګټه ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمانځي او نولی

دابشلیم پاچا بیدپای فیلسوف ته وویل:

د هغه چا مثل راته ووایه چې په کار کې تادي کوي او د خپل کار پایلې او نتیجې ته نه ګوري او پام نه کوي.

بیدپای وویل:

څوک چې په خپل کار تادي کوي او فکر په کې نه کوي نو په پای کې پښېماني او ندامت کوي او د هغه لمانځي کانه به پرې وشي چې خپل ګران ملګری نولی یې وواژه.

دابشلیم وویل: چې ددوی کیسه څرنګه وه؟!

بیدپای وویل:

وایي چې یو لمانځی و او ډېره ښه ښکلې او ښایسته ښځه یې درلوده ډېره موده ورباندې تېره شوه او ددوی کوم اولاد پېدا نه شو بیا دا ښځه حامله شوه دا او مېړه یې دواړه خوښ وو.

سړي وویل چې څه ښه به وي که دا حمل نر وي او ښځې ته یې وویل زه هیله کوم چې دا حمل نر وي او زما او ستا له پاره په کې فایده وي ښه نوم به ورباندې ږدو او ښه استاد به ورته را غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې ورته وویل:

دا څه وايې ته څه خبر یې چې نر دی او که نـه؟ او څـوک چـې داسـې خبـرې کوي د هغه لمانځي کانه به ورباندې وشي چې پر سر یې غوړي او شات تـوی شـوي وو. مېړه ښځې ته وویل چې دده خبره څرنګه وه؟ ښځې وویل: وایي چې یـو لمـانځي ته یو سوداګر هره ورځ څه غوړي او څه شات ورکول او ده به څه خوړل او څه بـه یـې په یو ګړي کې سپمول تر څو چې ګړی ډک شو او په موړي کې یې ځوړنـد کـړ. یـوه ورځ لمانځي ستوني ستاخ پروت دی او شلګی یې په لاس کې دی چې غوړیو او شـاتو ته یې فکر شو نو د ځان سره یې وویل چې دا ګړی غوړي او شـات بـه وپلـورم او پـه پیسو به یې لس سره وری واخلم هغه به بلاربې شي او بچي به راوړي او بیـا بـه یـې بچیاني هم لنګې شي تر څو چې درې څلور سوو تـه ورسـېږي بیـا بـه یـې وپلـورم او غواګانې به واخلم ځمکه او غوایان به واخلم او بزګر به هم ورته ونیسم او له هرې خوا لکه د غواوو شیدې، بچي او نور به ګټه کوم او د ډېرو شتو څښتن به شم، ښـه ښـکلې کور به جوړ کړم وینځې او مریونه به واخلم او یوه ښه ښکلې ښځه به هـم وکـړم چـې ښه ښکلې او پوه زوی به راته وزېږوي، ښه نوم به پرې کښېږدم، چې لږ لـوی شـو نـو پرسبق به یې کښېنوم او که یې نه وایه نو په دې شلګي به یې په دا سر دغسـې وهـم په دې وخت کې یې ګړی ته اشاره وکړه او هغه یې مات کړ نو څـه چـې پـه کـې وو هغه ټول وبهېدل او پر سر یې را توی شول.

دا کیسه مې درته د دې له پاره وکړه چې هغه څه چې یادونه یـې وړ نـه وي او پرې نه پوهېږې په یادونه یې تادې مه کوه ځکه چې یا به وشي او یا به ونه شـي. نـو مېړه د خپلې ښځې په خبره پند واخیست او په خپله خطا پوه شو.

ښځې ښکلی زوی وزېږاوه. پلار یې پرې ډېر خوښ شو. څـه مـوده وروسـته د ښځې حمام کولو ته اړه پېدا شوه خپل مېړه یې زوی سره کښېناوه لږ ساعت تېر نـه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ده پسې د پاچا استازی راغی او دی یې وغوښته نو سړي فکر وکړ چې زوی خو مې اوس یوائې پاتې کېږي نو پرته له نولي څخه یې بل څوک ونه لیده چې زوی سره یې پرېږدي، دا نولی هم پرې له زوی نه کم ګران نه و. ځکه چې وړوکی یې ساتلی او لوی کړی و، نو زوی او نولی یې دواړه پرېښودل او دروازه یې ورپسې پورې کړه. په دې وخت کې له یوې سوړې څخه یو مار راووات او چې هلک ته را نږدې کېده نولي پرې ورټوپ کړ او مار یې وواژه او د مار په وینو یې خوله سره شوه چې لمانځی راغی او دروازه یې پرانیستله. نو نولی په منډه مخې ته ورغی چې ګوندې ما خو مار وواژه او ستا زوی مې له مرګ نه وژغوره. ګوري چې د نولي خوله په وینو سره ده ګومان یې وکړ چې د ده زوی یې خفه کړی او خوړلی دی بې له دې چې فکر وکړي په شلګي یې نولی د سر په کوپړۍ وواهه او مړ یې کړ چې ننواته ګوري چې زوی یې روغ رمټ دی او وژلی تور مار ورسره پروت دی. کله چې خبره ورته جوته شوه او په حقیقت پوه شو خپل مخ ته یې څپېړې ونیولې او ویل یې کاشکې چې دا زوی خو مې نه وای شوی او دا غدر خو مې نه وای کړی.

چې ښځه راغله نو ترې پوښتنه یې وکړه چې ولې داسې خپه یې او خبره څه ده؟

ده ورته د نولي ښه او خپل بد یاد کړل، نو ښځې ورته وویل چې دا د تادۍ مېوه وه.

بیدپای وویل: چې دا د هغه چا مثال دی چې فکر نه کوي او د خپلو غرضونو او هیلو په پوره کولو کې چالاکي او تادي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاچا او فنزه مرغه

دابشلیم پاچا بیدپای فیلسوف ته وویل:

– د هغو میرځمنو مثال راته ووایه چې هرومرو باید یو له بله ځان وژغوري.

بیدپای وویل:

وايي چې د هند یو پاچا و چې فریدون نومېده او یو مرغه یې ساتلی و چې فنزه نومېده او فنزه یو بچی هم درلوده. دې مرغه او بچي یې ډېرې خوږې او ښې خبرې کولې، پاچا هم پردوی زړه ورکړی و، نو دا مرغان یې خپلې ښځې ته ورکړل او ورته یې وویل چې ښه پاملرنه یې کوه. د پاچا ښځې زوی وزېږاوه. د شاهزاده او د مرغۍ د بچي سره یو تر بله ډېره جوړه وه او دواړو به سره لوبې کولې. فنزه به غره ته تلله او دوی دواړو ته به یې ښې ښې مېوې راوړلې چې دوی به پرې ډېره ښه وده کوله. څه به یې شاهزاده ته ورکولې او څه به یې خپل بچي ته نو له دې کبله د پاچا نوره مینه هم د فنزه سره زیاته شوله او د دې قدر به یې کاوه. یوه ورځ فنزه مېوو پسې تللې وه، بچی یې د شاهزاده په غېږ کې په پړتکو شو شاهزاده ورته په قهر شو او په ځمکه یې وواهه او مړ شو. چې فنزه راغله ګوري چې بچی یې مړ پروت دی ډېره خپه شوه او ویې ویل: پاچاهان ډېر بد او بې وفا خلک دي افسوس دې د هغه چا په حال وي چې د دې بې همتو او ټيټو خلکو په صحبت او مجامعت خوښي کوي. دوی د هغه چا قدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عزت کوي چې مال ته يې په تمه وي او يا يې له علم څخه استفاده کوي او چې حاجت او اړه يې پوره شي نو بيا نه دوستي وي او نه وروري، نه احسان پېژني او نه ګناه عفوه کوي، او نه حق پېژني. دا هغه خلک دي چې کار يې ريا او بدکاري وي، خپله لويه ګناه ورته وړه ښکاري، او که دوی په مخالفت وړه ګناه هم څوک وکړي دوی ته لويه برېښي. دا پاچا بدبخت له دغه ډول خلکو څخه دی چې د خپل ملګري او ورور سره يې خيانت وکړ بيا يې نو پر شاهزاده ورټوپ کړل او سترګه يې پرې ړنده کړه او والوت په يوه ونه کې کښېناست. پاچا ته دا خبره ورسېده او ډېر خپه شو ويې غوښتل چې د دې مرغۍ نيولو ته چل جوړ کړي. نو نژدې ورته ودرېده، غږ يې وکړ او ويې ويل «زما له خوا تا ته امن دی راځه راکښته شه.»

فنزه ورته وويل:

– څوک چې ټګي کوي د خپلې ټګۍ په جزا ژر وي که پسته رسېږي. که په خپله ټګ ته جزا ورونه رسېږي نو لمسيو لمسيو ته خو يې رسېدونکې ده. ستا زوی زما زوی سره غدر وکړ ما هم مناسب عذاب ورکړ.

پاچا وويل:

– رښتيا چې زما زوی ټګي وکړه او د خپلې ټګۍ جزا وروررسېده نور نو زما او ستا په منځ کې نور څه نه شته. راځه نوره ته زما له خوا په امن يې.

– فنزه وويل نور مې په تمه کېږه مه، ځکه چې پوهان وايي چې له چا نه دي چې مړی وکړ بيا نو مه ورنژدې کېږه ځکه چې هر څومره ښه ورسره بيا وکړې ځای نه نيسي او بد ګوماني يې لا پسې زياتېږي نو ډار ترې په کار دی او ليرې والی ترې ښه دی. ماته له تاسو نه پوره درد راورسېده نور نو خدای پامان.

پاچا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– څه چې موږ وکړل او تا يې له موږ څخه جزا نه واى اخيستې او يا تا موږ سره لومړى غدر او خيانت کړى واى نو بيا تاته ډار په کار و اوس چې لومړى موږ ګناه وکړه نو ستا څه ګناه ده؟ او ولې پر ما باور نه لرې؟ راځه راشه زما له پلوه تاته امن دى.

فنزه وويل:

– کينه په زړه کې کلک ځاى نيسي اوپه ژبه هغه څه رښتا نه ويل کېږي چې په زړه کې وي. زړه پر زړه له ژبې څخه ښه پوهېږي نو زما زړه ستا په ژبه تصديق نه کوي او ستا زړه زما پرژبه.

پاچا وويل:

– کينه خو د ډېرو خلکو په زړه کې وي. ښه دا ده چې سړى په زړه کې کينې ته ځاى ورنه کړي او له زړه يې وباسي.

فنزه وويل:

– خبره خو همداسې ده، خو دا غلطه ده چې د وينو پورورى به خپله کينه له زړه وباسي او ترې وبه ګرځي. پوهان له ټکيو او چلونو څخه ډار کوي او ځان ساتي. ډېر دښمن وي چې پوه شي چې په زور خو کار نه کېږي نو د کسات اخيستلو له پاره خپل دښمن سره نرمي کوي تر څو چې خپل مطلب پوره کړي.

پاچا وويل:

– هوښيار او کريم د دوستانو او اشنايانو دوستي او اشنايي نه پرېږدي اګر که ډار هم ورپسې وي.

فنزه وويل:

– د هر چا له کينې څخه بايد وېره وشي خو د پاچاهانو له کينې څخه ډېره ويره په کار ده ځکه چې د پاچاهانو دين او قاعده کسات اخستل دي او له دې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر خوند اخلي او فخر ورباندې کوي. بله دا چې هوښيار د کينې په غلي کېدلو نه غولېږي، ځکه چې کينه لکه سکروټه داسي ده کله چې سکروټه لرګي نه مومي نو غلې پرته وي او چې لرګي پرې واچول شي بيا ترې لمبې پورته شي. همدارنګه د کينې را پاروونکی که هم پېدا شي بيا غلې نه پاتې کېږي، بيا نو په زاريو او عذرونو هم څه کار نه کېږي تر څو يې چې خپل سرنه وي ورپه خوله کړی. نو زما او ستا په منځ کې نور څه علاقه او اړيکه پاتې نه ده.

پاچا وويل:

– ته خو پوهېږې چې څوک چاته نه ضرر رسولای شي او نه ګټه هر څه د قضا او قدر پورې تړلي دي او لکه څرنګه چې څوک نه شي کولای چې څه پېدا او خلق کړي همدارنګه فنا کولای او هلاکولای يې هم نه شي نو نه زما زوی ملامت و او نه ته، دا ټول قضا او قدر دی نو بايد يو تر بله سره په ګناه ونه نيسو.

فنزه وويل:

– خبره خو همداسې ده لکه چې ته وايې خو حازم او وړاندې کتونکی بايد چې ډار له زړه ونه باسې خو بايد چې په قدر هم تصديق وکړي او پر حزم هم عمل وکړي او وړاندې فکر وکړي. زه وېرېږم چې څه دې چې په زړه کې دي هغه رنګه دې په خوله نه دي. زما او ستا خبره هم دومره وړه خبره نه ده، ځکه چې ستا زوی زما زوی وواژه او ما ستا د زوی سترګه ړنده کړه. ته غواړې چې زما په وژلو اوس خپله خوا سړه کړې او پر ما ځان ګران دی، نه غواړم چې ومرم. تر څو چې ستا خپل زوی ياد وي او زما خپل نو له زړونو څخه مو سره نه وځي.

پاچا وويل:

– په هغه چا کې خير او ګټه نه شته چې څه يې په زړه کې وي او له هغه نه ځان نه شي خلاصولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فنزه وويل:

– هغه څوک چې تله يې ژوبله وي او بيا هم ځي نو مالومه ده چې د تلې زخم به يې نور هم پسې وشړېږي. سړی بايد په زوره ځان په بلا ککړ نه کړي څوک چې د دښمن په خوله وغولېږي او له حزم څخه کار وانه خلي نو د خپل ځان لوی دښمن دی د قضا او قدر حال مالوم نه دی چې څه به کېږي خو بايد چې سړی حازم او مهال سنج وي ، خپل ځان ورک نه کړي. هوښيار زود باوره نه وي او چې د ژوند بله لار يې وي نو په ډار کې ژوند نه غواړي. زما مخه هم آزاده ده. پينځه خويونه دي چې سړی پرې په هر ځای کې بسيا او خوښ وي: چاته ضرر نه رسول ، ښه ادب ، څوک نه غولول، ښه خلق، په کار کې پوهه او مهارت. که څوک پر خپل ځان وډارېده نو کولای شي چې له مال ، اولاد او وطن څخه زړه صبر کړي ځکه چې عوض يې پيدا کولای شي خو ځان بيا نه پيدا کېږي. ډېر بد مال هغه دي چې د چا ښه پر نه کېږي، ډېره بده ښځه هغه ده چې د مېړه سره موافقت نه لري، ډېر بد اولاد هغه دی چې د مور پلار په خبره نه وي ډېر بد ورور هغه دی چې په ربړ او سختۍ کې د ورور په کار نه شي او ډېر بد پاچا هغه دی چې بې ګناه خلک هم ترې ډارېږي. [اوس که څه هم پاچا له ما سره د لطف او مهربانۍ لاره نيولې، زه اجازه غواړم چې د پاچا له حضوره رخصت شم، د مخ ياد يې د لمر سپوږمۍ په ښکلا کې او د مينې خاطره يې د سهار د ورمې په ملايمت کې ولټوم.

په دې ډول فنزه له پاچا سره خدای پاماني وکړه او ترې والوتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکاري او زمرۍ

دابشلیم وویل:

– د هغه چا مثال را ته بیان کړه چې د ځان د ساتلو له پاره د نورو ځورولو او کړولو ته زړه ښه کوي.

بیدپای وویل:

– د ژویو ځورولو ته یوازې جاهلان زړه ښه کوي، هغه چې د خپلو کړنو د عاقبت په فکر کې نه وي او په دې نه پوهېږي چې له بدو بد زېږي. په دې دې څوک نه غره کېږي چې د خپل بد عمل سزا ورته ژر نه ده رسېدلې، هغه څه چې باید وشي هغه کېږي. لکه په زمرۍ چې د ښکاري له لاسه وشول.

پاچا وویل:

– په زمرۍ څه وشول؟

بیدپای فیلسوف ځواب ورکړ:

په یو ځنګل کې یوه زمرۍ له خپلو دوو بچیو سره اوسېدله. یوه ورځ زمرۍ ښکار ته تللې وه، بچي یې یوازې وو. یو ښکاري پرې راپېښ شول د زمرۍ بچي یې ووژل او پوستکي یې ترې وښکل. زمرۍ چې دا حال ولید په چیغو او سورو یې پر خپل حال ژړل او له خدایه یې عدالت غوښت. په دغه ځای کې یو ګیدړ هم اوسېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دزمرۍ بدې ورځې یې ولیدلې د حال پوښتنه یې وکړه. زمرۍ ورته دخپلو بچیو د مړینې او د ښکاري د ظلم وویل.]

ګیدړ وویل:

– خوشي چیغې مه وهه او سر په خپل ګرېوان کې کښته کړه څه چې ښکاري ستا پر بچیو کړي تا هم د نورو بچي په همدې ډول خیرلي او داړلي دي، چې پر چا دې کول پر تا وشول اوس نو لکه نورو چې ستا په کړو صبر کاوه ته هم د ښکاري په کړو صبر کوه ځکه وایي: "مه کوه پر چا چې وبه شي پرتا " او چې څه کړې هغه به رېبې.

زمرۍ ورته وویل:

– واضح یې راته ووایه چې دا څه وایی؟

ګیدړ وویل:

– خوراک دې څه و؟!

زمرۍ وویل:

– د وحشیانو غوښې.

ګیدړ وویل:

– چا د وحشیانو غوښې درکولې.

زمرۍ وویل:

– په خپله مې ښکار کاوه او غوښې مې خوړلې.

ګیدړ وویل:

– د هغو وحشیانو مور او پلار نه وو چې تایې غوښې خوړلې؟

زمري وویل: هو وو.

ګیدړ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– هغو هم دغسې چېغې وهلې او که دا ته يې وهې؟ چې د نورو په ضرر او ظلم راضي وې نو اوس په خپله هم په پراخ وچولي د خپل عمل مکافات زغمه او چيغې مه وهه!

چې زمری د ګيدړ خبره واورېدله نو په خپله ګناه پوهه شوه او ويې ويل چې دا زما د خپل عمل جزا ده چې را رسېږي نو بيا يې ښکار پرېښود او په مېوو او عبادت يې خپل ژوند تېراوه.

کله چې يوې پوختکې وليدل چې زمری اوس له غوښو خوړلو څخه لاس اخيستی دی او مېوې خوري نو ورته يې وويل:

– ما ګومان کاوه چې سږ کال ګوندې ونې مېوه کمه نيولې ده دا خو ته يې چې خپل رزق يانې غوښې خوړل دې پرېښي او زموږ په رزق کې دې ځان را شريک کړی دی. خواره شې چې خپل رزق پرېږدې او زموږ په رزق ځان راګډوې.

زمري چې د پوختکې خبره واورېدله نو له مېوو خوړلو څخه يې هم لاسونه ونغاړل واښه به يې بيا خوړل او خپل عبادت به يې کاوه.

دا مثال مې درته ددې له پاره ووايه چې پوه شې چې ناپوهه د خلکو له ضرر رسولو نه هغه وخت لاس اخلي چې په خپله ورته ور ورسېږي او مخکې تر مخکې يې ورته فکر نه وي او نه پوهېږي چې ضرر رسول ښه کار نه دی.

څوک چې څه د ځان له پاره نه غواړي نو نورو ته يې هم بايد چې ونه غواړي.

* * *

[بيدپای فيلسوف چې تر دې ځايه خبرې ورسولې پاچا غلی شو. بله پوښتنه يې و نه کړه. بيد پای وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– څه چې زما زده وو، د پاچا په امر مې د پاچا د پوښتنو په ځواب کې وویل. اوس که د پاچا اجازه وي یو عرض لرم.

دابشلیم وویل:

– ووایه، څه غواړې.

بیدپای وویل:

– دا کیسې چې ما یې د پاچا په حضور کې د بیانولو افتخار درلود، که نورو ته هم ورسېږي نو داسې به وي لکه د پاچا عمر چې زرګونه کاله نور هم اوږد شي، ځکه چې راتلونکي نسلونه به هم ترې پند واخلي.]

دابشلیم امر وکړ چې دا کیسې دې ولیکل شي او دده په کتابخانه کې دې وساتل شي.

نوشېروان چې له دې کتاب څخه خبر شو نو خپل وزیر اجمیر ته یې وویل چې یو سړی د دې کتاب راوړلو پسې ولېږه چې هم په پارسي پوه وي او هم په سانسکریت. په دې صفت سړی یې برزویه حکم پېدا کړ او هند ته یې ددې کتاب پسې واستاوه. هغه حیله وکړه ، کتاب یې له سانسکرت څخه را نقل کړ او په فارسي یې وژباړه. په اسلامي دوره کې همدا د برزویه کتاب بیا عبد الله بن مقفع په عربي ژبه ترجمه کړ او فایده یې ډېره شوه.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک

زمرى او غوايي............ ۱
كوډ كوډى كوتره............ ۵۱
كونګان او كارغان............ ۶۲
بيزى او شمشتى............ ۷۵
پردېسي او زرګر............ ۸۷
سلار، بيلار او ايران دخت............ ۹۷
شيخ ګيدړ............ ۱۰۸
شاهزاده او ملګري يې............ ۱۱۹
موږک او پيشو............ ۱۲۶
لمانځي او نولى............ ۱۳۱
پاچا او فنزه مرغه............ ۱۳۴
ښكاري او زمرى............ ۱۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلیلې او دمنې تعریف مې ډېر اورېدلی و خو پوره مې نه وه لوستې. دا لومړی ځل دی چې پښتو ژباړه یې لولم. ژباړه یې ډېره سلیسه او د پښتو د اوسنیو نثرونو په شان ده، یعنې د پخوانیو متکلفو نثرونو اثر ورباندې پروت نه دی چې تر مطلب یې (وپوهېدې) ډېر وي. ممکن دغې ازادې ترجمې به د ژباړې متن توږلی او کوچینی کړی وي. دغه کار اثر له اوسنی زمانې سره برابر کړی او د دې زمانې د خلکو د لوستو وړ یې ګرځولی دی. زه محترم منلي صاحیب ته د دومره ښې ژباړې او د زباړې لباره د دومره ښه انتخاب مبارکي وایم او په لوستونکو زړه ور غږ کوم چې تاریخ تېر اثر نه لولئ، بلکې داسې اثر لولئ چې د اخلاقو او ښکلا په څېر د هرې زمانې خلکو ته اهمیت لري. کلیله او دمنه د اخلاقو او ښکلا یوه سرچینه ده.

استاد محمد صدیق پسرلی

Design by: Assadullah Khan Amarkhail

دریم چاپ

The Book City
شهر کتاب
کتاب ښار
پوهه لا هم کتاب کې ده
Knowledge is Still in Books

۱۳۹۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**